د افغانستان اسلامي جمهوریت
د لوړو زده کړو وزارت
سلام پوهنتون
د شرعیاتو پوهنځی
د فقهي او قانون څانګه
د ماسترۍ بورد

# د نسل تنظیم او تحدید د شریعت په رڼا کې

(د ماسترۍ رساله)

څېړونکی: عبدالله (مدنی)
لارښود استاد: داکتر شیرعلي (ظریفي)

کال: ۱۳۹۷ هـ ش، ۱۴۳۹ هـ ق

د افغانستان اسلامي جمهوریت

د لوړو زده کړو وزارت

سلام پوهنتون

د شرعیاتو پوهنځی

د فقهې او قانون څانګه

د ماسترۍ بورډ

# د نسل تنظیم او تحدید د شریعت په رڼا کې

## (د ماسترۍ رساله)

**څیړونکی:** عبدالله (مدنی)

**لارښود استاد:** ډاکټر شیرعلي (ظریفي)

**کال:** ۱۳۹۷ هـ ش، ۱۴۳۹ هـ ق

بسم الله الرحمن الرحیم

# پوهنتون سلام

## پوهنځی شرعیات وقانون

### دیپارتمنت فقه وقانون

### بورد ماستری

# تـــصدیق نــامــــه

محترم عبد الله ولد عبد الوکیل ID نمبر Sh-msf-93-006 (از دور اول فقه وقانون) از پـایان نـامه ماسـتـری خـویش زیرعنـوان: د نسـل تـنظیم او تحدید د شـریعت په رنـا کی بـه روز چهارشنبه تاریخ ۹ / ۸ /۱۳۹۷ هـ ش موفقانه دفاع نمود، و از نظر هیأت ژوری مستحق 90 (نمره به عدد ) نود نمره (نمره به حروف) گردید، موفقیت شان را از الله متعال خواهانیم.

امضاء اعضای هیأت ژوری:

| شماره | نام استاد | عضویت | امضاء |
|---|---|---|---|
| ۱ | دکتور رفیع الله عطاء | عضو هیأت | |
| ۲ | دکتور عبد الله حقیار | عضو هیأت | |
| ۳ | دکتور شیرعلي ظریفي | رهنما ورئیس جلسه دفاعیه | |

معاون علمی ..........................

آمر بورد ماستری ..........................

# ډالۍ

**خپله دغه هڅه!**

ګران او مهربان پلار او ګرانې مور ته الله رب العزت دې د دوی هغه زيار او زحمتونه قبول کړي چې زه يې ددين علم ته وهڅولم، د علم په طلب کې يې راســــره مرســــته وکړه او ماته يې د اخلاص دعاوې کړي. الله رب العزت دې دوی ته په دنيا او آخرت کې نيکه بدله ورکړي، او همدا رنګه دا رساله خپلو قدرمنو مشايخو هريو شيخ المحدثين والعلماء مولانا عبدالسلام رحمه الله او سيدالاذکياء فقيه العصر دکتور بشيراحمد «المدنی» د امت حياته الطيبه ، ذات کبريا دې د دوی درجې لوړې کړي، او الله دې ما د دوی له علومو څخه نور هم برخمن کړي، يقيناً د دوی هڅه ده چې زه دې مرحلی ته رسيدلی يم.

په ډېره مينه او اخلاص ډالۍ کوم.

عبد الله (مدنی)

.

# مننليک

زه لومړی له خپل خالق مالک رازق او مربي الله رب العزت څخه مننه کوم، چې ددې موضوع په لیکنه کې یې ماته توفیق راکړ او ترڅنګ د لوړو زده کړو وزارت څخه ډیره مننه کوم، چې موږ ته یې په خصوصي پوهنتونونو کې د درس زمینه برابره کړه او بیا د سلام پوهنتون د مؤسیسینو څخه مننه کوم چې یاد پوهنتون یې د نړیوالو معیارونو سره برابر کړه بیا خصوصاً د شرعیاتو پوهنځی چې په سلام پوهنتون کې یوه امتیازي پوهنځی ده او همدارنګه د ماسټری بورډ څخه مننه کوم چې په نړیواله سطحه علمي کدرونه (استادان) یې و ګمارل،او موږ ته یې په لوړ کیفیت تدریس وکړ او زموږ علمي سویه پرې اوچته شوه بیا خصوصاً د خپل ګران او مشفق استاذ دوکتور رفیع الله «عطا» چې د ماسټری د بورډ مسئول او زما د رسالې مشاور استاذ دی او هم له خپل مهربان او ډیر مخلص استاذ دکتور شیرعلي «ظریفي» چې زما د رسالې لارښود دی او له ماسره یې د دې رسالې په څېړنه کې ډیر زیار ایستلی مننندو یم، الله تعالي دې د دوی زیار او هڅې قبولې کړې او الله (ج) دې ورته د نیکو اعمالو په تله کې حساب کړي په پای کې د ټولو هغو ملګرو څخه چې له ما سره یې د دې موضوع په لیکلو کې مرسته کړې ده، ځانګړې مننه کوم.

په درنښت

# د څېړنې خلاصه

دا چې اسلام د اصولو له لحاظه یو کامل او مکمل کړای شوی دین دی، نو د حیرانتیا خبره به وي چې یوه موضوع یا مسئله دې پیدا شي او د هغې حل دې په اسلام کې نه وي، چې د دا ډول مسایلو له جملې څخه یوه هم د نسل تنظیم او تحدید دی. او حاضر تحقیق هم د دې لپاره ترسره شوی چې د نسل د تنظیم په اړه څېړنه او بحث وشي او دې پوښتنې ته ځواب ورکړل شي چې د نسل تنظیم د شریعت له نظره او په واقعیت کې څه شی دی؟ تر څو واضح شي چې اسلام مطلق د تحدید خلاف دی او که نه؟ او که ځینې استثناآت لري؟

په دې کې شک نشته چې د علماوو ترمنځ دې اختلاف شتون ونه لري، ځکه د نسل د تحدید په اړه بېلابېل حدیثونه روایت شوي او مختلف نظریات وجود لري، چې ځینې علماء په مطلق ډول د نسل د تحدید مخالف دي چې استدلال د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په حدیث شریف کوي او وایي چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم ویلي دي چې تاسې له هغو ښځو سره نکاح وکړئ چې زیات اولادونه راوړي، ځکه د قیامت په ورځ به زه د خپل امت د ډېروالي له امله په تاسې ویاړم.

او دې ته ورته نور حدیثونه هم شته چې د اولادونو زیږول ترغیبوي او ځینې علماء بیا په نورو حدیثونو استدلال کوي او په دې اړه یو شمېر قواعد وضع کوي او وایي چې تحدید په مطلق ډول د اسلام د اصولو خلاف نه دی او دغه ډول نظر د متاخرینو علماوو د نظر څرګندونه کوي.

خو که چیرې واقعیت ته یو نظر وکړو او د طب له لحاظه ورته وګورو، نو یو شمېر پوښتنې رامنځته کېږي، لکه آیا د نسل تنظیم یا تحدید د ماشوم او مور پر روغتیا باندې ښه اغېزه لري او که ناوړه؟ که چېرې د نسل تنظیم او په دې اړه وضع شوي قواعد او اصول مراعات نه کړو، نو په راتلونکي کې به ماشوم له کوم ډول ناروغیو سره مخ شي؟ که چېرې د نسل تنظیم مراعات نه شي، نو د ماشوم مور ته به کوم زیانونه ورسېږي؟

همدارنګه که د نسل د تنظیم اغېزې له ټولنیز او فرهنګي پلوه وڅېړو، نو بیا هم ځینې پوښتنې رامنځته کېږي، چې په دې څېړنه کې د نسل د تنظیم په اړه یو شمېر پوښتنو ته ځواب ویل شوی چې اسلامي نړۍ ور سره مخ ده. په دې څېړنه کې د یو شمېر دیني علماوو نظرونه هم راوړل شوي، چې ځینې یې د نسل د تنظیم پلویان او ځینې یې مخالف دي.

**کلیدي کلیمې:** د نسل تنظیم، تحدید، شریعت، واقعیت، ماشوم، مور.

## لړلیک

موضوع..................................................................................صفحه
پیلیزه / مقدمه ...........................................................................1
د څېړنې لاملونه او ضرورت.............................................................2
د موضوع اهمیت .......................................................................3
د څېړنې اصلي پوښتنې :...............................................................3
په دې موضوع کې مخکنۍ لیکنې.......................................................4
د څېړنې ګړنلاره ........................................................................5
د موضوع د جوړښت پلان...............................................................6
هغه ستونزې چې د تیزس د لیکلو پر وخت ورسره مخ شوی یم.........................7
لومړی څپرکی...........................................................................8
د نسل د تنظیم او تحدید پیژندنه، حکم او لاملونه.....................................8
لومړی مبحث د نسل د تنظیم معنی .....................................................8
لومړی مطلب: د نسل د تنظیم لغوي معنی ..............................................9
دویم مطلب: دنسل دتنظیم اصطلاحي معنی .............................................10
دریم مطلب: دنسل ډیربښت اود نسل تنظیم.............................................12
څلورم مطلب: د نسل د تنظیم شرعی حکم ............................................16
پنځم مطلب: د نسل د تنظیم اسباب.....................................................25
دویم مبحث: دنسل تحدید...............................................................26
اول مطلب: د نسل دتحدید لغوی او اصطلاحي معنی..................................27
دویم مطلب د نسل د تحدید تاریخي سابقه...............................................29
دریم مطلب – د نسل د تحدید فقهي حکم ..............................................33
څلورم مطلب: د نسل د تنظیم او د نسل د تحدید فرق..................................37
دویم څپرکی............................................................................40
د نسل د تنظیم لاري چاري ............................................................40
لومړی مبحث: عزل .....................................................................40
لومړی مطلب د عزل معنی ..............................................................41
دوهم مطلب: فقهی مذاهب د عزل په حکم کی..........................................42

دوهم مبحث: د نسل د تنظیم معاصری لاری چاری.......................................................48
لومړی مطلب: د معاصرو لارو چارو پیژندنه.......................................................48
دوهم مطلب د معاصرو لارو چارو حکم.......................................................57
درېیم مطلب: تعقیم او د هغه حکم .......................................................63
دریم مبحث: د حمل اسقاط.......................................................64
لومړی مطلب: دحمل داسقاط معنی.......................................................66
دوهم مطلب: د حمل د اسقاط ډولونه.......................................................66
درېیم مطلب: د حمل د اسقاط حکم (د حمل مختلفو مرحلو مختلف حکمونه): .......................72
درېیم څپرکی.......................................................84
د نسل تنظیم په نړۍ کې.......................................................84
لومړی مبحث: د نړۍ نفوس .......................................................84
اول مطلب:  د نفوسو وېش او وده.......................................................85
دویم مطلب: د نسل تنظیم په په پرمخ تللو هیوادونو کې.......................................................87
دویم مبحث: د نسل تنظیم په اسلامي هیوادونو کې .......................................................89
لومړی مطلب: په اسلامي هېوادونو کې د نسل د تنظیم احصایه.......................................................89
دوهم مطلب:  په اسلامي هیوادونو کې د نسل د تنظیم په اړوند د علماوو فتواګاني.................92
درېیم مبحث: د افغانستان د وګړو څرنګوالی .......................................................103
لومړی مطلب: په افغانستان کې د وګړو اوسنی وضیعت او بدلونونه.......................................104
دوهم مطلب: په افغانستان کې د نفوسو  ځانګړتیاوي او وړاندي ویل شوې بدلونونه .............105
درېیم مطلب: هغه څرګندوني چې د نوؤ ځوانانو د پالیسیو لپاره دیموګرافیک بدلونونه په برخه کې بدلونونه په بر کې نیسي .......................................................112
څلورم مطلب: په افغانستان کې ملاحظات او  هغه مداخلات چې لومړیتوب ورکړل شوی دی...113
پنځم مطلب: په افغانستان کې هغه پالیسۍ چې ملي پوښښ لري او له ځانګړو شرایطو سره سمون خوري .......................................................117
شپږم مطلب: د افغانستان د بعضو سیمو د بدلونونو ځیني نموني.......................................120
اووم مطلب: په افغانستنان کې د خطرونو او ملي زیانونو ارزونه .......................................121
څلورم څپرکی.......................................................124
د نسل د تنظیم موخي.......................................................124
لومړی مبحث: ځانګړی او فامیلی موخي .......................................................125

لومړی مطلب: د ماشوم روغتیا ته پاملرنه ..........................................................125
دوهم مطلب: کورنۍ مصلحت ته پاملرنه..........................................................129
دوهم مبحث: ملي موخي..........................................................130
اول مطلب: ټولنې ته سالم نسل وړاندې کول..........................................................130
دوهم مطلب: د میندو او ماشومانو د مړینې کمښت ..........................................................131
دریم مطلب: دټو لني نظم او سو کا لي ..........................................................133
دریم مبحث: داسلامی امت په سطحه موخی ..........................................................134
اول مطلب: داسلامی امت پیا وړتیا..........................................................135
دوهم مطلب: اسلام د اسانتیا (یسر) دین دی نه د مشقت (عسر) دین:..........................................................136
دریم مطلب: اسلام د اعتدال دین دی..........................................................137
څلورم مطلب: اسلام په ارزښت کیفیت ته قایل دی..........................................................139
پنځم مطلب: اسلام د پلان جوړولو دین دی ..........................................................140
پــــایــــــــله ..........................................................146
وړاندیزونه ..........................................................148
د اعلامو لړ لیک ..........................................................154
اخذلیکونه..........................................................156

# پیلیزه / مقدمه

إِنَّ الْحَمْدَ لله نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِيْنُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ وَنَسْتَهْدِيْه، وَنَعُوذُ بِالله مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنا وَمِنْ سَيِّئَاتِ أَعْمَالِنا مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَهُوَ الْمُهْتَدْ وَمَنْ يُضللْ فَلَنْ تَجدَ لَهُ وَلِيًا مُرْشِدً ا، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ.

وبعد :د حیرانتیا وړ نه ده چې اسلام کورنۍ د بشري ټولنو د جوړښت لپاره اساسي بنسټ بللی او ټینګار یې کړی چې له واده څخه وروسته د کورنۍ تشکیل د ښځې او خاوند یو لوی مسؤولیت دی. کورنۍ اړیکې په اسلامي قانون کې د سوکاله ژوند او سوکالۍ ته د لاسرسي لپاره د کورنۍ د غړو لپاره ځانګړیې شوې دي په ځانګړې هکله پراسلامي عقیدي، د ماشومانو پر حقونو د ټولنې د راتلونکي د جوړونکو او د راتلونکي د مدافعینو په توګه ډیر ټینګار شوی دی. د ځینو اوسنیو متفکرینو لپاره د حیرانتیا خبره داده چې اسلام څرنګه ډیره موده مخکې هغه مهال چې نړۍ د نفوس د کثرت ستونزه نه وه تجربه کړې، د ولادتونو ترمنځ د واټن ورکولو مسئلې او د کورنۍ تنظیم ته پاملرنه کړې ده. صحابه کرامو (رضی الله عنهم) اجازه لرله چې د روغتیایي او ټولنیزو ستونزو د دفع کولو لپاره عزل وکړي. پرته له شکه هغوی د خدای ج په قدرت کې ټولو مخلو قا توته د رزق د برابرولو کې تردید نه درلود او نه هم له قضا او قدر او یا پر خدای ج له توکل څخه منکر وو.

د اسلام دا وړاندوینه باید د مسلمانانو لپاره حیرانونکې نه وي. ځکه هغوی پوهیږي چې اسلام یوازې د عبادت دین نه دی بلکې اسلام یو ټولنیز سیستم، یو فرهنګ او یو تمدن هم دی. د اسلام قانون تر ټولو قوانینو جامع او هر اړخیز دي ،چې ټولې اړتیاوې، فعالیتونه او د بشر اندیښنې یې په پام کې نیولې دي. د اسلام قانون همدا راز خپلو پیروانو ته د نسل د تنظیم موضوع او یا د مور روغتیا له عینیت او همدردۍ سره په پام کې نیولې ده. له دې امله چې اسلام د اسانتیا دین دی نه د کړاو او سختۍ او هم دا چې اسلام د مخکیني پلان لرل د ټولو فردي او ټولنیزو چارو لپاره اړین بولي، نو د اولادونو د لرلو او د ولادتونو ترمنځ د فاصلې پلان لرل هم له دې امر څخه مستثنا نه دي.

مګر دا موضوع هیڅکله هم د دې لامل نه ګرځي ترڅو شخص د هغه شي مطابق چې د هغه لېوالتیا ده، عمل وکړي او نه هم د تولد او تناسل په پروسه کې مداخله وکړي. دا موضوع او همدا راز یو حدیث چې د ځینو علماو له لوري داسې تفسیریږي چې ګویا د ولادتونو ترمنځ واټن ورکول یې منع کړي دي، په داسې حال کې چې د ولادتونو ترمنځ د واټن ورکولو په اړه بحثونه او څیړنې یې ډیرې پارونکې کړې دي. د حضرت محمد ص له وخت څخه تر اوسه د ۱۴ پیړیو په ترڅ کې، د اسلامي فقهې باوري کتابونه د عزل په اړه ، چې په څو کرښو، په څو پراګرافونو او یا په مشرحه توګه په یوه فصل کې.بحثونه لري دنسل تنظیم په ښکاره توګه په جوماتونو، دیني ټولنو اویا علمي انستیټوټونو کې تر بحث لاندې نیول کیږي. څرنګه چې د نسل تنظیم یوه اختلافي موضوع ده ، نو ما دغه رساله (دنسل تنظیم اوتحدید دشریعت په رڼا کی) تر عنوان لاندې ولیکله، ترڅو معلومه شی چې د نسل تنظیم اوتحدید څه معنی ده او څه حکم لري، دغه تنظیم کله روا او کله ناروا دی؟ د دې لارې چارې څه دی؟ په نړۍ کې څه پایلې او موخې لري؟ نود دغې رسالې په ترڅ کې غواړم چې دغه موضوع د شریعت او واقعیتونو له مخې روښانه کړم.

## د ځيرنې لاملونه او ضرورت

1. د نسل تنظيم د انسان د ژوند سره تړلې موضوع ده او همدارنګه نسل د آبادۍ سبب دی او د شريعت له مقاصدو څخه ګڼل کيږي.

2. د نسل تنظيم ارزښت مخکې بيان شو، خو زه غواړم دغه موضوع د شريعت او واقعيت په رڼا کې دلته وڅيړم، او خپلو هيوادوالو ته يې په داسې ښه وړاندې کړم چې تر دې مخکې داسې چا نه وي وړاندې کړي، که څه هم تر دې مخکې ځينې مقالې علماوو کښلي خو هر اړخيز معلومات يې نه دي وړاندې کړي.

3. زموږ ګران هيواد افغانستان کې ځينې داسې بې تحقيقه مفتيان شتون لري چې وايي د نسل تنظيم د غرب فکر دی او حرام دی. نو ما وغوښتل چې دغه موضوع په ښه توګه و څيړم او دا په ډاګه کړم چې شريعت ورته تر کومې اندازې جواز ورکړی دی.

4. بله داچې زمونږ هروګړی د زيږون په باره کې يو منظم پلان ولري تر څو وکولی شي خپلې ټولنې ته يو سالم او صحتمند بچی چې د الله خليفه په ځمکه بلل کيږی وړاندې کړي.

5. زمونږ هيوادوال اکثراً د اولاد د زياتوالی په فکر کې دي، البته د کيفيت او ددې د سالمې تربيې په اړه يې فکر نه کوي، نه يې د جامو په فکر کې دي او نه هم د هغوی تعليم او صحت ته پام کوي. نوغواړم چې دغه بحث کې د اولاد د سالمې تربيې ميتودونه هم ذکر کړم ترڅو زمونږ هيوادوال د ناپوهۍ د تيارو ووزي او زمونږ ټولنه د فساد غلا او نورو بدبختيو څخه په امان شي. دا موخه هله پوره کيږي، چې د بچي سالمه تربيه وشي او د تعليم او تربيې کچه لوړه شي او جهل او ناپوهي لرې شي او د علم رڼا په هيواد کې خوره شي.

## د موضوع اهمیت

د پخوانیو فقهاو د نسل تنظیم د ځانګړې موضوع په توګه نه ده څیړلې او نه یې په دې اړه مستقل بحث کړی، لکه څرنګه چې د تجربوي علم پرمختګ کوي، نو د نسل تنظیم موضوع د څیړنه په نوې بڼه دا اړینه بولم، چې په دې برخه کې ډېر بحث وشی او پرهره برخه یې څیړنه وشي. د اسلام مبارک دین پدې برخه کې ډېر پام کړی او پر دې موضوع یې منظم قانون بیان کړی دی. لکه په شیدو کې د ماشوم حق، د مور صحت او داسی نور مسایل چې راتلونکې بحث کې به روښانه شي.

د ماشوم زیږیدنه د دنیا ښایست او د انسان د فطري خوشحالی سبب دی، په کوم کور کې چې ماشوم نه وي هغه کور د ښایست او له فطري خوښی څخه بې برخې دی. ماشوم سره مینه محبت او شوق جذبه د انسان په فطرت او طبیعت کې پرته ده، په ځانګړې ډول په میندو کې دا ډول مینه ډېره ده.

د نسل تنظیم لپاره اړینه ده چې زیږون په یو منظم پلان ترسره شي، او په دې برخه کې ډېر رعایت او ځانګړی اهتمام وشي، هغه دا چې پرلپسې کال په کال زیږون څخه ډډه وشي، او د زیږون ترمینځ اړینه ده، چې واټن شتون ولري.

- تر دې چې د ماشوم رضاع هغه شرعي نیټه چې دوه کاله ده پوره شي.
- د ماشوم حقوق په پام کې ونیول شي ځکه د ماشومتوب مرحله کې ماشوم د مور او پلار پالنې ته محتاج وي او بیا په ځانګړې ډول د مور پالنې ته، نو مور باید د ده ټول ضروریات پوره کړي او پرلپسې زیږون کې مور نشي کولی د خپل ماشوم ښه پالنه وکړي.
- ډېر زیږون او امیدواري د مور صحت ته ډېر زیان رسوي او مور د ډېرو مهلکو ناروغیو سره مخامخ کوي، آن تر دې چې د مرګ لامل یې وګرځي.
- بله داچې ماشوم خپله پوره غذا او مواد د مور د جسم نه حاصلوي خو چې کله د مور جسم کمزوری وي نو بیا ماشوم دغه غذا او مواد کوم ځای څخه حاصل کړي؟ دا موضوع ځکه ډېره اړینه ده چې انسان د ژوند او صحت او همدارنګه ښوونې او روزنې سره اړیکه لري.

د نسل تنظیم هیڅکله د تحدید معنا نه ورکوي، ځکه تحدید او بندول په شریعت کې منع دي.

## د څیړنې اصلي پوښتنې :

۱.د نسل بندول په دایمی توګه په فردی لحاظ اواجتماعی لحاظ دا روا دي اوکه ناروا؟

۲.د زیږون په مینځ کی واټن په مؤقت ډول څه حکم لری؟

۳.دنسل تنظیم څه موخي مور، بچي، او ټولنط، ته لري؟

۴. په افغانستان کي دوګړو څه حالت دي او کومه طرحه اړینه ده؟

دغه پوښتنئ اودیته ورته پوښتنوته په دغه څیړنه کي په تفصیل سره جواب ویل شوي؟

## په دې موضوع کې مخکنۍ لیکنې

شرایطو ته په کتو سره دا موضوع ډیره مهمه ده ځکه چې د انسان ژوند سره اړیکه لري، بله دا چې دا معاصره موضوع نه ده، بلکې دا موضوع ډیره مخکینی او تاریخي پس منظر لري. تاریخ ته په کتو سره داسي قبیله نه ده تیره شوې چې د حمل د بندیدو چاره یې نه وي کارولې، هرې قبیلې د حمل بندول د خپل نظر او عقیدې مطابق پیژانده. لکه بعضو د تعویذونو او جادو او بعضو د زهر د استعمال له مخې پیژانده.

دغه حرکت او خوځښت ډیر له پخوا څخه شروع دی او پخوانیو قبایلو به د نسل د بندش لپاره په مختلفو طریقو استعمالوه1. ځکه بعضې آثار پاتې دي له مصر قدیم څخه چې نسل ختموي چې تقریبا ددې تاریخ ۱۹ قرنه مخته له میلاد څخه سابقه لري. چې اوبدل شوې ټوټه وه چې د نسل د بندش لپاره په مهبل کې د پردې په توګه استعمالیدله. او اکسیا یو قسم بوټی او نبات دی چې په هغې به یې رنګوله او د څیرنو نه وروسته دا څرګنده شوه چې دغه بوټی منوي حیوانات مړه کوي. مخکې له دې چې مني د ښځې بویضې ته ورسیږي2. د علم اجتماع علماو څرګنده کړې ده چې د نسل د تحدید نظریه پخوا څخه مشهوره وه د اغریق، یونان قدیم او چنایانو له زماني څخه[3].

او همدارنګه د عربو په نزد هم د جاهلیت په زمانه کې په مختلفو طریقو سره د نسل د تحدید نظریه موجوده وه.

که چیري موږ د فقهي پخوانیو کتابونو ته متوجه شو، هلته د نسل د تنظیم او تحدید اصطلاح ګاني نشو پیداکولی، ځکه دا معاصرې اصطلاح ګاني دي. البته دغه مفهوم په احادیثو او د فقهي په کتابونو کې د عزل په لفظ سره ذکر شوی. اوس چې دا موضوع څومره اهمیت لري او څومره تاریخي سابقه لري او چا پدې کې لیکنې کړې، د دې لړۍ په ترڅ کې یو نامتو عالم محمد ابو زهره لیکنه کړې، چې د کتاب نوم یې «تنظیم‌الاسرة و تنظیم‌النسل» دی. چې دغه عالم په خپل کتاب کې قوانین بیان کړي او یادې موضوع ته یې بلنه ورکړې ده، او بله دا چې دغه موضوع په عربي هیوادونو کې څرنګه پیدا شوه. اړوند موضوع کې نړیوال قوانین هم ذکر کړي، او د دې موضوع شرعي حکم ډیر په باریکۍ سره ذکر شوی. همدارنګه په یاده موضوع د معاصرو علماوو څخه یو لوی محدث عبدالعزیز الغماری المغربی لیکنه کړې، چې د کتاب نوم یې «تنظیم النسل فی الشریعة الاسلامیة» دی. د شرعي مسایلو ترڅنګ ځیني طبي مسایل یې هم پکې ذکر کړي، او په دې مورد کې دوکتور عبدالله الطریفی یو بل ډیر

---

[1] ابراهيم عبدالله، المسئلة السكانية قضية تنظيم الاسرة في بلدان العربي ص ٢٩ ط . ١٩٩٤ . بيروت المركز الثقافي العربي

[2] سالم، تنظيم النسل و تحديده و موقف الشريعة الاسلام منه، ص ١٢٩ - ١٣١

[3] مجلة المجمع الفقه الاسلامي ص ٢١٨ دار عبدالله ابن عبدالرحمان البسام عنوان تنظيم النسل و تحديده

مهم او تفصيلي كتاب ليکلی، چې د کتاب نوم يې «تنظيم النسل و موقف الشريعة الاسلامية» دی، او دوکتور يوسف قرضاوی هم په خپل مشهور کتاب «الحلال والحرام فی‌الاسلام» کې په اړوند موضوع ډېر مفيد بحث کړی او همدارنګه شيخ محمود شلتوت ډېر عجيب کتاب په دې موضوع ليکی، چې نوم يې «حکمة الشريعة الاسلامية فی‌تنظيم النسل» دی. که څه هم د ياد کتاب نسخې د خلکو لاسته نه دي رسيدلې، بل کتاب چې نوم يې «موقف الشريعة الاسلامية من تنظيم النسل» چې د ماسترئ رساله ده. ليکونکی الزين يعقوب الزبير دی. بل دغه بحث په «مجلة مجمع الفقه الاسلامی الدورة الخامسه» شوی. بل ډير مفيد کتاب په اړوند موضوع کې سعد جميل سليم الريس د خپل د ماسترئ رساله چې د فلسطين د غزې په پوهنتون کې دفاع شوې، چې نوم يې «النسل حفظه و تنظيمه» دی. او داسې نور... الله دې دوی ته نيکه بدله ورکړي.

خو څرنګه چې د نسل د تنظيم موضوع په افغانستان کې په پښتو ژبه او د دې هيواد د واقيعتونو په اساس چا ليکنه نه ده کړې، نو د الله په مرسته دغه ميدان زما رساله يوه نوې څېړنه ده، چې د يادې موضوع ډېر مهم مسايل څېړل شوي دي، کيدای‌شي زما څخه وروسته نور څېړونکو په نورو اړخونو رڼا واچوي او څېړنه وکړي

## د څيړنې ګړنلاره

په دې څيرنه کې له تحليلي توصيفی ډول څخه استفاده شوې ده چې د څيړنې د ښه تحليل او معتبر والي په خاطر له مختلفو کتابونو، مجلو، مقالو، انټرنيټي سياټونو او معتبرو مراجعو څخه استفاده شوي ده.

**د څيرنې اهداف**

۱.دنسل تنظيم اوتحديد يو اختلافی مسله ده په خاصه توګه د نسل تحديد، زما هدف ددې موضوع هر اړخيزه وضاحت دي؛

۲.په پښتو ژبه کې ياده موضوع دماسترې د رسالی په کچه معتبر کتاب موجود نه وه نوما وغوښتل داسې معتبر کتاب پکې وليکم تردې چه داستفادې قابل وي؛

۳.زموږ ګران هيواد افغانستان کې ځينې داسې بې تحقيقه مفتيان شتون لري چې وايی د نسل تنظيم د غرب فکر دی او حرام دی. نو ما وغوښتل چې دغه موضوع په ښه توګه و څېړم او دا په ډاګه کړم چې شريعت ورته تر کومې اندازې جواز ورکړی دی؛

۴. بله داچې زمونږ هر و ګړی د زيږون په باره کې يو منظم پلان ولري تر څو وکولی شي خپلې ټولنې ته يو سالم او صحتمند بچی چې د الله خليفه په ځمکه بلل کيږی وړاندې کړي.

۵. زمونږ هیوادوال د کیفیت په فکرشي او د اولاد د سالمي تربیي میتودونه زده کړي ترڅو زمونږ هیوادوال د ناپوهۍ د تیارو ووزي او زمونږ ټولنه د فساد او نورو بدبختیو څخه په امان شي

## د موضوع د جوړښت پلان

دا تحقیق په یوه پیلیزه (مقدمه) او څلورو څپرکو کي تکمیل شوی ده؛

پیلیزه (مقدمه)؛

د څیړني لاملونه او ضرورت؛

د موضوع اهمیت؛

د څېړني اصلي پوښتني؛

په دې موضوع کي مخکي لیکني؛

د څیړني کړنلاره؛

د موضوع د جوړښت پلان؛

د څېړني ستونزي؛

لومړی څپرکی

د نسل د تنظیم او تحدید پیژندنه، حکم او لاملونه؛

لومړی مبحث: د نسل د تنظیم معنی

دویم محبث: د نسل تحدید

دویم څپرکی: د نسل د تنظیم لاري چاري

لومړی مبحث: عزل

دویم مبحث: د نسل د تنظیم معاصري لاري چاري

دریم مبحث: د حمل اسقاط

درېیم څپرکی: د نسل تنظیم په نړۍ کي

لومړی مبحث: د نړۍ نفوس

دویم مبحث: د نسل تنظیم په اسلامي هیوادونو کي

درېیم مبحث: د افغانستان د وګړو څرنګوالی

څلورم څپرکی: د نسل د تنظیم موخي

لومړی مبحث: ځانګړي او فاملي موخې

دويم مبحث: ملی موخې

درېيم مبحث: د اسلامی امت په سطحه موخې

پايله

وړانديزونه

لړليکونه (د قرآني، د احاديثو او اعلامو)

**هغه ستونزې چې د تيزس د ليکلو پر وخت ورسره مخ شوی یم**

- زما د بحث لويه ستونزه په پښتو ژبه کې د مراجعونشتون.
- دلويو کتابتونونو کموا
- اقتصادی ستونزې

# لومړی څپرکی

## د نسل د تنظیم او تحدید پیژندنه، حکم او لاملونه

### لومړی مبحث د نسل د تنظیم معنی

ځینې جوړې ودونه وکړي؛ خو نه د واده په سر او نه د ازدواجي ژوند په منځ کې د ماشومانو د راوړلو د ترتیب په هکله څه تدبیر نیسي، که اولادونه یې پرلپسې ډول پیدا شول، لږ شول او که زیات شول، د ده د مادي او روزنیزو ظروفو سره سم وو او که د هغوی پر خلاف، د مور او ماشومانو صحت که خوندي وو او که تهدید، که ماشومانو ته له رواني، تعلیمي او اخلاقي اړخه رسیدنه کیدله او که نه، دې ټولو ته په نه پام کولو سره د ماشومانو راوړلو ته د زیږون نه تنظیم ویل کیږي؛ ځکه داسې جوړې د زیږون د تنظیم لپاره هدف نلري، د دوی عمل د دې شعار مطابق دی چې وایي: هر چه پیش آید خوش آید.

خو که یو څوک د واده په سر کې او یا د ازدواجي ژوند په اوږدو کې پورتنیو ظروفو ته په پام لرلو د ماشومانو د راوړلو لپاره یو مقطعي پلان ولري، د بیلګې په توګه داسې تدابیر غوره کړي، چې د اولادونو په منځ کې باید درې کاله وقفه موجوده وي، او یا هر اړخیز پلان ولري، لکه ټاکل شوی تعداد بچیان په ټاکلو وختونو کې راوړل په پام کې ولري؛ نو داسې جوړې د زیږون تنظیم ترسره کوي.

هغه تدابیر چې د زیږون د تنظیم په هکله کارول کیږي یو یې عزل دی، چې د انزال په وخت کې نارینه خپل مني له فرج څخه بهر توی کړي، بل یې د طبي لارو چارو کارول دي چې په هغو کې د تابلیتو، ستنو او یا هم دد اطباوو په مشوره د نورو طریقو کارول دي. (1)

1- مجلة الفقه الاسلامی الدورة الخامسه لمؤتمر محمع الفقه الاسلامی عدد ۵، ص ۳۶۵، سنه ۱۹۹۸، الکویت.

## لومړی مطلب: د نسل د تنظیم لغوي معنی

لکه څرنګه چې د نسل تنظیم د دوو کلمو څخه جوړه شوی، نو اړینه ده چې د هرې کلمی جلا معنا څرګنده شي.

- **د نسل لغوی معنی:** نسل عربي کلمه ده چې معنی یې ((الخلق والولد والذریة )) ده اود پیدایښت بچي ، اولاد معنا ورکوي، لکه عرب وایي ((تناسل بنو فلان اذا کثراولادهم )) دا جمله دوی هغه وخت کاروي کله چې یو څوک ډیربچیان وزیږوي، همدارنګه عرب وایی: ((تناسل ای ولد بعضهم من بعض)). بچي یې وزیږول [1].نو نسل په لغت کي دزیږون معنی ورکوي .
- **د تنظیم لغوی معنی:** تنظیم دتفعیل له باب څخه مصدر دی او د((ن ، ظ ،م))، له ریښې نه دي،
- چې په عربي ژبه کې، د تعدیل، ترتیب او برابرولو معنا ورکوي . لکه څرنګه چې عرب وایي: ((ضممت بعضه الی بعض[2])) ځیني مې له ځینو نورو سره پیوست کړل همدا رنګه عرب وایي ((نظمت اللؤالؤ ای جمعته فی السلک)) ملغلرې می په تار کې و پیيلې، د نسل د تنظیم پورتنی لغوي معناګاني ټولې نوی اصطلاح ګاني دي چې دعزل په معنی کارول کیږي، او یو له بل سره کوم توپیر نه لري، بلکې اوسنی اوپخوانی معناګانې دواړه دیوې موخې لپاره کارول کیږي.[3]

---

[1]- محمد بن مكرم بن على، أبو الفضل، جمال الدين ابن منظور الأنصاري الرويفعى الإفريقى(المتوفى: 711هـ). لسان العرب، فصل نون ماده ن، س، ل، ج ١٢، ص ٥٧٨، بيروت لبنان: الناشر: دار صادر – بيروت الطبعة، ١٤١٤.

[2]مجد الدين محمد بن يعقوب الفيروزآبادي المتوفى سنة 817 هـــ، قاموس المحیط، فصل نون، ماده، ن، ظ، م، ج ۴، ص ١٨١، الناشر: مؤسسة الرسالة للطباعة والنشر والتوزيع، بيروت – لبنان، الطبعة: الثامنة، 1426 هـ - 2005 م.

[3] زين الدين أبو عبد الله محمد بن أبي بكر بن عبد القادر الحنفي الرازي (المتوفى: 666هـ)، مختار الصحاح، فصل نون، ماده ن، ظ، م، ص ٢٧٨، الناشر: المكتبة العصرية - الدار النموذجية، بيروت – صيدا.

### دویم مطلب: دنسل دتنظیم اصطلاحي معنی

د یو هر اړخیز او یا موقت پلان پر بنسټ، د خپلو حالاتو او غوښتنو سره سم دنیا ته د ماشوم راوړلو تدبیر نیولو ته د زیږون تنظیم ویل کیږي. او یا کورنی تنظیم داسي یو تفکراو باور دي چې مور او پلار په خپلې خوښې سره دېته وهڅوي چې د خپلو هغو ماشومانو ترمنځ چې اراده یې لري او په طبیعی ډول پیدا کیږي فاصله رعایت کړي. ([1])

### نسل د تنظیم په اصطلاحي معنا کې د علماوو نظرونه:

- ابن باز رحمه الله[2] تعالی وایي: د ښځې اوخاوند په خوښه د مصلحت له مخې د یوې ټاکلې مودې لپاره، پرته له خصي کولو او شنډولو د حمل بندولو په موخه د ځینو وسایلو کارولوته د نسل تنظیم ویل کیږي .[3]
- د ښځې او خاوند په موافقه چې دوی مناسب ګڼي د یو څه وخت لپاره دحمل بندلو لپاره د مشروعو وسایلوکارول چې موخه یې روغتیا ، اقتصاد او د ټولنې مصلحت وې د نسل تنظیم بلل کیږي.[4]
- دوکتور محمد عقله وایی: د نسل تنظیم دحمل دبندولو لپاره یوموؤقت پلان دی چې په فردي اوشخصي عمل سره تر سره کیږي چې موخه یې دضرر له منځه وړل او د قوي نسل راوړل وي .[5]

---

[1]- اړوندي موضوع باندې د دکتور شیرعلي ظریفي له لیکل شوې مقالې څخه .

[2] عبدالعزیز ابن عبدالله ابن عبدالرحمن آل باز تولد فی الریاض سنه ۱۳۳۰ هـــ ق تولی عده مناصب فی حیاته منها رئیس المجلس التاسیسی فی رابطه العالم الاسلامی، و رئسی مجمع الفقه الاسلامی و رئیس هئیته کبار العلماء و المفتی العام للملکه العربیه السعودیه حتی و فاته توفی الشیخ العلامه ابن باز عام ۱۲۴۰ هـ ق.

[3]- عبدالعزیز ابن باز او نور، د اسلامی بحثو مجله. لومری شمیره، ط ۲، ص۱۱۴، کال ۱۹۷۵م سعودی .

[4]- د اسلامی فقهې مجلې ۵ دوره د اسلامی فقه د مجمع مجلس شمیره ۵ ص ۶۱۶، کال ۱۹۸۶م، کویټ.

[5]- دوکتور محمد عقله (نظام الاسره فی الاسلام) د الرسالة الحدیثه مکتبة ، عمان ط ۲ ص ۱۱۶ ، کال ۱۹۸۹م.

- دکتورمحمدعمران وايی: له روغتيايي او ټولنيزو ستونزو څخه د خلاصون په موخه د ولادتونو د تنظيم په خاطر او د ماشومانو او ټولنې پر وړاندې د مسووليتونو د ډېر ښه تر سره کولو په موخی د ښځې او خاوند په وسيله د ولادتونو ترمنځ د واټن ورکولو ته دنسل تنظيم وايي([1]).
- دنســل تنظيم داســي يو تفکر او باور دی چې مور او پلار په خپله خوښــه دېته هڅوي ترڅو د خپلو هغو ماشومانو ترمنځ چې اراده يې لري او په طبيعی ډول پيدا کيږي فاصله رعايت کړي.([2])

## د تعريفونو لنډيز  او پايله

**۱-** د نسل تنظيم اجباری بڼه نلري بلکې اختياري موضوع ده.

**۲-** د دنسل تنظيم بايد د مور او پلار دواړو په رضايت سره را منځ ته شي، ځکه چې تناسل د واده اصلي موخه ده، مور او پلار دواړه په دې موخه کې ګډ حق لري، نو له دې کبله يو لوری په يوازيتوب سره نشي کولای چه  دنسل د تنظيم پريکړه وکړي.

**۳-** دنســـل تنظيم يوازې پر وســـايلو د زيږون مخه نيول نه دي، بلکې يو مفکوره او باور دی چې کورنی يې د ميندو او ماشومانو د سالم روغتيا او داسي نورو موخو لپاره کاروي.

**۴-** د نسل له تنظيم څخه هيڅکله هم د نسل قطع کول مراد نه دي، بلکی د هغو ماشومانو ترمنځ تنظيم او ترتيب دی چې په طبيعي توګه پيدا کيږي او والدين يې غواړي چې د بېلابېلو مشروع او معقولو دلايلو له امله يې تر منځ واټن راولي. په خاطر تنظيم او ترتيب راولي.

[1] ډاکټر عبدالرحيم د الازهر د ځيړنو د نړيوال مرکز  ستر سلاکار د مريلند په پوهنتون کې د نفوسو او روغتيا د پروګرامونو رئيس، په امريکا کې د جورج واشــنټن په پوهنتون کې د روغتيائي مراقبت، د علومو پروفيســور په اســلام آبادکی ، دکورنی تنظيم د اســلام په رڼا کې ص۹ ، چاپ ۸ .UNDP

[2]- حسينی حاتم درآمدی بر جمعيت شناسی اقتصادی، اجتماعی و تنظيم خانواده انتشارت دانشگاه ابو علی سينا همدان ۱۳۸۱ش.

## دریم مطلب: دنسل ډیرښت اود نسل تنظیم

د نسل زیاتوالی او تکاثر هغه طبیعي سنت او الهي پیر زوینه ده چې د بشریت په تاریخ کې ژورې ریښې لري او د ژوند د پایښت ستر لامل ګڼل کیږي. دا سنت له انسانانو پرته په ټول طبیعت او طبیعي موجوداتو کې په بېلابېلو شکلونو سره شتون لري او په عامه بڼه ټولو دینونو د نسل زیاتوالی ته هڅونه کړې ده، د اسلام په سپیڅلي دین کې هم د ازدواج یو هدف د نسل بقا ښودل شوې ده، لکه څرنګه چې الله جل جلاله فرمایي: ((فَالْآنَ بَاشِرُوهُنَّ وَابْتَغُوا مَا كَتَبَ اللَّهُ لَكُمْ)).[1]

ژباړه: نو اوس له خپلو ښځو سره یو ځای او د هغه څه هڅه وکړئ چې الله پاک ستاسې لپاره ټاکلي دي. اکثر مفسرین د (وابتغوا) له کلمې څخه مراد اولاد ګڼي. بل ځای فرمایي: ((وَاللَّهُ جَعَلَ لَكُم مِّنْ أَنفُسِكُمْ أَزْوَاجًا وَجَعَلَ لَكُم مِّنْ أَزْوَاجِكُم بَنِينَ وَحَفَدَةً)).[2]

ژباړه: او الله جل جلاله دی چې تاسې ته یې له تاسې نه ښځې پیدا کړي او له ښځونه یې بچې او لمسیان در کړل. او همداراز رسول اکرم(ص) فرمایي: ((تَزَوَّجُوا الْوَدُودَ الْوَلُودَ فَإِنِّى مُكَاثِرٌ بِكُمُ الأَنْبِيَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ)).[3]

ژباړه: په نکاح کړئ مینه ناکې او اولاد راوړونکې ښځې، ځکه چې زه ستاسو په ډیرښت باندې د قیامت په روځ ویاړم.

له همدې کبله ځینې په دې باور دي چې د نسل تنظیم د نوموړو اهدافو او ار ښتونو خلاف عمل دی، او نباید د نسل د ډیرښت په وړاندې خنډ پیدا شي، د الله جل جلاله په نعمتونو باندې باور او د هغه

---

[1]- البقره / ۱۸۷ .

[2]- النحل / 72.

[3]-رواه أبو داود والنسائي في «سننيهما» وأبو حاتم بن حبان في«صحيحه» والحاكم في «مستدركه» ثم قال: هذا حديث صحيح الإسناد. وقال ابن الصلاح: حسن الإسناد. البدر المنير في تخريج الأحاديث والأثار الواقعة في الشرح الكبير.تأليف: ابن الملقن سراج الدين أبو حفص عمر بن علي بن أحمد الشافعي المصري (المتوفى: 804هـــ).المحقق: مصطفى أبو الغيط وعبد الله بن سليمان وياسر بن كمال الناشر: دار الهجرة للنشر والتوزيع - الرياض-السعودية الطبعة: الاولى، 1425هـ-2004م:۷/ 495

مخلوق ته درناوی د دې نظريې بذستې جوړوي.(1) مسلمان متفکر ابن خلدون[2] هم په دې باور دی چې د نسل زياتوالی ستر بشري توان دی، او مخکې له دې نه چې د استهلاک عامل و ګڼل شي، د توليد اقتصاد، پرمختګ او آبادي لامل ګڼل کيږي.(3)

په دې کې شک نشته چې اولاد د ژوند ښکلې ميوه ده، د نسل د دوام لامل او د ازدواج له مقاصدو څخه شميرل کيږي. اما د نسل په ډيرښت کې يوازې کميت نه بلکې کيفيت هم مطلوب دی، لکه څرنګه چې قرآن کريم له ابراهيم او ذکريا عليهما السلام څخه يادونه کوي چې هغوی به يوازې د نسل ډيرښت نه بلکې د سالم نسل غوښتنه کوله، قرآن کريم د ابراهيم عليه السلام له قوله وايي: ((رَبِّ هَبْ لِي مِنَ الصَّالِحِينَ)).(4)

ژباړه:ای زما ربه ماته يو زوی راکړه چې له صالحانو وي. او همداراز د ذکريا عليه السلام وينا داوه: ((رَبِّ هَبْ لِي مِنْ لَدُنْكَ ذُرِّيَّةً طَيِّبَةً إِنَّكَ سَمِيعُ الدُّعَاءِ)).(5)

ژباړه: ای زما ربه! ماته ستا له لورې نيک او پاک اولاد راوبښه، بې شکه ته د دعاء ښه اوريدونکی يې.

[1]- حسينی حاتم درآمدی بر جمعيت شناسی اقتصادی، اجتماعی و تنظيم خانواده انتشارت دانشگاه ابو علی سينا همدان 1381.
[2]عبد الرحمن بن محمد بن محمد، ابن خلدون أبو زيد، ولي الدين الحضرمي الإشبيلي، من ولد وائل بن حجر: الفيلسوف المؤرخ، العالم الاجتماعي البحاثة. أصله من إشبيلية، ومولده ومنشأه بتونس.رحل إلى فاس وغرناطة وتلمسان والاندلس، وتولى أعمالا، واعترضته دسائس ووشايات، وعاد إلى تونس. وتوفي فجأة في القاهرة.كان فصيحا، جميل الصورة، عاقلا، صادق اللهجة، عزوفا عن الضيم، طامحا للمراتب العالية.ولما رحل إلى الأندلس اهتز له سلطانها، وأركب خاصته لتلقيه، وأجلسه في مجلسه.اشتهر بكتابه (العبر وديوان المبتدأ والخبر في تاريخ العرب والعجم والبربر - ط) في سبعة مجلدات، أولها (المقدمة) وهي تعد من أصول علم الاجتماع، ترجمت هي وأجزاء منه إلى الفرنسية وغيرها.نقلا عن: الأعلام للزركلي:٣٣٠/٣

[3]- رسول محمد فقی جمال- زن در انديشه اسلامی ترجمه محمود ابراهيمی نشر احسان 1383.
[4]- الصافات / ١٠٠ .
[5]- آل عمران/ ٣٨ .

په بل ځای کې خدای(ج) د عباد الرحمن صــفتونه داســې بیانوي ((وَالَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا هَبْ لَنَا مِنْ أَزْوَاجِنَا وَذُرِّيَّاتِنَا قُرَّةَ أَعْيُنٍ وَاجْعَلْنَا لِلْمُتَّقِينَ إِمَامًا)).[1]

ژباړه: مومنان هماغه کســان دي چې وايي: ای زموږ ربه! ســترګې یخوونکې ښــځې او اولادونه راوبښه او د پرهیز ګارانو مقتداء مو وګرځوه.

د اسلام سپیڅلي دین کله چې د نسل په ډیرښت باندې تأکید کوي، اولاد د ژوند ښکلې میوه او ستر نعمت ګڼي لکه څرنګه چې خدای(ج) فرمايي: ((الْمَالُ وَالْبَنُونَ زِينَةُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا)).[2] مال او ځامن یوازې د دنیا ښایست او سینګار دي.

هغه داســې نســل نه دی چې هیڅ ارزښــت او قیمت ونه لری، د الله(ج) په صــالحو بندګانو کې ونه شمیرل شي، بې فایدې او په ټولنه باندې تېل شوی وي، د سیلاب د خاشاکو او د ځګ حیثیت ولري، لکه څرنګه چې په حدیث کې ورته اشاره شوې ده: ((يُوشِكُ الأُمَمُ أَنْ تَدَاعَى عَلَيْكُمْ كَمَا تَدَاعَى الأَكَلَةُ إِلَى قَصْعَتِهَا فَقَالَ قَائِلٌ وَمِنْ قِلَّةٍ نَحْنُ يَوْمَئِذٍ قَالَ بَلْ أَنْتُمْ يَوْمَئِذٍ كَثِيرٌ وَلَكِنَّكُمْ غُثَاءٌ كَغُثَاءِ السَّيْلِ وَلَيَنْزِعَنَّ اللَّهُ مِنْ صُدُورِ عَدُوِّكُمُ الْمَهَابَةَ مِنْكُمْ وَلَيَقْذِفَنَّ اللَّهُ فِى قُلُوبِكُمُ الْوَهَنَ فَقَالَ قَائِلٌ يَا رَسُولَ اللَّهِ وَمَا الْوَهَنُ قَالَ حُبُّ الدُّنْيَا وَكَرَاهِيَةُ الْمَوْتِ)) [3]

ژباړه: نږدې دی چې کفري ملتونه تاسو باندې به حمله کوي لکه څرنګه چې وږې انسان په کاسه تیز راځي او بې له کوم مانع څخه ډوډی خوري، له ډلې څخه یو کس وویل: زمونږ د کمښت له کبله به داسې کیږي، رسول اکرم(ص) وویل: تاسو به په دې وخت کې ډېر یاست، اما د سیلاب د خاشاکو اود

---

[1]- الفرقان/ ۷۴ .

[2]- الكهف / 46.

[3]- أخرجه أبو داود (4297) والروياني في " مسنده " (25 / 134 / 2) وابن عساكر في " تاريخ دمشق " (8 / 97 / 2) من طرق عن عبد الرحمن بن يزيد بن جابر حدثني أبو عبد السلام عن ثوبان قال: قال رسول الله صلى الله عليه و سلم فذكره.قلت: وهذا إسناد لا بأس به في المتابعات، فإن ابن جابر ثقة من رجال " الصحيحين ". وشيخه أبو عبد السلام مجهول لكنه لم يتفرد به، فقد تابعه أبوأسماء الرحبي عن ثوبان به. أخرجه أحمد (5 / 278) وابن أبي الدنيا في" العقوبات " (62 / 1) ومحمد بن محمد بن مخلد البزار في " حديث ابن السماك "(182 - 183) وأبو نعيم في " الحلية " (1 / 182) عن المبارك بن فضالة حدثنا مرزوق أبو عبد الله الحمصي أنبأنا أبو أسماء الرحبي.قلت: وهذا سند جيد، رجاله ثقات والمبارك إنما يخشى منه التدليس أما وقدصرح بالتحديث فلا ضير منه، فالحديث بمجموع الطريقين صحيح عندي. والله أعلم. سلسلة الأحاديث الصحيحة وشيء من فقهها وفوائدها:تاليف: أبو عبد الرحمن محمد ناصر الدين، بن الحاج نوح بن نجاتي بن آدم، الأشقودري الألباني (المتوفى: 1420هـ)الناشر: مكتبة المعارف للنشر والتوزيع، الرياض الطبعة: الأولى، (لمكتبة المعارف):647/٢ رقم الحديث: 958.

اوبو د ځګ په شان به یاستئ او خدای(ج) به ستاسو د دښمنانو له زړونو څخه ستاسو رعب اوبره وباسي، او ستاسو په زړه نوکې به بزدلي واچوي، یوه کس وویل: چې ای د الله(ج) استازیه! بزدلي څه ته وایي: رسول اکرم(ص) وویل: له دنیا سره مینه او له مړینې څخه وېره.

بلکې هغه نسل چې اسلام یې غواړي هغه باید په رښتیا سره د ځمکې پرمخ د الله(ج) استازیتوب تمثیل وکړي، او د دې آیت شـــریف په مقتضــــى به برابر وی: ((وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَائِكَةِ إِنِّي جَاعِلٌ فِي الْأَرْضِ خَلِيفَةً)).[1]

ژباړه: او هغه وخت را یاد کړه چې ستا رب پرښتو ته وویل: چې زه په ځمکه کې د یوه خلیفه پیدا کوونکی یم. چه عمل وکړي او په رښـتیني ډول د انســاني رســالت ســترو موخوته د لاس رســي توان ولري، ځکه چې د انسان د پیدایښت او انساني رسالت ستر اهداف لکه:

1. د ځمکې عمران او آبادی.
2. د خدای(ج) عبادت کول.
3. نیکیو ته بلنه او له بدیو څخه مخنوي.
4. پر ځمکه باندې د عدالت تأمینول.
5. له نورو سره د مینې او و رور ګلوئ په فضاء کې ژوند کول.
6. د ظلم مخه ډب کول.

او داسي نور هغه ستر اهداف دي چې په عقلي روحي او جسمي لحاظ له سالمو انسانانو څخه یې توقع ممکنه ده، نه له داســـې کســـانو څخه چې هغوی پخپله په ټولنه باندې تحمیل شـــوي وي، او د ژوند په ورځنیو چاروکې نورو ته اړ وي.

[1]- البقره / ۳۰.

## ځلورم مطلب: د نسل د تنظیم شرعی حکم

### لومړی د لومړنیو فقها نظر د نسل د تنظیم اړوند

د زیږون تنظیم د زیږون د مخ نیوي په تدابیرو تر سره کیږي، او په دې تدابیرو کې تر ټولو پخوانی تدبیر عزل دی، د عزل په هکله دوه ډوله احادیث وارد شوي، یو ډول یې له عزل څخه منع کوي، بل ډول یې د عزل اجازه ورکوي، جمهورو علماوو عزل جایز ګڼلی. د طبي لارو چارو په واسطه د حمل مخ نیوی په هغه صورت کې جایز دی چې د مسلک خاوندان (اطبا) یې د مور، پلار او ماشوم صحت ته په پام لرلو توصیه وکړي.

په صحیح حدیث کې راغلي(( سَأَلُوهُ عَنِ الْعَزْلِ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «ذَلِكَ الْوَأْدُ الْخَفِيُّ»، زَادَ عُبَيْدُ اللهِ فِي حَدِيثِهِ: عَنِ الْمُقْرِئِ، وَهِيَ: (وَإِذَا الْمَوْءُودَةُ سُئِلَتْ)

ژباړه - صحابه وو له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د عزل په هکله پوښتنه وکړه، هغه مبارک وفرمایل: دا د ماشومانو په پټه توګه ژوندي خښول دي او عبیدالله په خپل حدیث کی دمقری روایت کي زیاتوي چه دپیامبر اشاره دی ایت ته ده .او کله چې له ژوندی خښې کړای شوې نجلې څخه پو ښتنه وشي [1].

د طحاوي په شرح مشکل الآثار کې راغلي - ((, عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ , أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَاهُ رَجُلٌ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ , إِنَّ عِنْدِي جَارِيَةً , وَأَنَا أَعْزِلُ عَنْهَا , وَأَنَا أَكْرَهُ أَنْ تَحْمِلَ , وَأَشْتَهِي مَا يَشْتَهِي الرِّجَالُ , وَإِنَّ الْيَهُودَ يَقُولُونَ هِيَ الْمَوْءُودَةُ الصُّغْرَى. فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «كَذَبَتْ يَهُودُ، لَوْ أَنَّ اللهَ أَرَادَ أَنْ يَخْلُقَهُ لَمْ تَسْتَطِعْ أَنْ تَصْرِفَهُ))

---

1 - مسلم بن الحجاج أبو الحسن القشيري النيسابوري (المتوفى: 261هـ)، المسند الصحيح المختصر بنقل العدل عن العدل إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم،کتاب النکاح ،باب جواز الغيله وکراهية العزل ج ۲،ص ۱۰۶۷رقم الحديث ،۱۴۴۰.

ژباړه - ابو سعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت کړي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ته يو سړي وويل: زه مينځه لرم او عزل ورڅخه کووم، دا نه خوښووم چې حمل واخلي، خو د نورو سړيو په شان ورسره يو ځای کيدل خوښووم، او يهود وايي: دا د وړوکې اولاد ژوندي خښونه ده؟ نو هغه مبارک ورته وفرمايل: يهود دروغ وايي، که الله تعالی وغواړي چې ماشوم پيدا کړي ته نشې کولی چې هغه وګرځوې(1).

امام طحاوي د دواړو روايتونو تر منځ توفيق داسي راوستلی(2) چې لومړی حديث د يهودو په اخبار بنا وو، او پخواني شريعتونه زموږ لپاره شريعت دی، وروسته رسول الله صلی الله عليه وسلم ته د وحي له لارې معلومه شوه چې دوی دروغ وايي، نو د عزل اجازه يې ورکړه.

د امام طحاوي له نظره عزل اولاد وژنه نه ده؛ بلکې وژنه له ژوندي کيدو وروسته رامنځ ته کيږي،

او ژوندي کيدل له نطفې څخه وروسته د نورو مراحلو پوره کېدلو ته اړتيا لري، او همدا نظر يې له حضرت عمر، علي او ابن عباس – رضي الله عنهم – څخه هم روايت کړی دی(3).

---

[1] الطحاوي، أبو جعفر ت:(238 –توفى: 321هــــ): ( 852 –توفى: 933م). أحمد بن محمد بن سلامة أبو جعفر الطحاوي. من طحا، قرية بصعيد مصــر. محدِّث، فقيه مشــهور بمؤلفه العقيدة الطحاوية. درس فقه الشــافعية على خاله المزني الشــافعي. ثم انتقل إلى مذهب أبي حنيفة فتفقه على الفقيه الحنفي أحمد بن أبي عمران. رحل إلى الشام، فسمع الحديث ببيت المقدس وغزة وعسقلان ودمشق، ثم عاد إلى مصر. انتهت إليه رئاسة أصحاب أبي حنيفة بمصــر. مصــنفاته كثيرة، منها: شــرح معاني الآثار؛ مشــكل الآثار؛ اختلاف الفقهاء؛ المختصــر في الفقه؛ والعقيدة وهي مشــهورة باســم العقيدة الطحاوية؛ أحكام القرآن؛ الوصايا؛ المحاضر والسجلات وغيرها. دفن بمصر. نقلا عن الموسوعة العربية العالمية http://www.mawsoah.net
شرح مشكل الاثار، ج٥، ص ١٧٠

2- قد يجوز أن يكون رسول الله صلى الله عليه وسلم قال ما ذكرنا عنه في الفصل الأول من هذا الباب , لما كان عليه من اتباع اليهود على شريعتهم ما لم يحد ث الله في شريعته ما ينسخ ذلك , إذ كانوا أهل كتاب مقتدين بالذي جاءهم بكتابهم , وإذ كان الله عز وجل أنزل عليه فيما أنزل: {أولئك الذين هدى الله} [الأنعام: 90] {فبهداهم اقتده} [الأنعام: 90] يعني من تقدم من أنبيائه إنما كان يصـــل إلى ذلك مما كان يجده في التوراة وفيما ســـواها من كتب الله عز وجل التي كان أنزل على أنبيائه قبله , صـــلوات الله عليه وعليهم , فجاز أن يكون لما كشـــفهم عن ذلك كيف هو في كتابهم , ذكروا له أنه الموءودة الصغرى وكذبوه , فقال ما قال مما ترويه عنه جدامة , ثم أعلمه الله عز وجل بكذبهم , وأن الأمر في الحقيقة بخلاف ذلك , كما لما سألهم عن حد الزنى في كتابهم ذكروا له أنه الجلد والفضـــيحة , وأنه لا رجم فيه , وأتوه بالتوراة فوضـــع أحدهم يده على آية الرجم حتى أعلمه عبد الله بن ســـلام أنهم قد كذبوه , وأمر ذلك اليهودي رفع يده عن آية الرجم , فرفعها فقامت عليهم الحجة بأن الرجم في كتابهم , فرجم رســـول الله صـــلى الله عليه وســـلم عند ذلك من زنى منهم ممن أتوه به محكمين له فيه , فمثل ذلك ما كان منهم في العزل لما بين الله عز وجل لرسول الله صلى الله عليه وسلم كذبهم في ذلك بين لأمته صلى الله عليه وسلم كذبهم فيه , وأنزل عليه في كتابه ما أوضح له ما يستعمل الوأد فيه , وهو قوله عز وجل: {ولقد خلقنا الإنسان من ســـلالة من طين} [المؤمنون: 12] إلى قوله: {ثم أنشـــأناه خلقا آخر فتبارك الله أحســـن الخالقين} [المؤمنون: 14] , فأعلمه الله تعالى بذلك الوقت الذي يكون المخلوق من النطفة فيه الحياة , فيجوز أن يوأد حينئذ فيكون ميتا , وأما قبل ذلك فليس بحي , وإنما هي كسـائر الأشياء التي لا حياة فيها , فمحال أن يكون ما كان ذلك موءودا . – (شرح مشكل الآثار پنځم ټوک 173مخ).

3- تذاكر أصحاب النبي صلى الله عليه وسلم عند عمر بن الخطاب رضي الله عنه العزل , فاختلفوا فيه , فقال عمر رضي الله عنه: قد اختلفتم وأنتم أهل بدر الخيار , فكيف بالناس بعدكم إذ تناجى رجلان؟ فقال عمر: ما هذه المناجاة؟ قال: إن اليهود تزعم أنها الموءودة الصـــغرى , فقال علي رضـــي الله عنه: " إنها لا تكون موءودة حتى تمر بالتارات السبع {وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ مِنْ سُلَالَةٍ مِنْ طِينٍ (12) ثُمَّ جَعَلْنَاهُ نُطْفَةً فِي قَرَارٍ مَكِينٍ (13) ثُمَّ خَلَقْنَا النُّطْفَةَ عَلَقَةً فَخَلَقْنَا الْعَلَقَةَ مُضْغَةً فَخَلَقْنَا الْمُضْغَةَ عِظَامًا فَكَسَوْنَا الْعِظَامَ لَحْمًا ثُمَّ أَنْشَأْنَاهُ خَلْقًا آخَرَ فَتَبَارَكَ اللَّهُ أَحْسَنُ الْخَالِقِينَ } [المؤمنون: 12 - 14], فعجب عمر رضي الله عنه من قوله، وقال: جزاك الله خيرا... وقد روي عن عبد الله بن عباس رضي الله عنهما هذا الكلام أيضا. (شرح مشكل الآثار 1پنځم ټوک 174مخ).
په بل حديث کې چې ترمذی دريم ټوک 442مخ کې روايت کړي راغلي: عن جابر قال : قلنا يا رســـول الله ! إنا كنا نعزل فزعمت اليهود أنها الموءودة الصغرى فقال كذبت اليهود إن الله إذا أراد أن يخلقه فلم يمنعه.

په بل حديث کې چې بخاري له جابر رضی الله عنه څخه روايت کړی هغه مبارک ويلي: ((عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: كُنَّا نَعْزِلُ عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالقُرْآنُ يَنْزِلُ))

ژباړه: موږ به د نبي عليه السلام په زمانه کې عزل کاوو او قرآن نازليده(1) (موږ ېې له عزل څخه منعه نه کړو).

عزل ځينو علماوو د لومړي حديث له مخې مکروه ګڼلی، ځينو نورو ويلي: د ښځې او ميړه په موافقه جواز لري؛ خو که د ښځې خوښه نه وه بيا دوه نظره دي: لومړی دا چې جواز نلري، دوهم دا چې جواز لري[2].

په حنفي مذهب کې د دريو صورتونو حکم بيان شوی:

لومړی – عزل د زوجينو په خوښه، جواز لري[3].

دويم – عزل د ښځې له خوښې پرته ميره ته، د مذهب د امامانو (ابو حنيفه، ابو يوسف او محمد – رحمهم الله - ) په نزد جواز نلري. او وروستنيو علماوو د زماني د فساد له کبله جايز ګڼلی دی.

دريم – عزل يوازې د ښځې په خوښه چې ميره ېې راضي نه وي، په داسې توګه چې ښځه د رحم خوله وتړي، ځينو ويلي: جواز نلري، ځينو نورو ويلي: په دې زمانه کې جواز لري.

---

1-.(صـــحيح البخاري د دار طوق النجاة چاپ، پنځم ټوک 1998مخ)، په شـــرحه کې ېې راغلي: ( نعزل ) من العزل وهو إخراج الذكر من فرج المرأة قبل قضاء الشهوة لينزل منيه خارج الفرج حتى لا تحبل الزوجة . ( والقرآن ينزل ) ينزل به الوحي على رسول الله صلى الله عليه و سلم أي ولم ينهنا عن ذلك.

2- فكره قوم العزل لهذا الأثر المروي في كراهة ذلك وخالفهم في ذلك آخرون فلم يروا به بأســـا إذا أذنت الحرة لزوجها فيه فإن منعته من ذلك لم يســـعه أن يعزل عنها وقد خالفهم في هذا قوم آخرون فقالوا له أن يعزل عنها إن شـــاءت أو أبت (شـــرح معاني الآثار للطحاوي د عالم الكتب چاپ ۱۹۹۴م، دريم ټوک 30مخ)

په هنديه فتاوا ( 5 ټوک 356 مخ) کې راغلي: رجل عزل عن امرأته بغير إذنها لما يخاف من الولد السوء في هذا الزمان فظاهر جواب الكتاب أن لا يسعه وذكر هنا يسعه لسوء هذا الزمان.

په المحيط البرهاني للإمام برهان الدين ابن مازة الحنفي (5ټوک 241 مخ) کې راغلي: وفي «فتاوى أهل ســـمرقند:» أنه إذا عزل خوفاً من الولد السوء لفساد هذا الزمان فهو جائز من غير رضا المرأة.

3- په رد المحتار (10ټوک 241مخ) کې راغلي:( ويعزل عن الحرة ) وكذا المكاتبة نهر بحثا ( بإذنها) لكن في الخانية أنه يباح في زماننا لفســـاده قال الكمال : فليعتبر عذرا مسقطا لإذنها... أخذ في النهر من هذا ومما قدمه الشارح عن الخانية والكمال أنه يجوز لها سد فم رحمها كما تفعله الن١ساء مخالفا لما بحثه في البحر من أنه ينبغي أن يكون حراما بغير إذن الزوج قياسا على عزله بغير إذنها .

**یادونه:**

دعزل دحکم په اړه د څلورومذاهبو څر ګندونی دعزل په مبحث کې په تفصیل سره بیان شوی چه د ړومبنیو علماء نظر دنسل دتنظیم په حکم کې شمیرل کیږی.

## دویم: د نسل د تنظیم د حکم په اړوند د معاصرو فقهاوو نظرونه

اړونده موضوع کي مختلف نظریات شتون لری.

1- شیخ محمد شلتوت د از هر مخکښ شیخ وایي: د حمل بندول تر یو مؤقت وخت پوری ددې لپاره چې مور خپل بچی ته پوره اوپاکي شودې ورکړي ممکن دی او همدارنګه شریعت هم دوه کاله د رضاع موده مقرره کړی ده، ((وَالْوالِدَاتُ يُرْضِعْنَ أَوْلادَهُنَّ حَوْلَيْنِ كامِلَيْنِ))([1])

ژباړه: نو میندی دې خپلوبچیانوته پوره دوه کاله تي ورکړې ، د مؤقت وخت لپاره د حمل په بندولو سره مور ډیره زیاته ارامه او په راحت کې وي او هغه ځواک بیرته ترلاسه کوي چې د ولادت پر مهال ضایع شوی وي. ښځه د خپل بچي د تربیت لپاره فارغه وي او په پاکو او صافو پیو سره د بچي پالنه کوي.

2- دکتور حسن شاذلي وایي : تر یوې مودې پوري د حمل بندول او منظم کول د ښځي اوخاوند شخصي حق دی، نوهمدوی یې د بندولو حق لري او همدوی یې د مصلحت په بناء تر هغه حده پورې چي شریعت ورته اجازه ورکړې د زیږون فیصله کوي([2]).

---

[1]سورة البقره آیه ۲۳۳ (۲) الاسلام عقیدة و شریعة ، لمحمد شلتوت ص ۲۱۲، ط ۱۱، سنة ۱۹۸۳م دارالزوق، بیروت.

[2]- مجله – مجمع الفقه الاسلامی الدورة الخامسة لمواتمر مجمع الفقه الاسلامی ، العدد ۵ ، ص ۱۳۵، سنة ۱۹۸۸م الکویت

3- دکتور محمد سید طنطاوی[1] د الازهر مخکښ شیخ وایي: د نسل تنظیم شرعاً او عقلاً جایز دی، خوکله چې هلته څه اړین اسباب موجود وي، ښځه او خاوند به د هغو اسبابو ټاکنه پخپله د خپلو احوالو او غوښتنو پر بنسټ کوي [(2)].

4- شیخ فوزان وایی:[3] د ضرورت پر مهال چې ښځه ښه صحت ونه لری او پرله پسي زیږون نشي کولي اویا تي خور ماشوم ته دغه حمل زیان رسوی نو د متخصص ډاکټر په مشوره د حمل د مخنیوي د ګولیو استعمال د لنډمهالي مودي لپاره شرعا هیڅ باک نلري.[(4)].

دکتور وهبة الزحیلی وایی:[5] د ښـځي له اجازي پرته د ښـځي نه عزل کول باالاتفاق مکروه دی. ځکه چې بچی د ښځې حق دی او په عزل سره ښځه له خپل حق څخه محرومیږي خو د اجازې په صورت کې د ښـځي نه عزل روا دی[6]. نوموړی په دلیل کي د جابر رضـــي الله عنه روایت وړاندې کوي چې ((كُنَّا نَعْزِلُ عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالقُرْآنُ يَنْزِلُ))[7]

---

[1] محمد سيد طنطاوي (28 أكتوبر 1928 - 24 ربيع الأول 1431 هـ / 10 مارس 2010) شيخ الجامع الأزهر من عام 1996 إلى 2010.
ولد بقرية ســليم الشــرقية مركز طما محافظة ســوهاج في 28 أكتوبر 1928 م.تلقى تعليمه الأســاســي بقريته وحفظ القرآن الكريم ثم التحق بمعهد الإسكندرية الدينى سنة 1944 م وبعد انتهاء دراسته الثانوية التحق بكلية أصول الدين وتخرج منها سنة 1958م ثم حصل على تخصص التدريس سنة 1959 م ثم حصــل على الدكتوراه في التفســير والحديث بتقدير ممتاز في 5 ســبتمبر 1966م.توفي صــباح يوم الأربعاء 24 ربيع الأول 1431 هـ الموافق 10 مارس 2010 في الرياض عن عمر يناهز 81 عاما إثر نوبة قلبية تعرض لها في مطار الملك خالد الدولي عند عودته من مؤتمر دولي عقده الملك عبد الله بن عبد العزيز لمنح جائزة الملك فيصل العالمية لخدمة الإسلام للفائزين بها عام 2010. وقد صليَّ عليه صلاة العشاء في المسجد النبوي الشريف في المدينة المنورة ووري الثرى في مقبرة البقيع.

[2]- مجله-مجمع الفقه الاسلامی ، الدورة الخامسة لاموتمر مجمع الفقه الاسلامی ، العدد ٥ ، ص ١٣٥، سنة ١٩٨٨م الكويت

[3]فضيلة الشيخ د / صالح بن فوزان بن عبد الله الفوزان، من آل فوزان من أهل الشماسية، من قبيلة الدواسر ولد عام 1363 هـــ، وتوفي والده وهو صغير، فتربى في أسرته، وتعلم القرآن الكريم، وتعلم مبادئ القراءة والكتابة على يد إمام مسجد البلد، ثم التحق بمدرسة الحكومة في الشماسية عام 1369 هـــ، وأكمل دراسته الابتدائية في المدرسة الفيصلية ببريدة عام 1371 هـــ. بعد تخرجه من كلية الشريعة عين مدرسا في المعهد العلمي في الرياض، ثم عين عضـوا في اللجنة الدائمة للإفتاء والبحوث العلمية، وعضـو اللجنة الدائمة وعضـو هيئة كبار العلماء. نقلا عن : موقع الإفتاء التابع للجنة الدائمة بالمملكة العربية السعودية . http://www.alifta.com

[4]- محمد بن عثيمين والفوزان و ابن باز، فتاوى النساء ، ص ٤٧١ ، ط ١ ، سنة ٢٠٠٣م ، دارالفجر للتراث ، القاهرة

[5]ولد في بلدة دير عطية من نواحي دمشـق عام 1932م، وكان والده حافظاً للقرآن الكريم عاملاً بحزم به، محباً للسـنة النبوية، مزارعاً تاجراً.حصـل على شـهادة الدكتوراة في الحقوق ((الشـريعة الإسـلامية)) عام 1963م بمرتبة الشـرف الأولى مع توصـية بتبادل الرسـالة مع الجامعات الأجنبية، وموضوع الأطروحة (آثار الحرب في الفقه الإسلامي ـــ دراسة مقارنة بين المذاهب الثمانية والقانون الدولي العام) عُيِّن مدرساً بجامعة دمشق عام 1963م ثم أستاذاً مساعداً سنة 1969م ثم أستاذاً عام 1975م وعمله التدريس والتأليف والتوجيه وإلقاء المحاضرات العامة والخاصة، وقد يعمل في اليوم (16) ساعة.

[6] وهبه الزحيلی، الوجيز فی اصول الفقه الاسلامی ٥٢/٣،ط١،سنه ٢٠٠٥م دار الفكر د مشق.

[7]- سبق تخريجه.

ژباړه: موږ د رسـول الله صـلی الله علیه وسـلم په زمانه کې عزل کاوه په داسـې حال کې چې قران هم نازلیده. په یو بل روایت کې چې مســـلم له جابر رضـــی الله عنه څخه نقل کړی دی فرمایي: ((كُنَّا نَعْزِلُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ بَيْنَ أَظْهُرِنَا رَوَاهُ مُسْلِمٌ عَنْ سَلَمَةَ وَزَادَ فَيَبْلُغُ ذَلِكَ النَّبِيَّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسلم فَلم ينهانا)). 1

ژباړه: موږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم په وخت کې عزل کاوه په داسې حال کې چې قرآن هم نازلیده ، دغه موضوع رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ورسېده، موږ يې منع نه کړو.

او د کراهیت دلیل یې دا دی چې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وشوه او هغه وفرمایل ((«ذَلِكَ الْوَأْدُ الْخَفِيُّ)) 2

ژباړه – دا په پټه د بچي خښول دي او بیا یې و فرمایل ((وَإِذَا الْمَوْؤُدَةُ سُئِلَتْ)).3 ژباړه – او کله چې له ژوندۍ خښې کړای شوې نجلۍ څخه پو ښتنه وشي. ((نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُعْزَلَ عَنِ الْحُرَّةِ إِلَّا بِإِذْنِهَا))4

ژباړه – رسول الله صلی الله علیه وسلم د اصیلې ښځې نه د هغې د اجازې پرته عزل منع کړی دی. ځکه بچی د ښځې حق دی او په عزل کي د ښځې دا حق تلف کیږي نو عزل له اجازي پرته جایز نه دی او دغه منع په حدیث کي د عزل نه د تحریم لپاره ده البته د اجازي په صورت کي روا ده.

---

[1] رواه مسلم فی النکاح حدیث نمبر: 2610.

[2] اخرجه الامام مسلم في صحيحه في كتاب النكاح ، باب جواز الغيله وهي وطى المر ضع وكر اهة العزل ٥٠٤/٢

[3] سوره التکویر. الایة ٨.

[4] ابن ماجة أبو عبد الله محمد بن يزيد القزويني، وماجة اســم أبيه يزيد (المتوفى: 273هـــــ)، تحقيق: محمد فؤاد عبد الباقي، ســنن ابن ماجه. باب العزل، ج ١، ص ٦٢٠، الناشــر: دار إحياء الكتب العربية - فيصــل عيســى البابي الحلبي، تعليق محمد فؤاد عبد الباقي، في الزوائد في إســناده ابن لهيعة وهو ضعيف. وحكم الألباني ايضاً بضعفه.

5- محمد سعید رمضان البوطی وایي: که عزل د ښځې په اجازه ترسره شي روا دی او که د ښځې اجازه نه وي روا نه دی خو په دې شرط چې د دغه وسایلو استعمال به ښځې یا خاوند ته ضرر نه رسوي او نور وسایل چه حمل بندوی هغه وسایل دوی په عزل قیاس کوي.

**لنډیز**

د معاصرو فقهاو په نظر د نسل تنظیم په اړه لاندې مسایل لاسته راځي:

۱ ـ د رضاعت په دوه کلنه موده کې د حمل بندول مباح دي

۲ ـ د نسل د تنظیم باعث باید شرعي وي هغه دا چې ښځه د متواتر حمل طاقت نه لري. یا دا چې حمل تې خوړونکي ماشوم ته زیان رسوي. د اقتصادي مسایلو له کبله نه وي ترسره شوی.

۳ ـــ د نسل تنظیم باید د ښځې او خاوند په اتفاق ترسره شي او د حمل د بندولو لپاره باید له جایزو وسایلو څخه کار واخلي او باید دغه وسیله د شنډتوپ سبب و نه ګرځي او د موقت وخت لپاره تاثیر وکړي

د لایل د تنظیم لپاره نور دلایل

۴ - د نسل تنظیم او د اصل اباحت قاعده

د اصـول فقه مشـهوره قاعده بیانوي چې اصـل په اشـیاوو کې اباحت او جواز دی، ترڅو چې د یو شي پر منعه صریح او قاطع نص نه وي وارد شوی. له دې کبله د نسل په تنظیم کې هم حلیت او جواز ته لار هوارېږي. ځکه چې په مخنیوي باندې یې صـریح او قاطع نص شـتون نه لري. او همداراز بله اصولي قاعده داسي صراحت لري: «المشقّه تجلب التیسّر».[1] ستونزې باید په اسانتیا بدلې شي. نو

[1]- السَّعْدي، عبد الرحمن، نظم القواعد الفقهية، ج1، ص9.

لازمه ده چې د کورنيو ســتونزو د رفع کولو او د ميندو د صــحت په خاطر د ماشــومانو د زيږون ترمنځ د فاصلې په مراعاتولو سره آسانتيا رامنځته شي.

**۵- د نسل تنظيم او د لاضرر و لاضرار قاعده**

بله مشهوره شرعی قاعده او نبوي حديث داسي صراحت لري چې ځان او نورو ته ضرر رسول چې په هره بڼه وي د اسلام له نظره جواز نلري. لکه څرنګه چې رسول اکرم(ص) فرمايي: «لاَ ضَرَرَ وَلاَ ضِرَارَ[1]». په اسلام کې ضرر او ضرر رسول نشته. نو هيڅکله بايد ميندې د ماشومانو له کبله او يا يو ماشوم د بل ماشوم په واسطه متضرر نشي. په بل ځای کې قرآن په صراحت سره دې موضوع ته اشاره کوي او فرمايي: «لَا تُكَلَّفُ نَفْسٌ إِلَّا وُسْعَهَا لَا تُضَارَّ وَالِدَةٌ بِوَلَدِهَا وَلَا مَوْلُودٌ لَهُ بِوَلَدِهِ».(2) په هيڅا باندې د هغه له توان څخه پورته پېتې نه شــي ايښــودل کيدای، نه به مورته د هغې د بچي له کبله تاوان رسول کيږي او نه به پلار ته د بچي له مخې کوم ضرر رسول کيږي. له پورتني بحث څخه دا جوته کيږي چې هيڅکله بايد ميندې د ماشومانو له کبله ضرر ونه ويني.

شــيخ جاد الحق[3] على وايي په قرآن کريم کې داســـې ايات نشــو پيدا کولی چې په روښــانه توګه د ولادتونو ترمنځ د واټن ورکولو يا د ماشــومانو د شــمير د محدودولو د تحريم ښــودونکی وي. مګر له پيغمبر صلى الله عليه و سلم څخه بيلابيل روايتونه نقل شوي دي چې د هغه پر جواز دلالت کوي او د اسلامي مشايخو له لوري منل شوي دي. سره له دې چې د پيغمبر صلى الله عليه وسلم په احاديثو کې

---

[1] وَرَوَاهُ أَحْمد وَابْن ماجة وَغَيرهمَا بِسَنَد فِيهِ جَابر الْجعْفِيّ، وَهُوَ ضَعِيف، وَأخرجه ابْن أبي شيبَة وَالدَّارَقُطْنِيّ بِسَنَد آخر وَله طرق، فَهُوَ حسن. الكتاب: أسنى المطالب في أحاديث مختلفة المراتب محمد بن محمد درويش، أبو عبد الرحمن الحوت الشافعي (المتوفى: 1277هـ)تحقيق: مصطفى عبد القادر عطاالناشر: دار الكتب العلمية – بيروت. الطبعة: الأولى، 1418 هـ -1997م، ٣٢٤/١ رقم الحديث: 1713

[2] - البقره / 233.

[3] الشيخ الازهر الاسبق المولود فی بطره فی محافظه الدقهليه الوفات ۱۵ مارس ۱۹۹۶ القاهر، مصر، بحوث و فتاوی اسلاميه فی قضايا معاصره.

داسې اقوال هم شته چې له عزل څخه يې منع کړې ده مګر د اسلامي مذهبونو جمهور فقهاء د عزل له عمل سره موافق دي.

## د مجمع فقهي څرګندونې

١ – اسلامي شريعت لارښوونه کوي چې نسل بايد د ضعف او ضرر نه وساتل شي. او کوم ضررونه چې انسان ته په ژوند کې رامنځته کيږي بايد دفع شي، ترڅو د ښه او سالم ژوند څښتن شي.

٢ – د نسل تنظيم بچيانو ته د يوې بشپړې توجه تر څنګ د هغوی اجتماعي، صحي او نفسي ژوند ته پاملرنه او په اسلامي روزنه د هغوی روزل دي.

٣ – د موقت وخت لپاره د زيږون بندول هغه وخت جايز دي چې د بشري ضرورت پر بنسټ د ښځې او خاوند په مشوره ترسره شي. خو په دې شرط چې ضرر پورې مرتب نه وي او وسيله هم مشروع وي او د ښځې موجوده حمل ته زيان ونه رسوي. [1]

## د څيړونکي نظر:

د زيګون تر منځ واټن د ښځې او ماشوم د صحت د تضمين لپاره يوه ښه لار ده خو په دې شرط چې ښځه د جراحي عملياتو څخه پرته عادي ولادت ونه شي کولی او يا دغه واټن او وروسته والی د حمل د يوه مصلحت پر بنا ترسره شوی وي چې ښځه او خاوند پر خوښ وي نو په داسې وخت کې د نسل د تنظيم ممانعت نشته تردې چې پر صحيحو احاديثو عمل هم رامنځته کيږي لکه د عزل د جواز هغه حديث چې له علي، سـعد بن ابي وقاص، ابو ايوب او زيد بن ثابت، جابر، ابن عباس او حسـن بن علی، خباب ابن الارت رضی الله عنهم اجمعين په څير اصحابو څخه روايت شوی دی.

[1] من قرارات مجلس مجمع الفقه الاســلامي المنعقد في دورة مؤتمر الخامس باالكويت من ١٠ الى ١٥ دســمبر ســنة ١٩٨٨م، مجلة مجمع الفقه الاسلامي ص٤٠٨، و بعدها بتصرف.

## پنځم مطلب: د نسل د تنظیم اسباب

اول سبب: د نسل د تنظیم تر ټولو مهم سبب د مور د صحت ساتنه او پاملرنه ده. ځکه بیا بیا حمل او زیږون د مور لپاره ډیر سخت دی. د مور د ګیډی عضلات اړتیا لري چې په راحت او هوساینه کي پاتې شي او دا خبره په تجربه او د طبیبانو په وینا ثابته شوې ده.

د تنظیم مسئله په ښځې او خاوند پوري خاص ده او بله دا چې مور د هغه ذهني او فزیکي فشار له کبله ډیره زیاته په تکلیف کي وي. ځکه په خیټه کې د بچي ګرځول هم ډیر سخت کار دی او یوه مور په طبیعي حالت ناسته ، ولاړه ، څملاستل او کار نشي ترسره کولی. همداراز ولادت که په طبیعی ډول ترسره شي او که د جراحی عملیاتو په مرسته ترسره شي، په دواړو صورتونو کي زیات مشکل دی. نو شریعت د مور د صحت ډیر زیات خیال ساتلی دی[1].

دویم سبب: له وقفې پرته په پرله پسې توګه زیږون د سوي تغذي، د طبیعي وزن کموالي او حتی د بچي د مړینې احتمال رامنځته کولی شي، نو ددې لپاره چې بچی سالم صحت ولري، د زیږون تر منځ واټن خورا اړین دی او له بلې خوا دا کار به د بچي د ښې پالنې لپاره لار هواره کړي. د زیږون تر منځ واټن له قرآن نه ثابت دی: (وَالْوالِداتُ يُرْضِعْنَ أَوْلادَهُنَّ حَوْلَيْنِ كامِلَيْنِ لِمَنْ أَرادَ أَنْ يُتِمَّ الرَّضاعَةَ)[2]

ژباړه: میندی به یی ورکوي خپل اولاد ته دوه کاله پوره څوک چي اراده لري چې د رضاعت موده پوره کړي. په دي آیت کې د رضاعت مودې ته اشاره ده چي هغه دوه کاله ده. او دغه کار یوازې هغه وخت مستحب او یا واجب دی چي بچی د مور له تي څخه بغیر بل تی ونه مني او پلار یې هم د بلي ښځی له نکاح کولو عاجز وي[3].

---

[1]- محمد عثیمین، فتاوی النساء ص ۴۷۱ و فتاوی المرأة المسلمة لمحمد بن ابراهیم آل الشیخ، ج ۱، ص۶۸۸.
[2]- سورة البقره آية (۲۳۳)
[3]- سید بن احمد بن سیف، فتاوی المرأة الطبیه، ص ۱۰۰ و ما بعدها، ط ۱ ، سنة ۲۰۰۷م ، مکتبة الایمان المنصوره.

او د رضاعت دغه موده به هغه وخت دوه کاله وي چې نوی حمل نه وي رامنځته شوی. نو دا شرعی امر دی. خکه چې حمل د رضاعت په موده کې شیدي فاسدوي، بچی ضعیفه کوي او ددې لامل ګرځي چې د حمل په موده کي باید بچی جدا شي. او رضاعت هم زیاتره وخت له دوه کلونو وروسته نه وي.

د دوو کلونو واټن یوه ادنی اندازه ده چې مور او ماشوم دواړه ورته ضرورت لري. لکه چې په تیر آیت کي ورته اشاره وشوه دغه تنظیم شریعت ټاکلی دی خو که د بچي تربیت ورته مشکل وي ښځه او خاوند کولی شي چې د تنظیم دا موده نوره هم وغځوي[1].

## دويم مبحث: دنسل تحديد

د زیږون تنظیم د نسل له تحدید سره تقریبا مترادفه کلمه ده، البته جمهور علما، وایي چې دا یوه بله اصطلاح ده چې په معاصره فقه کې مطرح شوې ده. د نسل د تحدید اصطلاح په دې معنی ده چې دولتونه په مرکزي توګه د نفوسو په هکله یو پلان جوړ کړي، او عامو خلکو ته د هغه پلان پر بنسټ مشخصې دندې ورکړي، او دا ورته ووایي چې هره جوړه باید له دوو، دریو یا څو... تنو څخه زیات ماشومان ونه زیږوي، لکه په چین کې چې همداسې شوي، او یا د نسل د انکشاف لپاره نور نورمونه کیږدي. د نسل تحدید زیاتو معاصرو علماوو منع بللی دی، او هغه یې د غربي هیوادونو دسیسه ګڼلې ده، خو څرنګه چې موضوع اجتهادي ده، نو په هر وخت کې یوه غوڅه خبره ممکنه نه ده، موضوع باید د هرې سیمې او هرې زماني له ظروفو سره سمه وڅیړل شي او د زمان او مکان او مصالحو او مفاسدو په رڼا کې باید ورسره تعامل وشي.[2]

---

[1]- محمد جمال الدين بن محمد سعيد بن قاسم الحلاق القاسمی المتوفی (۱۳۳۲ هـــ)، تفسیرالقاسمی، ج ۲، ص ۱۵۴۰، ناشر دار الکتب العلمية، بيروت، الطبعة الاولی. تاریخ الطبع ۱۴۱۸ هجری قمری،

2 دکتور ظريفی، شيرعلي، د زيږون تنظيم د حنفی فقهی په رڼا کې، علمي مقاله.

## اول مطلب: د نسل دتحدید لغوی او اصطلاحي معنی

دا باید ووایو چې د نسل تحدید یوه مرکبه اصطلاح ده چې هره برخه یې ځانته تعریف لري.

- لومړی – د تحدید لغوي معنی: د دوو شیانو په منځ کې د جدایي حد ته وایي چې یو له بل سره یوځای نه شي یا د یو شي انتها یا آخر ته واي[1].
- دویم – د نسل لغوي معنی: د پیدایښت او بچي او اولادونو په معنی دی لکه عرب وایي (تناسل بنوفلان) دا هلته وايي چې اولاد یې زیات شي او وایي (تناسلو) کله چې یو د بل نه زیږون وکړي او وایي (فلان نسلاً ان کثر نسله)

  ژباړه: نسلاً هلته عرب وایي چې اولاد یې زیات شي[2].

**د نسل د تحدید اصطلاحي معنی:**

پخوانیو علماوو د دي اصطلاح کومه مستقله معنی نه ده بیان کړې، بلکې دا یوه نوې موضوع ده او ځینو اوسنیو علماوو د دې اصطلاح تعریف په لاندې ډول سره کړی دی:

1- شیخ محمود شلتوت[3] د نسل د تحدید تعریف دا ډول کړی دی: (الوقف بنسل الامة عند عدد معین)[4]

ژباړه: د نسل ودرول په یوه معلومه اندازه.

[1] احمد بن محمد بن علی الفیومی ثم الحموی ابو العباس المتوفی (۷۷۰ هجری قمری) ، المصــباح المنیر فی غریب شــرح الکبیر، تاریخ الطبع ۱۴۱۹، ج۱، ص ۴۸؛ الناشر المکتبة العملیة بیروت، و ، ، لسان العرب، ج۳، ص۱۴۰. ناشر: دارصادر- بیروت، الطبعة الثالثة، تاریخ الطبع ۱۴۱۴ هجری قمری.

[2] احمد حسن‌الزیات، حامد عبدالقادر، ابراهیم مصطفی، محمدعلی نجار، المعجم الوسیط، باب النون .ج ۲، ص۹۱۹، الناشر: دار الدعوة، تاریخ الطبع ۱۴۱۰،.

[3] عالم اسلامی مصری و شیخ الجامع الازهر ۱۸۹۳-۱۹۶۳ نال اجازة العالمیه سنه ۱۹۱۸م و کان اول حامل للقب الامام الکبر وولد الشیخ محمود شلتوت بمحافظه البحیره سنه ۱۸۹۳ توفی فی مصر عام ۱۹۶۳ /۴/۲۳.

[4] محمد شلتوت، الاسلام عقیدة و شریعة، کتاب الکترونیی. Pdf، ص۱۹۹.

2- شیخ مولا علی داسی تعریف کړی – د داسې وسایلو استعمال چې زیږون په دایمي توګه بند کړي، یعني په نسل کي د زیږون د درولو او یا د بچیانو د زیږون د شمیر د راکمولو پریکړه وشي. په دې معنی چې په دایمي توګه درول د نسل تحدید دی او مؤقتي درول د نسل تنظیم دی[1].

نظر په پورته څرګندونو دغو علماوو د تحدید او تنظیم په منځ کي فرق کړی.

3- دکتور احمد جمال([2]) وایي: د نسل تحدید یو سیاسي حرکت دی چې ترشا یې دولتونه ولاړ دي او دا دعوی لري چې د استوګنو ځایونه کم دي اونسل ډیر دی همدارنګه غذایي مواد کم دي اوبشر زیات دی نو دوی وایي چې قحط به راشي. له دې کبله دا یو استعماري، سیاسي او اقتصادي حرکت دی او د دې هدف اسلامي هیوادونه دي. اما د نسل تنظیم یو محدود او خاص حرکت دی، چې ځیني فامیلونه یې د بچي د سالمي تربیې یا د مور د صحت لپاره په کار اچوي، ترڅو چې د حمل موده لږه وځنډوی. د نسل د تحدید حرکت عام دی او دنسل د تنظیم حرکت خاص دی.

ځیني علما د تحدید او د تنظیم د اصطلاح ګانو تر منځ فرق نه کوي:

1- دکتور مصطفی کمال الترزی وایي، د نسل تنظیم ، د نسل تحدید ، د نسل تحکیم او د ولادت تنظیم دا نوي او معاصر اصطلاحات دي چې د عزل پر ځای استعمالیږي کوم عزل چې د عربو په نزد او ړومبنیو فقهاوو په منځ کي مشهوره اصطلاح وه، نو د ټولو معنی یوه ده چې هغه د نسل  تنظیم وي یا تحدید وي. خو اوس د تحدید په ځای تنظیم استعمالیږي، ترڅو د هغو خلکو توجه جذب کړي چې دغه نظریه ردوي([3]).

---

[1]الشـيخ مولا المصـطفى العلوى رئيس المجلس العلمى بمكناس و رئيس العلما المغرب، كتاب مجلة جامعة ام القرى، مولف مجموعة من المؤلفين، مصدر الكتاب: موقع المجلة على الإنترنت، الكتاب مرقم آليا غير موافق للمطبوع، جزء ۵، ۲۷۴.

[2]احمد جمال عضو مجلس الشورى و استاذ الثقافت الاسلاميه بجامعة أم القرى.

[3]مجلة مجمع الفقه الاسلامى، الدورة الخامسة لمؤتمر مجمع الفقه الاسلامى، عدد ۵، ص۳۴۵، سنة ۱۹۸۸ م الكويت.

2- شيخ رجب بيوض التميمى وايي[1]: – د نسل د تحديد او د نسل د تنظيم فكرونه دواړه په يوه معنى دي.

3- اونج بن باكل[2] وايي د نسل تحديد او د نسل تنظيم او د نسل ضبط دا مترادف الفاظ دي د دوى مطلب د نسل كمښت دى. ځكه هغه خلک چي دغه په عملي توګه په مخ وړي مقصد يې همدا دى چي د نسل د تحديد نه مراد د نسل د كمښت په اړه پريكړه كول دي، هغه داسي چي د څه اسبابو له كبله چي يا د ښځى صحت مطرح وي يا خاوند ډيرو بچوته نفقه نشي تيارولى زيږون بند كړي. ځكه تنګ لاسي وي او دولت دا فيصله وكړي چي محصولات كم دي او نسل زيات دى بايد د نسل د محصولاتو مطابق وي او يا نورې څرګندونې چي د دې حركت پلويان يې كوي(3).

**د څيرونكي نظر:**

د شيخ على العلوى دا نظر چي دايمي پلان ته تحديد وايي او مؤقت پلان ته تنظيم وايي دا راجح دى. ځكه چي نوموړى د دواړو اصطلاحاتو تر منځ فرق كوي او دا دواړه اصطلاح ګاني يو بل سره توپير لري.

## دويم مطلب د نسل د تحديد تاريخي سابقه

دغه خوځښت له ډير پخوا څخه شروع دى او پخوانيو قبايلو به د نسل د بنديز لپاره مختلفې طريقې كارولې[4]. له مصر قديم څخه ځيني آثار پاتې دي چي د نسل تحديد ثابتوي چي سابقه يې له ميلاد څخه تر مخه نولسمې پيړۍ ته رسيږي. له دې آثارو څخه يو هم اوبدل شوې توته وه چي د نسل د بنديز لپاره په

---

[1] الشيخ رجب بيوض التميمى عضو المجلس الوطن الفلسطينى و عضو مجمع الفقه الاسلامى.

[2] اونج حاج عبدالحميد بن باكل كبير القضاه باداره الشئون الاسلاميه ببرونى و عضو مجمع الفقه الاسلامى عن برونى تنظيم النسل و تحديده، ص ۲.

[3] مجلة مجمع الفقه الاسلامى، الدورة الخامسة لمؤتمر مجمع الفقه الاسلامى، عدد ۵،ص۴۸۳، سنة ۱۹۸۸ م الكويت.

[4] ابراهيم عبدالله، المسئلة السكانية قضية تنظيم الاسرة في بلدان العربي ص ۲۹ ط . ۱۹۹۴ . بيروت المركز الثقافي العربي

مهبل کې د پردې په توګه استعمالیدله. او اکسیا یو قسم بوټی او نبات دی چې په هغې به یې رنګوله او د ځیرنو نه وروسته دا څرګنده شوه چې دغه بوټی مخکې له دې چې مني د ښځې بویضې ته ورسیږي منوي حیوانات مړه کوي[1]. د ټولنیزو علومو علماو څرګنده کړې ده چې د نسل د تحدید نظریه له پخوا څخه مشهوره وه او سابقه یې د روم، لرغوني یونان او چنایانو تر پیړۍ رسیږي[2].

او همدارنګه د عربو په نزد هم د جاهلیت په زمانه کې په مختلفو طریقو سره د نسل د تحدید نظریه موجوده وه چې یو له هغې څخه د بچیانو قتلول وو چې په قرآن کریم کې هم ترې منع راغلې ده.(( وَلا تَقْتُلُوا أَوْلادَكُمْ خَشْيَةَ إِمْلاقٍ نَحْنُ نَرْزُقُهُمْ وَإِيَّاكُمْ إِنَّ قَتْلَهُمْ كانَ خِطْأً كَبِيراً))[3]

ژباړه : تاسو خپل بچي د ولږې له ویرې مه قتلوئ او موږ دوی ته رزق ورکوو او همدا راز تاسو ته او د دوی قتلول لویه ګناه ده. او بله طریقه یې د لوڼو ژوندي ښخول وو. ((وَإِذَا الْمَوْؤُدَةُ سُئِلَتْ))[4]

ژباړه: او کله چې له ژوندۍ ښخې کړای شوې جلۍ څخه پوښتنه وشي. او الله جل جلاله فرمايي: ((وَإِذا بُشِّرَ أَحَدُهُمْ بِالْأُنْثى ظَلَّ وَجْهُهُ مُسْوَدًّا وَهُوَ كَظِيمٌ (58) يَتَوارى مِنَ الْقَوْمِ مِنْ سُوءِ ما بُشِّرَ بِهِ أَيُمْسِكُهُ عَلى هُونٍ أَمْ يَدُسُّهُ فِي التُّرابِ أَلا ساءَ ما يَحْكُمُونَ))[5]

ژباړه: کله چې له دوی څخه یو چا ته د لور د زیږیدو زیری ورکول کیږي، نو مخ تور اوړي او هغه د وینو غړپ تیروي. له خلکو څخه پټ ګرځي چې د دې ناکاره خبر له اوریدو وروسته به څنګه له چا سره مخامخ شي. فکر کوي چې له شرم سره لور وساتي او که یې په خاوره کې ومنډي. وګورئ څومره ناوړه حکم دی چې دوی یې د الله په باب کوي.

---

[1]سالم، تنظیم النسل و تحدیده و موقف الشریعة الاسلام منه، ص ١٢٩ – ١٣١. رسالة الماجستیر.
[2]مجلة المجمع الفقه الاسلامي ص ٢١٨ دار عبدالله ابن عبدالرحمان البسام عنوان تنظیم النسل و تحدیده.
[3]سوره الاسراء، الایه ٣١.
[4]سوره التکویر، الایه ٨.
[5]سوره النحل. الایه ٥٨-٥٩.

د پیغمبر صلی الله علیه وسلم له بعثت څخه وړاندې د نسل د تحدید لپاره د بچیو قتل د عربو په نزد د دوه سببونو له کبله ترسره کیده. ۱ – اقتصادي مجبورتیا چې زموږ په رزق کې به اولاد شریک شي. ۲ ـ د پیغور له کبله[1].

کله چې اسلام راغی عرب یې له دې ناوړه عمل څخه منع کړل نو د مسلمانانو توجه د عزل لورته وګرځیدله عزل د تناسلي آلې ویستل دي د ښځې له فرج څخه، ترڅو چې مني بهر توی شي او حمل واقع نشي، چې دا کار یې درې وجوهاتو لپاره کوو.

۱ – دا چې ښځه بارداره نشي[2]

۲ – وینځه د حریت مستحقه نشي یعني ددې د بچي مور ونه ګرځي، ځکه چې دا وینځه په دې کار آزادیدله او دې ته ام ولده وایي[3]

۳ ـ تي خور بچي ته د رضاعت په موده کې څه تکلیف ونه رسیږي[4].

په اروپا کې د ټولني او یا حکومت په کچه د نسل د تحدید خوځښت په ۱۸مه پیړی کې پیل شو چې ددې نظریې ړومبنی شخص د مالتوس په نوم یواقتصاد پوه وو چې انګلترا ښار کې اوسیده او یوه مقاله یې په ۱۹۹۸ کال کې د ټولني پر پرمختګ باندې د هستوګنو کثرت اغیز کوي، تر عنوان لاندې خپره کړه[5] چې په دې رساله کې یې څرګندونه کړې ده چې د نسل تحدید ته ضرورت دی. ځکه د ځمکې پیداوار او حاصلات محدود دي د هستوګنو شمیر په تیزۍ سره مخ ته ځي هر پنځلس کاله وروسته موجوده نفوس دو چنده کیږي. او د دې مقابل ته غذایي مواد نه زیاتیږي بلکې آفتونه او مصیبتونه د

[1] مجلة المجمع الفقه الاسلامي، ص ۴۳۶.
[2] فقه السنة ج ۲، ص۱۲۵.
[3] النسیمي، الطب النبوي والعلم الحدیث ج ۲، ص ۵۵ – ۵۶.
[4] القرضاوي الحلال و الحرام في الاسلام، ص ۱۹۱.
[5] الاسلام و تنظیم الاسرة، ص ۳۸۰.

رزق سرچینې کموي او وايي چې اقتصادي ستونزې د انسان لپاره ټول يو تهديد دی بيا يې له خلکو څخه د کار او کسب غوښتنه وکړه چې کار او کسب وکړئ تر دې چې د هستوګنو له زياتوالي سره يې اندول برابر شي او په محصولاتو کې زيادت راشي. او نفوس د ځمکي له پيداوار څخه زيات نه شي[1]. تر څو چې له بدو عواقبو وساتل شو او د هستوګنو شمير زيات شي مالتوس وايي د خلاصون لپاره دوه لارې دي:

١ – وقايوي موانع ، هغهچې د هستوګنو پر زيادت باندې تاثير لري، دا چې زيږون کم او جنسي علاقه پرېښودل شي، شهواني غير منظم ارتباطات قطع شي، د نسل تحديد رامنځته او په دوه يا دريو بچو اکتفا وشي او کوم هيواد چې زيات بچي زيږوي او بيا له فقر سره مخامخ کيږي او دين او ټولنه متاثره کوي بايد توصيه ورته وشي چې د نسل تنظيم مراعات کړي[2].

٢ – ايجابي موانع: دا ګڼ شمير دي او هغه موانع دي چې د هستوګنو تعداد کموي چې عبارت دي له مهلکو امراضو او جنګ څخه، چې په دې سره د مړو شميره زياتيږي او هستوګنو تعداد کميږي. مالتوس يو بل مانع هم زيات کړی دی چې اخلاقي مانع دی او دا مانع د انسان ارادې پورې تړاو لري. د بيلګې په توګه له شر او فحشاو څخه د انسان ځان ساتنه په دې اساس د انسان فکر دی چې خپلو ظروفو او شرايطو او اقتصاد ته په پام سره د خپلو کورنيو د مشکلاتو د دفع کولو فکر کوي.

أ – کله چې څوک کورني مشکلات پوره کولی شي نو هغه ته روا دی چې کوژده وکړي اګر چه د هغه په نزد د کوژدې وروسته والی غوره کار دی.

[1] محمد سعيد رمضان البوطي تحديد النسل وقاية و علاجا ص ٣٨. ط ٢ مكتبة فارابي سنة ١٩٨١م.
[2] عبدالرحيم عبدالمجيد، علم الاجتماع السكاني ص ٥۴، مكتبة غريب.

ب ـ خو کله چې کورني مشکلات پوره کولی نه شي نو بيا مناسبه ده چې څه موده وروسته کوژده وکړي تر څو چې دغه امکانات برابر کړي.

ج – کله چې سړي ته د دغو کورنيو مشکلاتو پوره کول محال وي نو بيا دې ډير وروسته کوژده وکړي تر څو شهواني قوت ختم شي او اولاد پيدا نکړي. ځکه چې هغه د اولاد د سرپرستۍ قدرت نه لري[1].

مالتوس وايي: په هر حالت کې انسان بايد له اخلاقي فساد او زنا څخه ځان وژغوري او بايد ټول هغه کسان چې د واده توان نه لري، مجرد، متقي او پرهيزګار ژوند تير کړي. مالتوس په آخري بيان کې دا په ډاګه کړه چې د هستوګنو زيادت غالبا کميږي او د ژوند او معيشيت موارد ډير دي[2].

## دريم مطلب – د نسل د تحديد فقهي حکم

1- د پخوانيو فقهاوو نظر: د نسل تحديد د متقدمينو فقهاوو په نزد مستعمله اصطلاح نه وه پخوانيو وختونو کې خلکو نورې اصطلاح ګانې پيژندلې مثلاً تعقيم يا شنډتوب او خصي کول دا د دي لپاره وه چې حمل د تل لپاره له منځه يوسي.

أ- مالکيان فرمايي: چې د سړی لپاره منع ده چې خپل مني له منځه يوسي او خپل نسل کم کړي([3]).

ب- شوافع وايي د شهوت ماتول په ځينو وسايلو سره لکه کافور او د دې په څير مکروه دي او هغه وسايل چه سړی او ښځه له حمل څخه نا هيلي کوي، د داسې وسايلو کارول حرام دي. او کوم وسايل چه شهوت بالکل قطع کوي او دې ته د ورته دواګانو کارول جايز نه دي. ځکه دا صحت

---

[1] عبدالباقي زيدان، أسس علم السکان. ص ٥٦ – ٥٨ القاهرة مکتبة النهضت المصرية سنة ١٩٧٦م

[2] عبدالباقي، أسس علم السکان ص ٥٨

[3] محمد بن عبدالباقی بن یو سف الزرقانی المصری الازهری، شرح الزرقانی علی موطا الامام مالک، ج٣، ص٣٧٦، النا شر مکتبة الثقافة الدينية القاهرة، الطبعة الاولی ٢٠٠٣ میلادی.

ته هم ډیر زیان رسوي([1]). او شوافعو اتفاق کړی د تناسلي آلې پرې کول او یا خصي کول او همدارنګه کومې دواګاني چه شهوت قطع کوي، ټول منع او نا جایز دي([2]).

په دې مسئله کې ښځه او سړی دواړه یو حکم لري البته باحث په دې اړه د احنافو او حنابله وو نظر په دې مورد پیدا نکړو.

د الله تعالی په دې قول ((ذٰلِكَ أَدْنى أَلاَّ تَعُولُوا))([3])

ژباړه – د یوې سره نکاح ځکه وکړی دوه او دری او څلورو تر څو چه ستاسو عیال کم شي او ستاسو عیال زیات نشي)، د امام شافعی یو تفسیر نقل شوی دی چې دغه تفسیر یې د کنایې په طریقه ذکر کړی او هغه داسې چې (تعولو دعال الرجل عیاله ییعولهم) څخه دی[4]. نو (تعولو) د عیال څخه عبارت دی اولاد ته وایي او وایي چه عیال زیات شي نو لازمه ده چې نفقه یې هم زیاته شي نو انفاق استعمال شو او لازم د معنا کې ده چې هغه زیات عیال دی.

سفیان ابن عیینه ددې تفسیر په اړه فرمایي ((أَلَّا تَعُولُواْ ))ای لا تفتقرو)([5])

ژباړه – ځان باندی سهولت وکړه د عیال له وجهې. او نور مفسرین وایي د دې آیت په تفسیر کې (ان لاتعولوا ای لا تجورو ولا تمیلو)[6] چه ظلم ونه کړي اوبلی ښځې ته مایله نشي یعنې که تاسو دوو او دریو او څلورو ښځو کې عدل نه شئ کولائ نو یوه وکړئ چه عدل قایم شی.

---

[1] احمد بن علی بن حجر الهیثمی ، تحفة المحتاج فی شرح المنهاج، کتاب النکاح ج۷، ص ۳۶۱، ناشر المکتبة التجاریة الکبری لمصر لصاحبها مصطفی محمد، تاریخ نشر، ۱۹۸۳ میلادی،

[2]البدر التمام للعسقلانی۳۳۲/۳ بتصرف.

[3]سورة النساء الایة۳.

[4] ابن منظور، لسان العرب، ، مخکنی، ج۲، ص۵۸۱.

[5]روح المعانی، محمود الآلوسی۱۹۷/۴، ط۴ سنة ۱۹۹۵ م، احیاء التراث العربی، بیروت.

[6]تفسیر الطبری۵۸۳/۳.

## د ځیرونکي نظر

د شوافعو قول صحیح دی چې وایي که ښځه او خاوند هغه و سایل استعمال کړي چې نسل پرې قطعه کیږي او یا د هغه دواګاني استعمال کړي چې شهوت له منځه وړي دا کار نا روا دی. همدارنګه خصي کول د تناسلی آلې قطع کول یا نورې دواوې چه نسل په دایمي توګي سره قطع کوي نا روادي.

## د نسل د تحدید په اړه د معاصرو فقهاوو نظر

شیخ عثیمین وایي: علماوود نسل قطع په نهایي ډول حرامه بللي دی، ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم چې د امت په اړه کومه اراده لري د هغې خلاف ده او د مسلمانانو د ذلت لامل ګرځي، چې مسلمانانو ډله ځومره زیاته شي هومره یې عزت او اوچتوالی ډیریږي. الله متعال دغه زیاتوالی د احسان او انعام پر ځای استعمال کړی، الله جل جلاله فرمایي (وَجَعَلْنَاكُمْ أَكْثَرَ نَفِيراً[1])

ژباړه: موږ ډیر کړئ د تعداد له اړخه. شعیب علیه السلام خپل قوم ته د همدې خبرې یادونه وکړه او وې فرمایل: ((وَاذْكُرُوا إِذْ كُنْتُمْ قَلِيلاً فَكَثَّرَكُمْ))([2])

ژباړه: (یاد کړئ هغه وخت چې کله لږ وئ الله تاسو زیاد کړئ)، دا حقیقت دی، چې ډیر امت د نورو څخه بې پروا وي، د دښمن پروړاندی ډیر هیبت لري، نو که چیرې ډیر ضرورت وي او زیږون د مور د مړینې سبب ګرځي نو بیا کوم باک نه لري، که چیرې مور د زیلانځ په ناروغۍ اخته وي، نو ددې اړتیا له مخې مور کولی شي چې د نسل له منځه وړلو لپاره لارې چارې چمتو کړي([3]).

۲- د کتور محمد سعید رمضان البوطي وایي چې د نسل د له منځه وړلو لپاره هیڅ جواز نشته، که چیرې غالبا یا یقینا د مور لپاره د حمل خطر وي، نو کوم باک نشته، د نسل د له منځه وړلو هڅه د نکاح له

[1]سوره الاسرء، الایة ۶.
[2]سورة الاعراف الایة ۸۶.
[3]فتاوی النساء، لمحمد بن عثیمن والفوزان و ابن باز، ص۴۸۸ و ما بعدها و شرح الممتاع، لابن العثیمن ۲۸۴/۵.

فلسفي څخه خلاف ده، ځکه نکاح د نسل لپاره ترسره کیږي، نو د حمل درول تر یوې مودې یا یې بیخي له منځه وړل د مصلحت له اړخه چې د ښځې او خاوند پورې تړاو لري.([1])

۳- شیخ محمد سعید طنطاوي وایي: د نسل تحدید په دایمي توګه د نسل د له منځه وړلو په مانا دی، او شرعا ناروا دی، البته د ښځې او خاوند په اتفاق د نسل درول تر یوې معینې اندازې پورې چې موخه یې د سالمې تربیې لپاره د غړو کموالی وي شرعا روا دی.

۴- شیخ شلتوت وایي: د نسل د تحدید لپاره عام قانون صادرول روا نه دي، ځکه اسلامي شریعت ددې منع کړې ده، او دا دلایل یې وړاندې کړي، چې اسلامي شریعت  قوت، ابادي، د کاریګرو ډیروالی، د نکاح ترسره کول او  همدارنګه د نسل پراخي ته ترغیب ورکوي([2]).

**لنډیز**

د معاصرو فقهاوو له نظره د نسل د تحدید د حکم په اړه دا څرګنده شوه چې دوی په نهایي ډول د نسل د له منځه وړلو په حراموالي متفق دي، خو د اړتیا له مخې چې مور ته یقیني او احتمالي ضرر موجود وي بیا روا بلل کیږي، د نسل د له منځه وړلو  هڅه د نکاح د موخې څخه مخالفه ده، خو رخصت یې د مصلحت په بنا دی چې د مور او ماشوم صحت ته پاملرنه یې یوه بیلګه ده. بله دا چې کوم مشروع رخصت چې په شریعت کې شتون لري هغه ځانګړو افرادو پورې تړاو لري، په امت باندې د نسل د تحدید لپاره عام قانون لازم کول ناروا بلل کیږي.

---

[1]مجلة مجمع الفقه الاسلامی، الدورة الخامسة لمؤتمر مجمع الفقه الاسلامی، عدد ۵، ۱۷۸/۱ و ما بعدها، سنة ۱۹۸۸ م الکویت.

[2]- محمود شلتوت، الفتوی ۲۹۴ و بعدها بتصرف.

## د ځیرونکي نظر

د ښــځې او نارینه د شــهواني قوت له منځه وړل چې اړتیا ورته نه وي حرام دي، خو د نطفې له منځه وړل د لنډ مهالي مودې لپاره د مصلحت پر بنا جایز ده.

## څلورم مطلب: د نسل د تنظیم او د نسل د تحدید فرق

د اسلامي شریعت له مقاصدو څخه یو هم د نسل ساتل دي له همدې وجې اسلامي شریعت ټول هغه اسباب غندلي او حرام گرځولي چې نسل له منځه وړي. ځکه چې دا کار د شریعت د مقاصدو خلاف دی او الله پرې ناراضه کیږي څرنګه چه اسلام د جهالت هغه غلط رواج رد او حرام وګرځاوه چې لونې یې ژوندۍ ښخولې څو هغه خلک د عزت او د کرامت ژوند تیر کړي چې دې دنیا ته یې سترګې غړولي دي او بشر چې کله زیږون زیات کړي نو امت هم زیاتیږي او د اسلامي امت عزت په ډیر نسل سره دی او د الله پیغمبر په دې هکله ډیر ترغیب ورکړی دی چې فرمایي (تزوجوالودود الولود فانی مکاثر بکم الامم یوم القیامة)

ژباړه – تاسو د هغې ښځې سره نکاح وکړي چې ډیر بچي راوړونکي او مینه کوونکي وي ځکه زه د قیامت په ورځ ستاسو په ډیروالي افتخار کوم.

دلته د نسل د تنظیم او تحدید یوه موضوع ده چې په دې کې ډیر اختلاف او نظریات وجود لري خصوصاً په موجوده حال کې، ځکه چې د ژوند مسئولیتونه ډیر شوي او انسانان د خپل قوت د حصول لپاره مصروف دي او همدا رنګه په دې زمانه کې د تعداد نه لوړ کیفیت ډیر مهم بلل کیږي نو ځینې خلک د نسل د تحدید په فکر کې دي او ځینې د نسل د تنظیم په فکر کې دي نو دلته ضروري ده چه د تنظیم او تحدید فرق وشي. ([1]).

[1] ـ مجلة مجمع الفقه الاسلامی، الدورة الخامسة لمؤتمر مجمع الفقه الاسلامی، عدد ۵، ۱/ ۱۵۱ و ما بعدها، سنة ۱۹۸۸ م الکویت.

## د نسل تحدید

د نسل تحدید یوه مستقله او جدا موضوع ده او د نسل د تنظیم سره توپیر لري. د نسل تحدید په نهایي توګه د حمل بندولو په معنی دی یا دا چې د یو او دوو بچیو نه وروسته په دایمي توګه د نسل بندولو ته د نسل تحدید وایي.

## د نسل د تحدید حکم

د نسل تحدید جایز نه دی بلکه د ښځې او خاوند لپاره دا مناسب دی چې همیشه د بچي او د نسل په طلب او فکر کې وي. ځکه اسلامي شریعت د نسل د زیادت لپاره ترغیب ورکړي تر څو په ځمکه د الله عبادت وکړي او د شریعت تابعداري وکړي او ښایی چې الله دوی نه داسې صالح اولاد پیدا کړي چې په دنیا ورته فایده ورسوي او دعا ورته وکړي او امت ته هم په دین او دنیا فایده ورسوي نو د نسل تحدید مناسب نه دی. البته که چیرې مور ته زیان وي مثلاً په زیلانځ ناروغۍ اخته وي او یا د کوم بل ضرر ویره وي او طبیب هم دا مشوره ورکړي وي چې د حمل د بندولو پرته بله لار نه لري، نو خلاصه دا شوه بعضی وخت د نسل بندول د حاجت اوضرورت له کبله هغه وخت جایز دی چې د مرض یا د اولاد د ډیروالي له کبله چې مور او پلار ته یې تربیه سخته وي. ([1]).

## د نسل تنظیم

د یو حمل تر بل حمل یا د یو اولاد تر بل اولاد پورې د وقفې راوستلو ته د نسل تنظیم وایي او دغه وقفه کله درې کاله او کله څلور کاله وي. نو تنظیم له تحدید سره توپیر لري. ځکه تحدید د په دایمی توګه د حمل د بندولو په معنی دی. خو د نسل تنظیم یو مؤقت پلان دی او د اولاد د ښې تربیې په موخه ترسره

---

[1] - مجلة مجمع الفقه الاسلامی، الدورة الخامسة لمؤتمر مجمع الفقه الاسلامی، عدد ۵، ۴۲۰/۱ و۴۲۷/۱ و ۴۴۰/۱ ما بعدها، سنة ۱۹۸۸ م الكويت.

کیږي چې د اولاد ښه تربیه وشي نو په دې مورد کې پلانونه اودرسونه او اعلانات په کار اچول کیږی اوفامیلونه د نسل د تنظیم لپاره هڅول کیږی.[1]

### د نسل د تنظیم حکم

د نسل تنظیمول جایز دي خو په دې شرط چې مشکلات وي لکه د بیلګې په توګه د مور صحت له خطر سره مخامخ وي چې د پرله پسی زیږون توان ونه لري د بچي صحت له خطر سره مخامخ وي چې هغه سوء تغذي ده. همدارنګه د بچي د سالمی تربیي لپاره هم جایز دی. ځکه پرله پسي حمل د مور لپاره ستومانونکی وي او مور يې د تربیی لپاره نه اوزګاريږي.

### لنډيز

1- د تحدید او تنظیم اصطلاح ګاني بعضی علماء وایي ددې دواړو نه مقصد یو دی او بعضی علما وايي چې تنظیم خاص تر کورنۍ پورې ارتباط لري او تحدید یو عام حرکت دی.

2- تنظیم یو مؤقت پلان دی تر یوه وخته او تحدید دایمي پلان دی.

3- تنظیم تر کورنۍ پوري تعلق لري او تحدید کله د کورنۍ په سطحه او کله دولت په سطحه؛

4- د تنظیم نسل په مشروعیت کې د چا اختلاف نشته او تحدید اکثره علماوو نا جایز بللی او د غرب دسیسه يې بللي ده.

5- . دنسل تنظیم غالبا دمور، بچي ،دصحت په موخه وي البته دنسل تحدید غالبا دجنسي خواهشاتوپه بناءوي .

[1] WEZIWEZI.COM.

## دويم څپرکی

## د نسل د تنظيم لاري چاري

### لومړی مبحث: عزل

**۱- عزل او د نسل تنظيم:**

عزل د نســل د تنظيم يو پخوانی ميتود دی، عزل د اســلام له ځرکه را پديخوا تر ننه پورې رواج لري، په عزل کې يوازنی هدف د نسل تنظيم او د ماشومانو د زيږون ترمنځ فاصله رعايت کول دي، نو ويلای شو چې د لومړي ځل لپاره د عزل په طريقه سره د نسل د تنظيم بنسټ ايښودونکي اسلام دی، د عزل په هکله جليل القدر صحابی جابر(رض) وايي: «كُنَّا نَعْزِلُ وَالْقُرْآنُ يَنْزِلُ».[1]

ژباړه: موږ عزل کاوه او قرآن نازلېده. په دې معنی چې دوی د کورنۍ د تنظيم لپاره له عزل نه ګټه اخســـتله په داســـې حال کې چې قرآن نازليده او دوی يې منع نه کړل، که چېرې عزل ناروا او نا جايز کار وای نو هرو مرو به دوی منع شوي وای، په داسې حال کې چې خدای(ج) فرمايي: «مَا فَرَّطْنَا فِي الْكِتَابِ مِنْ شَيْءٍ».[2]

ژباړه: موږ په کتاب کې هيڅ شي نيمګړي نه دي پريښي.

او همدارنګه فرمايي: «وَمَا كَانَ رَبُّكَ نَسِيًّا».[3]

---

[1]- البخاری، محمد بن إسماعيل أبو عبدالله البخاري الجعفي، صحيح البخاری، باب العزل، د حديث شمېره (**5208**).
[2]- الانعام/ ۳۸ .
[3]- مريم/ ۶۴ .

ژباړه -او ستا رب هېروونکی نه دي. او رسول اکرم(ص) کله هم د حق له بیان نه سکوت نه دی کړي، ځکه چې د حاجت په وقت کې د بیان تأخیر د اصولو له کبله د رسول اکرم(ص) په حق کې درسته خبره نه ده.

## لومړی مطلب د عزل معنی

- لغوی معنی: عزل په لغت کې په معنی د جداکول، منع کول او لری کول سره ده لکه عرب وایی (عزل الشئ) یعنی جدا شو دا څیز همدارنګه وایی (عزله عن العمل ای نحاه) یعنی د کار نه یې ګوښه کړ[1]. الله متعال فرمایی(إِنَّهُمْ عَنِ السَّمْعِ لَمَعْزُولُونَ)[2] یعنی دا شیاطین د وحیی د اوریدونه منع دی همدارنګه د قدریو یوی فرقی ته معتزله وایی ځکه دوی د حسن بصری د ډلی نه جدا شوي وو.
- د عزل اصطلاحی تعریف:

1- د حنفیه وو په نزد: (الانزال خارج الفرج)[3]- تویول د منیو د ښځی د شرمګاه نه بیرون.

2- د مالکیه وو په نزد: (عدم انزال الماء فیها)[4] – نه تویول د منیو په شرمګاه کی.

3- د شافعیه وو په نزد: (بان ینزل بعدالجماع خارج الفرج)[5] د کوروالی وروسته منی بیرون د شرمګاه نه تویول.

4- د حنبلیه وو په نزد: (ان ینزع قبل الانزال فینزل خارج الفرج)[6] – چې آله تناسلی وباسی او بیرون د شرمګاه منی تویه کړي.

---

[1]- ابن منظور، لسان العرب، ماده عزل، ج ۱۱ ، ص ۴۴
[2]- الشعرا، الایة ۲۱۲.
[3]- محمد بن علی بن محمد الحصفکی، تحقیق عبدالمنعم خلیل ابراهیم، الدرالمختار، ص ۱۹۷ ، ط ۱.
[4]- شرح الزرقانی علی المؤطأ، ج ۳، ص۳۹۹.
[5]- امام زکریا بن محمد الانصاری، الغرر البهیه ۴۷۴/۷ ، ط ۱ سنة ۱۹۹۷ م دارالکتب العلمیه بیروة
[6]- ابو محمد موفق الدین عبدالله احمد بن محمد بن قدامة المقدسی الحنبلی، المغنی، الناشر مکتبة القاهرة، الطبعة بدون طبعه، تاریخ نشر ۱۹۶۸میلادی، ج ۹، ص۶۰۰؛ و فتح الملک العزیز بشرح الوجیز للبغدادی ۴۴۵/۵.

او په موسوعه فقهي کي راغلي چي يو سړی د خپلي ښځي سره کوروالي و کړي کله چه د منيو تويیدل قريب شي نو هغه بيرون توی کړي[1].

**لنډيز**

د ځلورو مذاهبو د تعريفونو څخه ځيرونکي ته څرګنده شوه چي دوی د عزل په اصطلاحي تعريف کي متفق دي چي عزل عبارت دی د منيو تويول د شرمګاه څخه بيرون او د دي تعريفونو ارتباط او علاقه د معاصرو اسبابو کوم چي د نسل د تنظيم لپاره استعماليږي هغه داده چي د حمل نيته د يو (هدف) لپاره و ځنډول شي.

## دوهم مطلب: فقهی مذاهب د عزل په حکم کی

د نسل د تنظيم اصطلاح دا يوه جديده او نوي اصطلاح ده لکه څرنګه چي پرومبنيو علماوو د حمل او زيږون په منځ کي واټن ته به د عزل اصطلاح استعمالوله نو د عزل حکم بايد په ځلورو مذاهبو او د ظاهيريه وو په نزد بيان شی.

**1- د حنفيه وو مذهب:** حنفيه وايی د عزل لپاره دوه صورتونه دي.

- مکروه تنزيهي؛
- جايز.

لومړی مکروه: هلته ده چي د ښځي له اجازی څخه پرته وي دليل ځکه وطي د انزال سره د بچی د حصول سبب دی او دا بچی د ښځي حق دي نو بايد عزل د ښځي په اجازه وي.

[1]- الموسوعة الفقهية ٨/٢٤ ط ٣ ، سنة ٢٠٠٥ م ، وزارت الاوقاف و الشئون الاسلامية

دوهم جایز: هلته ده چي د ښځي په اجازه وي او ښځه د خپل حق په ضایعه کولو راضي وي[1].

د دوی دلیل د حدیث نه: د جابر(رض) روایت ده (كُنَّا نَعْزِلُ عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالقُرْآنُ يَنْزِلُ»)[2]

ژباړه: مونږ د پیغمبر په زمانه د ښځونه عزل کاوو او قرآن هم نازلیده. همدارنګه فرمایي (كُنَّا نَعْزِلُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ بَيْنَ أَظْهُرِنَا رَوَاهُ مُسْلِمٌ عَنْ سَلَمَةَ وَزَادَ فَيَبْلُغُ ذَلِكَ النَّبِيَّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسلم فَلم ينهانا)). [4][3]

ژباړه– مونږه د پیغمبر په زمانه کي عزل کاوو دا خبره پیغمبر ته ورسیدله خو مونږ یي د عزل څخه منع نه کړو. دا احادیث په جواز د عزل دلالت کوی صحابه وو عزل کاوو او پیغمبر(ص) هم خبر وو او وحیه هم نازلیدله خو د عزل حرمت نازل نه شو او په یو حدیث کې راځي (اعْزِلْ عَنْهَا إِنْ شِئْتَ) یو صحابي ته پیغمبر(ص) وایي چي عزل وکړه نو دغه احادیث د جواز دلیل دی.

**2- مالکیه وایی:** دوی عزل د ښځي په اجازه شرط ګڼی چي هغه د عوض په مقابل کي وي یا پرته له عوض څخه وي نو که عزل ته ضرورت وو جایز ده او که ضرورت نه وو نو مکروه ده[5].

**3- شافعیه وایی:** دوی په دي اړوند دوه قوله لري، مکروه تحریمي او مباح.

[1]- علاء الدين، أبو بكر بن مسعود بن أحمد الكاساني الحنفي (المتوفى: 587هـــ)، بدايع الصنايع ، للكاسانى، ج ۳، ص ۶۱۴، الناشر: دار الكتب العلمية، الطبعة: الثانية، 1406هـ - 1986م. ۶۱۴/۳

[2]- محمد بن إسماعيل أبو عبدالله البخاري الجعفي، الجامع المسند الصحيح المختصر من أمور رسول الله صلى الله عليه وسلم وسننه وأيامه، كتاب النكاح باب العزل ج ۳ ، ص ۲۶۲تحقيق: محمد زهير بن ناصر الناصر، الناشر: دار طوق النجاة (مصورة عن السلطانية بإضافة ترقيم ترقيم محمد فؤاد.

[3] سبق تخريجه

[4]- اخرجه الامام مسلم فی صحیحه ، فی کتاب النکاح ، باب حکم العزل ۵۰۲/۲

[5]- شرح الزرقانی ۳۹۹/۳

لومړی مکروه: امام نووي وايي عزل مکروه ده نو ځکه جذامه بنت وهب وايي يو ځل پيغمبر(ص) حاضر وو د عزل په مورد ترينه پوښتنه وشوه نو ويي فرمايل: دا د بچي ښښول دي په مخفي توګه او بيا يي دا آيت و فرمايل(**وَإِذَا الْمَوْءُودَةُ سُئِلَتْ**)[1]- [2]

ژباړه: ياد کړه هغه وخت چي کله د ښخ شوي بچي څخه پوښتنه وشي چي بيګناه ښخ شوي نو د ياد حديث نه د عزل کراهت معلوميږي.

دوهم مباح: د عزل د اباحت لپاره د جابر(رض) روايت دليل دی (كُنَّا نَعْزِلُ عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالقُرْآنُ يَنْزِلُ)

ژباړه - مونږ د پيغمبر په زمانه د ښځونه عزل کاوو او قرآن هم نازليده.

د دي حديث نه څرګنده شوه چي صحابه کرامو عزل کاوو قرآن هم نازليده او عزل حرام ونه ګرځيده او د ښځی اجازه هم پکی شرط ونه ګرځيده.

**4- حنبليه مذهب:** حنابله وايی چي عزل د ضرورت په وخت کي جايز دی البته د ضرورت نه پرته مکروه دی ځکه چي د نسل او لذت انقطاع ده.

**دليل:** پيغمبرعليه السلام د بچي په پيدايښت ترغيب ورکړي او فرمايي (سَوْدَاءُ وَلُودٌ خَيْرٌ مِنْ حَسْنَاءَ لَا تَلِدُ)[3]

---

[1]- سورة التکوير، آيت ٨

[2]- اخرجه امام مسلم فی صحيحه ، فی کتاب النکاح، باب حکم عزل ج٢، ص٥٠١.

[3]سليمان بن أحمد بن أيوب بن مطير اللخمي الشامي، القاسم أبو الطبراني (المتوفى: 360هـ )معجم الكبير، جز ١٩/ ص،.٤١٦الناشر: مكتبة ابن تيمية – القاهرة الطبعة: الثانية

و قال الحافظ الهيثمی فی مجمع الزوائد رواه الطبرانی و فيه علی بن الربيع (هو ضعيف) مجمع الزوائد لعلی بن ابی بکر الهيثمی،تحقيق حسام الدين القدسی،۴/ ٢٥٨، سنه ١٩٩۴ميلادی، مکتبة القدس القاهرة.

ژباړه – توره بچي زيږونکي بهتره ده د ښايسته شنډي نه. او دوی وايي چه عزل حرام دی د ښځی له اجازي پرته ځکه حديث دی(نَهَی رَسُولُ اللَّهِ صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُعْزَلَ عَنِ الْحُرَّةِ إِلَّا بِإِذْنِهَا)[1] ژباړه – د الله رسول د اصيلی ښځي د عزل نه منع کړي مګر د اجازي په صورت کي ځکه د دي ښځي په بچي کي حق دی او په عزل کي د ښځي ضرر دی نو عزل د اجازي پرته جايز نه دی او دغه منع په حديث کي د عزل نه دا د تحريم لپاره ده البته د اجازي په صورت کي روا ده.

## 5- د ظاهيريه وو مذهب: دوی وايی عزل حرام دي.

دليل: د جزامه بنت وهب چي د عكاشة خور وه روايت كوي چي (سَأَلُوهُ عَنِ الْعَزْلِ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «ذَلِكَ الْوَأْدُ الْخَفِيُّ»، اوبيايي وفرمائيل(وَإِذَا الْمَوْءُودَةُ سُئِلَتْ) ا)2

ژباړه - پيغمبر عليه السلام په يو مجلس کي حاضر وو نو تري پوښتنه وشوه د عزل په مورد کي نو هغی ځواب ورکړ چي دا د بچی ښخول دي په پټه توګه او بيا يي د قرآن آيت و فرمايه، ژباړه – او کله چي له ژوندي ښخه کړي شوي جلي څخه پوښتنه وشي چه ته په څه ګناه ژوندي ښخه شوي ظواهر وايي: د جذامه حديث ناسخ دی د ټولو هغو احاديثو لپاره چي ترينه د عزل اباحت معلوميږي ځکه د عزل د اباحت موضوع د بعثت نه مخکي وه ځکه چي فرمايي چي عزل پټ ښخول نو هغه مخکينی اباحت په يقين سره نسخ شوی او ظواهر وايي د ابن عمر څخه يو اثر نقل دی چي ابن عمر به عزل نه کاوو او ويل يي که زه خبر شوم چي زما بچی عزل کوي نو هغه ته به سزا ورکړم نو دغه اثر دلالت کوي چي عزل جايز نه دی البته دغه دعوی د نسخ صحيح نه ده ځکه تاريخ معلوم ندی چه کوم روايت ړومبی دی او کوم وروسته دی.

1 سبق تخريجه

[2] رواه مسلم سيق تخريجه.

## د امام غزالی نظر

امام غزالي د احياء علوم الدين په کتاب کې، چې په خپله د شافعي مذهب پيرو وو، د متقدمينو اسلامي مشايخو نه شمارل کيږي هغه وايي:

۱) د ميرمنې رضايت، سره عزل روا دی.

۲) د وينځې سره د جماع په صورت کې عزل روا دی.

۳) امام غزالی لومړی دا نظر درلوده چې پرته د څه شرط څخه د اصيلي نه عزل کول روا ندی.

۴) بيا امام غزالي وروسته څرګنده کړه چې عزل زمونږ له نظره (په شافعي مذهب کې) مشروعيت لري. بيا هغه له اميدواری څخه د مخنيوي لپاره پنځه دليلونه په دې توګه ځانګړي کوي:

- د ميرمنې د ښايست ساتنه؛
- د ميرمنې روغتيا ساتل؛
- د زيږون له خطرونو څخه ساتنه؛
- د خپلو ماشومانو د ملاتړ لپاره د ډير کار فزيکي ستونزې؛
- د اقتصادي ستونزو د رامنځته کېدو د مخنيوي لپاره.

امام غزالي وايي: «د اقتصادي ستونزو له کمېدو سره تقوا او پرهيزګاري تقويه کيږي». امام غزالي له اميداورۍ څخه د مخنيوي او سقط ترمنځ توپير روښانه کړی دی،عزل يې روا او سقط يې ناروا بللی دی.[1]

حنفي مذهب عزل د ميرمنې په تفاهم روا ګڼي مګر وروستي علما حکم کوي چې په خرابو حالاتو کې «مذهبي انحطاط» او د نا صـــالح اولاد له لرلو څخه د ډډې لپاره د ميرمنې تفاهم نا ليدلی نيول کېدای شـــي. مالکي او حنبلي مذهبونه د شـيعه زيديه د تګلارې په شـــان، عزل د ميرمنې د رضـــايت ورکولو په صورت کې روا بولي. شيعه اماميه غوره بولي چې د عزل لپاره د ميرمنې رضايت بايد د عقد پر مهال واخيستل شـي. امام شـوکاني له پورته دليلونو څخه برسـېره، د ماشـوم سـاتل د اميدوارۍ ميرمنې د بدل شـوي شـي له خوړلو څخه او د ډېرو اولادونو له لرلو څخه د مخنيوي لپاره د عزل نور دليلونه بولي. اسـلامي نظرونو ته له لنډې کتنې څخه داسـې څرګنده ده چې له اميداورۍ څخه د موقتي وقايې په موخه عزل جايز دی. د حضرت جابر رضی الله عنه په روايت چې د صحيح مسلم په کتاب کې روايت شوی دی او په داسې حال کې چې قرآن کريم د نازليدو په حال کې وو (د صحيح مسلم په روايت)، صحابه کرامو د اسلام د پيغمبر ص په زمانه کې له عزل څخه استفاده کوله پيغمبر ص د هغه په اړه اطلاع تر لاسه کړه مګر له هغه څخه يې منع و نه کړه. له دې امله هغه ډول چې مخکې و ويل شول له اميداورۍ څخه مخنيوی او د ولادتونو ترمنځ واټن ورکول دعزل په واسطه جواز لري. [2]

1 أبو حامد محمد بن محمد الغزالي الطوسي (المتوفى: 505هـــ)، إحياء علوم الدين، آداب النكاح، جلد ٢، ص ٥٢، الناشر: دار المعرفة – بيروت، عدد الأجزاء: 4.
2 سعد جميل سليم الريس، النسل حفظه و تنظيمه رسالة الماجستير جامعة الازهر غزه، ١٤٣٣هـ ق.

**لنډیز**

د څلورو مذاهبو او ظاهیریه وو د قول څخه معلومیږی چې د حنفیه وو او مالکیه وو یو قول د شافعیه وو د قول په څیر دی چې عزل جایز ګڼي خو کله چې د ښځې اجازه وي او حاجت یې وي د شافعیه وو په یو قول او د حنبلیه وو په یو قول عزل مکروه دی کله چې حاجت نه وي او د ظاهیریه وو په نزد حرام دی.

د څیړونکي نظر: زما په آند کوم چې احنافو ورته تګ کړی دا صحیح ده بنا د جابر په حدیث.

## دوهم مبحث: د نسل د تنظیم معاصری لاری چاری

د نسل نتظیم اصطلاح دا یوه نوي اصطلاح ده د لومړنیو علماوو په مینځ کې رواج نه وه البته پخوا به د حمل په مېنځ کې د واټن لپاره د عزل کلمه استفاده کېدله او همدارنګه به د رحم په خوله کې ټوټه ښودل کېده او داسي نورې طریقي، خو په حاضر وخت کې د حمل د بندیدو لپاره معاصرې لارې چارې وجود لري چې په لاندې ډول دي؛

### لومړی مطلب: د معاصرو لارو چارو پیژندنه

د نسل د تنظیم وسایل یا لارې چارې دوه قسمه دي. ۱- تقلیدي ۲ـ معاصر او جدید

**۱ـ تقلیدي وسایل**

أ-عزل: هغه ته وایي چې د انزال د نږدیوالي پر مهال تناسلي آله د شرمګاه ویستل شي او مني بهر توی شي چې حکم یې وړاندې تیر شوی دی.

ب- طبعی رضاعت: د حمل د بندولو لپاره دا یوه کامیابه وسیله ده ځکه چې زیاتره ښځې د رضاعت په موده کې حمل یا بار نه اخلي. خو دا وسیله د حمل د بندولو ضمانت نه شي ورکولی ځکه چې ځیني ښځې دا عادت لري او ځیني یې نه لري.[1]

ج- د امان موده: د میاشت په اوږدو کې داسي وختونه شته چې ښځې حمل نه په کي اخلي، خو دغه وخت ته متوجه کیدل او ددې التزام مشکل کار دی چې په دغه وخت کې ښځه او خاوند د جماع نه ځان وساتي.[2]

۲- معاصر او جدید وسائل.

وسایل په دوه قسمه سره دی عصری اوغیر عصری یا عنعنوی.

**۲- معاصر او جدید وسایل**

1. **کنډم** یا پوقانه د زنانه او مردانه یې دواړه استعمالوي په افغانستان کې یوازی نارینه استعمالوي او د هرې اجماع په وخت کې استفاده ترې کیږي.
2. **ګولی** دا په منظم شکل هره ورځ استعمالیږي او دا دوه قسمه سره دي POP یعنی پروجسترون دا تي ورکونکو میدنو لپاره چه دما شوم په شیدو تاثیر ګذار نوي، COC یعنی ایترپروجسترون دا هغو میندو لپاره چې تي ورکونکي نه وي دا ګولي تناسلی سیستم کنترولوي.
3. **پیچکاري** او دا په دری قسمه سره دیو میاشت لپاره د دوومیاشتو لپاره ددریو میا شتو لپاره او په افغانستان کې دغه اخر قسم استعمالیږی.

---

[1] امکان وسائل منع الحمل، دراسة طبيه فقهية رسالة الماجستر للعباسی مجدوب محمد. ص۴۰.
[2] الموسوعة الفقهية الكويتية ، ۲۵۳ ، ص ۶۴، سنة ۲۰۰۸م، وزارة الاوقاف الكويت

4. **لوپ یا iud** یعنی اله داخل رحمي داپه دری قسمه سره دی ۵کلن ۳کلن ۱۰کلن او افغا نستان کې دغه اخری قسم استعما لیږي، درې کلن وړه میله ده چې د قابیلې په واسطه په رحم کې ځای پرځای کیږي او په خپله خوښه بیرته لیرې کیږي

5. **جدل یا Implant** چپ بازو کې دو میله شکله راډونه ایښودل کیږي پنځه کاله مؤثریت لري.

6. **پوستی توپ** یا ایمرجنسی دا دوه ګولی ۷۰ ساعته کار کوي دا هغه وخت استعمالیږي چې کنډم یا نور وسایل نه وي. نو فوري توګې سره سپرم له منځه وړي ددې استعمال په نوره دنیا کې غیر مشروع ده.[1]

**د نارینه او ښځینه د سپرم او تخمی په هکله معلومات**

**د ښځې تخمه**



(۲-۱شکل)

1 په کابل کې د کورني تنظیم د عمومی مرکز د ډاکټرانو معلومات.

دا د انسان د بدن تر ټولو لويه حجره ده چې د ويښته د څوکې هومره جسامت لري. د ښځې يوه تخمه د ۱۵۰۰۰ سپرمونو هومره جسامت لري.  يوه ښځه په ټول عمر کې ۳۰۰ – ۴۰۰ تخمې جوړوي او د هرې تخمې پخيدل يو کال وخت نيسي.[1]

**د نارينه تخمه (سپرم)**



(۲-۲ شکل)

د يو نارينه په وجود کې هر ثانيه ۱۵۰۰ سـپرمونه جوړيږي. د هر يوه سـپرم جوړيدل ۷۰ ورځې بر نيسي او په هر انزال کې ۴۰ ميليونه سپرمونه خارجيږي. [2]

**د تخمې او سپرم القاح**



(۲-۳ شکل)

[1] ډاکټر عبدالملک فيضی، د زيږون تر مينځ واټن راوستل د طب له نظره.
[2]ډاکټر عبدالملک فيضی، د زيږون تر مينځ واټن راوستل د طب له نظره.

د حمل د مخنیوی طریقی



(۲-۴ شکل)

## د حمل د مخنیوی طریقی

- طبعی طریقی
- کمیاوی طریقه
- میخانیکی طریقه
- جراحی طریقه

### طبعي طریقه

طبعي طریقه په درې ډوله سره ده؛

1. عزل: چې یاده موضوع مخکې په تفصیل سره بیان شوی ده.
2. د شیدو ورکولو طریقه

د ۶ میاشتو پوری مفید دی هغه هم چې باید ماشوم یوازی د مور شیدی وخوری او حد اقل په ورځ کې ۸ ځله او شپه کې هم ۳ ځله.




(۲-۵ شکل)

3. د جنترۍ طریقه

| |
|---|
| **10 + 10 + 10** |
| **دوره 28- 30 ورځې** |

(۲-۶ شکل)

**کیمیاوي طریقه**

کیمیاوي طریقه په درې ډوله سره دي؛

1. ګولۍ

د بدن د هورمونو په شکل کار کوي او د تخمې د آزادیدلو نه مخنیوی کوي او د رحم جدار نا مساعده کوي چې سپرم شه حرکت نشي کولی چې تخمې ته ورسیږي او که سم استعمال شي ٪۹۹.۷ موثریت لري او هر شپه باید یوه ګولۍ وخوړل شي.

2. غرسي هورموني کپسولونه

دوه تر ۵ د ګوګړو د لرګی په اندازه کپسولونه دی چې د جلد لاندی غرس او یا ځای پر ځای کیږي او ۹۹.۹ فیصدی موثریت لری.



(۲-۷ شکل)

3. پیچکاری

د بدن نارمل هرومونو په شان کار کوی او د تخمی د آزادیدو نه مخنیوی کوی او همچنان د رحم دیوار مساعده کوی او سپرم او شه حرکت نشی کولی چې تخمی ته ورسیږی او هر دری میاشت یو واری کیږي.




(۲-۸ شکل)

**میخانیکی طریقه - العوازل**

میخانیکي طریقه په دوه ډوله سره ده؛

1. د پوقاني استعمال

چې یو نازک رابری عشا ده او د سپرم  او تخمی له رسیدو نه مخنیوی کوی او که په سمه طریقه استعمال شی ٪۸۶ موثره ده



(۲-۹ شکل)

2. لوپ یا در حم داخلې وسیله

لوپ یوه پلاستیک وسیله ده چې په مسی سیم پوښل شوی چې د سپرم د مرور نه رحم او ټیوب ته مخنوی کوی او د تخمی او سپرم د القاح نه مخنیوی کوی او ۸-۵ کاله کار ورکوی او ۹۹.۲ فیصده موثر دی



(۲-۱۰ شکل)

**جراحي طريقه**

جراحي طريقه چې په لاندې تصوير کې معلومېږي؛

د فالوپین ټیوب قطع کول

د منوی رګونو قطع کول.



## د حمل د مخنيوى كونكو وسايلو جانبى عوارض

1. په ډيرو کمو ښځو کې  په اولو ۶ مياشتو کې د وينې د کمښت او خونريزی لامل گرځي.

2. په ديرو کمو ښخو کې خفيفه سر دردی.

3. ممکن د چاغوالی سبب شی او د وينی فشار لوړوالی په ديرو کمو ښځو کې.

4. د مياشتنی عادت بی نظمی او يا کله کله بنديدل.

## نوری گټی

1. له بعضی سرطانونو نه مخنيوی کوی لکه د ثديو سرطان.

2. د مياشتنی عادت د بنديدو له وجی د کم خونی خطر کموی .

3. بعضی طريقی د امراضو د انتقال لکه سوزاک د مرض د اتنقال  ميره ته او يا د ميره نه ښځی ته مخنيوی کوی.

## دوهم مطلب د معاصرو لارو چارو حکم

لکه څرنګه چې پخوا د عزل طريقه مشـهوره وه نو علماوو هم پکې مختلف نظريات وړاندې کړي وه البته د د حمل د مخنيوي په خاطر د معاصـرو لارو چارو حکم څرگند نه وه نو په لاندې مطلب کې ددې اسبابو د استعمال حکم په تفصيل سره بيان شوی ده.[1]

[1] سبق تخريجه، عمدة الرعاية لكنهوي ١٧۶/٣ تبين الحقايق للزيلعی ۵٩٧/٢ و ما بعده، ردالمحتار لابن عابدين ٣٩٠/٢

**لومړی: د لومړنیو فقهاو څرګندونه**

أ- د حنفیه وو مذهب: د ښځې لپاره جایز دی چې د رحم خوله بنده کړي څو د خاوند مني ورته داخل نشي. البته سړی به عزل کوي ځکه دا عزل د بچي د پیدایښت څخه منع کوي چې دغه مني د شرمګاه څخه بیرون توی کړي.

ب- دمالکیه وو مذهب: د نتظیم وسیله په نسبت سره سړی ته عزل دی چې مني د شرمګاه نه بیرون توی نه کړي په نسبت سره ښځې ته چې ټوټه د رحم په خوله کې کیږدي یا بل څیز چې مني منع کړي له رحم څخه او دا باید د ښځې په اجازه وي[1].

ت- د شافعیه وو مذهب: داسې دوا چې شهوت په سکون راولي استعمالول یې جایز دي او که شهوت بیخي له منځه وړي نو نا جایز دي ځکه چې کله حاجت ورته پیدا کیږي بیا به پښیمانه شي.[2]

**لنډیز**

د ړومبنیو علماو نظر د په وسایلو د حمل کې څیړونکي ته دا معلومیږي چې وسایل په نسبت سره سړي ته عزل دی او په نسبت سره ښځې ته د احنافو او موالکو په نزد هغه دا ده چې ښځه خپل رحم بند کړي په یوه ټوټه او یا مشابه دده په یوه بل څیز چې تر څو د سړي مني ورته ونه رسیږي. او د شوافعو په نزد استعمالول د دوا دي ترڅو د ښځې شهوت آرامه شي لکه سړی چې خپل شهوت آراموي په دوا سره. البته حنابلوو په خپلو کتابونو کې د ښځې په اړه هیڅ څه نه دي ویلي چې ښځه کومه وسیله استعمال کړي بلکې د سړي لپاره یې صرف د عزل لاره نیولې ده.

---

[1] شرح الزرقانی ٣٩٩/٣

[2] البدر التمام، لابن حجر العسقلانی ٣٣٢/٣، بتصرف

**دويم: د معاصرو فقهاو څرګندوني**

**1) - د ګوليو استعمال د حمل د بنديدلو لپاره**

د شيخ ابن باز نه د ګوليو د استعمالولو د حکم په اړه پوښتنه وشوه لپاره د هغې ښځې چې خاوند ولري او بچي هم ولري لپاره د دوه کلونو بدون د اجازې د خاوند نه. نو ځواب يې ورکړ (په تا واجب دی د خاوند اطاعت او ګولۍ به د اجازې پرته نه استعمالوې حتی که خاوند اجازه هم درکړي تا لپاره د بچي طلب مناسب دی ځکه بچي کې تا لپاره لوی خير دی. تاسو دواړه د بچي غوښتنه وکړئ او صبر وکړه او زيری واوره ښايي چې الله تاسو ته نيکان اولاد درکړي چې په دنيا او آخرت کې به فايده در ورسوي او نا اميدي مه کوه او په الله نيک ګومان وکړه او دوا او ګولی مه استعمالوه که چيرې ستاسو لس اولادونه وي نو تاسو لپاره د خير او برکت زيری دی او ښايي چې الله متعال دوی نيکان وګرځوي او تاسو ته پکې فايد ورسيږي هم په دنيا او هم آخرت کې)[1]

او شيخ فوزان نه د حمل د بنديدلو د ګوليو د استعمال په اړه پوښتنه وشوه. دې لپاره چې د وړو ماشومانو تربيه په ښه توګه سرته ورسيږي. نو هغه ځواب ورکړ ( د حمل د بنديدلو لپاره د ګوليو استعمال صحيح نه دی مګر د ضرورت په حالت کې او دا هغه وخت چې ډاکتر ورته ويلي وي چې دغه حمل ستا د مرګ سبب ګرځي او د ګوليو د استعمال لپاره د تاخير د حمل هيڅ ګناه نه لري خو کله چې د ښځې صحت خراب وي او پرله پسې زيږون نشی کولی او يا يې حمل تي خور ماشوم ته ضرر رسوي. او بله دا چې دغه ګولۍ د هميش لپاره نسل قطع نه کړي نو د حاجت له وجهې نه د ګوليو استعمال ګناه نه لري خو چې د متخصص ډاکتر په مشوره وي).[2]دوکتور علی شاذلی وايي

---

[1]محمد بن عثيمين و الفوزان وابن باز، فتاوى النساء، ص ۴۷۱
[2] سبق تخريجه.

د حمل د بنديدلو وسايل چې د مني حيوانات د بويضې سره منع کوي هغه که عزل وي کوم چې په نصوصو کې راغلی دی او يا دې ته ورته نور صورتونه وي نو جمهور فقها وايي چې استعمالول يې صحيح دي خو چې کله د ښځې او خاوند رضا وي او شرعي باعث وي.

خو کله چې منوي حيوانات له بويضې سره يو ځای شي بيا د حمل د منع وسيلې استعمالو شرعا جايز نه دي[1].

**۲ـ د لولب استعمال**

لولب ويل کيږي د يوې وسيلې اېښودلو ته په رحم کې د حمل د بنديدلو لپاره.

ددې وظيفه داده چې منوي حيوانات د رحم قنات ته نه پريږدي. دوکتور محمد خالد منصور[2] وايي د حمل د منع جديد وسايل د موقت وخت لپاره په عزل قياس دي د جواز او حرمت له نګاه نه. ځکه دوی عزل ته ورته عمليه سرته رسوي چې هغه د حمل منع ده د موقت وخت لپاره او هغه دا چې د سړي مني د ښځې رحم ته نه پريږدي اګر که دغه لارې چارې يو د بل سره توپير لري. نو دغه وسايل د حمل د بنديدلو لپاره جايز دي ځکه چې مسلمان به حرج کې واقع نه شي.

**د ټابلټ او پيچکاري او... کارولو په مرسته له مېندوارۍ څخه د مخنيوي حکم:**

که څه هم اسلامي شريعت انسانان د نسل زياتېدو ته هڅولي دي، خو په ځيني حالتونو کې ښځه او مېړه يا د هغوی يوه خوا لېوالتيا لري چې د ښځې د کمزورتيا، مرض، د مېندوارۍ فشار، د ماشوم پالنې او تعليم ته د نه رسېدو وېرې، اقتصادي ستونزو او داسې نورو عواملو له امله د بېلابېلو لارو په مرسته

---

1 مجلة المجمع الفقه الاسلامي، الدورة الخامسة المؤتمر مجمع الفقه الاسلامي، عدد٥، ص ١٣٧٥، سنة ١٩٨٨ م الكويت

2 دکتور محمد خالد عبدالعزيز منصور متخصص فی الفقه و اصوله رئيس قسم الفقه و اصوله بکليه شريعه بالجامعه الاردنيه.

له مېندوارۍ څخه مخنيوی وکړي، چې دا شان مخنيوی د ځانګړي شرايطو په پام کې نيولو سره جواز لري.

يو د نسل تنظيم دی او بل هم د نسل محدودول دی، چې د نسل محدودول د علماوو په اتفاق حرام دی او د نسل تنظيم په هغه صورت کې چې شرعي اړتيا شتون ولري د ځانګړي شرايطو په رعايت سره جواز لري.

د اسلامي فقهې ټولنه په پنځمه دوره کې چې په ۱۹۸۸ زيږديز کال کې د کويټ په دولت کې منعقد شوی و، په دې تړاو داسې پايلې ته رسيدلې دي:

لومړی: د عام حکم صادرول چې د مېندواري او زيږونې په برخو کې د دواړو خواوو اختيارات محدودوي، جواز نه لري.

دويم: د ښځې يا سړي عقيم کول په داسې توګه چې ښځه اصلاً مېندواره نه شي، حرام دی، خو په هغه صورت کې چې شرعي اړتيا شتون ولري.[1]

دريم: اوکه شرعي اړتيا شتون ولري، له مېندوارۍ څخه مخنيوی په لنډمهاله توګه د دواړو خواوو په خوښې د مشروع وسايلو په مرسته او يو بل ته د زيان نه رسولو په شرط صورت مومي، چې دغه مخنيوی د علوق د القاح مخکې ترسره کيږي.

د نسل تنظيم په عمومي توګه او داسې چې په دې برخه کې کمپاين په لاره واچول شي، جواز نه لري، ځکه چې په دې کار سره اسلامي امت کميږي او د اسلام په زيان او د اسلام د دښمنانو په ګټې پرې وځي، خو که دا چې اړتيا وليدل شي د نسل تنظيم په انفرادي توګه جواز لري.

[1] د محمد خالد منصر، الاحکام الطبية المتعلقة باالنساء في الفقه الاسلامي، ص ۱۲۹ و ما بعدها سنة ۱۹۹۹، دارالنفايس، الاردن

## مجمع فقهي نظر

د مجمع فقه الاسلامي نظر په خپل پنځم مجلس کې داسې څرګندونه کړې، يو موقت پلان د حمل د تاخير لپاره او د حمل بندول د يو معلوم وخت لپاره کله چې ورته حاجت وي شرعا جايز دى خو چې د ښځې او خاوند په خوښه او مشوره وشي خو په دې شرط ضرر پرې مرتب نه وي او وسيله هم جايزه او په موجوده حمل تجاوز او زياتى نه وي.[1]

## لنډيز

د پورته بيان نه څرګنده شوه چې د معاصرو فقهاو په نزد د وسايلو حکم ارتباط لري د نسل د تنظيم له حکم سره څوک چې د نسل تنظيم جايز ګڼي نو د وسايلو استعمال هم جايز ګڼي او څوک چې د نسل تنظيم جايز نه ګڼي نو د وسايلو استعمال هم جايز نه ګڼي ځکه دا تنظيم سبب دى او څوک چې د نسل تنظيم د عذر او ضرورت له وجې جايز ګڼي نو د وسايلو استعمال هم دارنګه جايز ګڼي. هغه وسايل چې د حمل منع راولي ددې حکم د نسل د تنظيم حکم دى.

## د څيړونکي نظر

کوم چې د شيخ فوزان څرګندوني دي چې د وسايلو استعمال د ضرورت له وجهې صحيح ده. دغه وسايل د حمل د تاخير لپاره چې کله ښځه ورته محتاجه وي هم صحيح ده دا نظر راجح دى. بل دحمل دبنديدلودوسايلو څخه چه مشهور دى هغه تعقيم دى اړينه ده معنى اوحکم يې بيان شى.

[1] مجلة المجمع الفقه الاسلامي، الدورة الخامسة المؤتمر مجمع الفقه الاسلامي، عدد٥، ص ٧٤٨، سنة ١٩٨٨ م الكويت

## درېيم مطلب: تعقيم او د هغه حکم

يو امت د امتونو څخه نشي کولی چې خپل ځان نابود کړي او دا هم نشي کولی چې څه قوانين او احکام جوړ کړي او ټولو خلکو ته دا ووايي چې تاسو نسل له منځه يوسئ. البته په انفرادي شکل سره په خاصو حالاتو کې په يوه خاصه طريقه کولی شي چې د حمل د بنديدلو لپاره له يوې وسيلې څخه کار واخلي. ځکه اسلامي فقهې دا جواز په فرضي شکل ورکړی دی اګر که دغه جواز د اصل خلاف دی ځکه نکاح د نسل د حفاظت او ساتنې لپاره روا ګڼل شوې ده او د نکاح ثمره او نتيجه نسل دی. ځکه چې الله متعال فرمايي: ((لِلَّهِ مُلْكُ السَّماواتِ وَالْأَرْضِ يَخْلُقُ ما يَشاءُ يَهَبُ لِمَنْ يَشاءُ إِناثاً وَيَهَبُ لِمَنْ يَشاءُ الذُّكُورَ))[1] ترجمه: خاص الله لره د اسمانونو او ځمکې بادشاهي ده څه چې وغواړي هغه انجونې ورکوي او چاته چې وغواړي هلکان ورکوي. الله په پورته آيتونو کې خلک څلور ډلې ګرځولي دي بعضې خلکو ته الله لونې ورکوي او بعضو ته ځامن ورکوي او بعضو ته لونې او ځامن ورکوي او بعضې خلک شنډ ګرځوي او هيڅ نسل يې نه وي. نو د نسل د ختميدلو يوې وسيلې ته تعقيم يا شنډتوب وايي.

### د تعقيم يا شنډتوب لغوي معنی

تعقيم په لغت کې مصدر دی د عقم يعقم تعقيما څخه دی لکه عرب وايي عقم الله مرأة اي صيرها عقيما ژباړه: الله ښځه شنډه وګرځوله او دا هلته وايي چې زيږون نه کوي([2])

---

[1]سورة الشورى ايت ۴۹.
[2]معجم المعانی الجامع، معجم عربي مادة تعقيم.

**د تعقیم اصطلاحي معنی**

تعقیم عبارت دی د یو عملیې څخه د ښځې او یا خاوند او یا د دواړو لپاره منع کول د حمل په دایمي توګه سره. د ښځې تعقیم د زیلانځ ختمول دي او د سړي لپاره خصي کول.[1] تعقیم په دوه ډوله دی:

۱ – دایمي چې مخکې بیان شو

۲ – لکه عزل او د نورو مسایلو استعمالول ددې لپاره چې په موقته توګه زیګون بند کړي نو تعقیم سړي او ښځې دواړو ته استعمالیږي او خصي کول یوازې سړي ته استعمالیږي. چې د خصیتینو چیرول دي له بیخه ایستل دي. د سړیو شنډتوب په جراحي عملیاتو سره منځه ته راځي هغه داسې چې د سړي د مني رګونه قطع کړي. د ښځې شنډتوب هم په جراحي عملیاتو سره منځ ته راځي. هغه داسې چې بندول یا قطع کول د هغه کانال یا رګ چې د هغې څخه بویضې رحم ته راځي. دغه کانال بندیږي او د سړي منوي حیوانات نه پریږدي او دغه بویضې د ښځې جسد کې جذبیږي او بیا د دایم لپاره دغه ښځه حمل یا بار نه اخلي خو دغه عملیه جانبي ضررونه لري.[2]

## دریم مبحث: د حمل اسقاط

انسان څه مسلمان وي که غیر مسلمان، ښځه وي که سړی، لوی وي که کوچنی، مړ وي که ژوندی په اسلام کې د یو انسان په صفت په هره مرحله کې د کرامت خاوند دی. د اسلام له لیده انسان د خپل نفس او غړو خاوند کېدای نشي بلکې دا ټول د الله (ج) پورې تړلي دي، له همدې امله انسان نشي کولی چې په خپل نفس او غړو باندې داسې واک او تصرف ولري چې د زیان او ورانۍ سبب وګرځي، یا خپل

[1] محمد بکر اسماعیل، الفقه الواضح ص ۴۶۰
[2] مواهب الجلیل للخطاب ۵/ ۱۹

نفس او یا غړي وپلوري یا یې وبخښي. د دې ترڅنګ انسان نشي کولی او د دې صلاحیت نه لري چې خپل ماشوم د جنین په هره مرحله کې چې وي د شرعي جواز پرته له منځه یوسي.

اسلام یو هر اړخیز او بشپړ دین دی چې د بشري ژوند ټولې چارې په ځان کې رانغاړي، د هر حالت او پیښې لپاره خپل اصول، مقررې او قواعد لري چې د هغه په رعایتولو سره بشریت او انسانیت د سعادت او نیکبختی په لور ګام ږدي.

په اسلام کې د ټول روح لرونکي موجوداتو، بوټو او انسانانو لپاره په بشپړه توګه حق او حقونه په پام کې نیول شوي دي او انسانان د اسلام په سپیڅلي دین کې د ځانګړي مقام خاوندان دي او د القاح مرحلې نه د روح دپوکي مرحلې پورې، او د پیدایښت مرحلې تر بالاخره د مړینې مرحلې پورې د هغه د خوندیتوب او روغتیا په تړاو جدي پاملرنه کیږي او هیڅ څوک حق نه لري چې پرته له کوم دلیل د انسان وژنې ته لاس پورې کړي ،او د عمدي او تېرى کوونکي وژونکي لپاره جزاګانې تعیین شوي دي، څو د دغو مجازاتو په عملي کولو سره نور عبرت واخلي او د نورو انسانانو وژنې ته له لاس پورې نکړي، هغه که د جنین په شکل هم وي،.

انسان دنطفي دبر قراري وروسته او له پیدایښت او د روح دپوکي مخکې او له هغه وروسته له ځانګړي حقونو او ګټو څخه برخمن دي او د درناوی وړ ګڼل کیږي او د بېلو حالتونو پرته د هغوی سقط او له منځه وړل جواز نه لري او بېل حالتونه هم ځانته شرطونه او قیودات لري او څوک چې د جنین پر سقط باندې مرتکب شي ګناه کار بلل کیږي او دیت او کفاره پرې اړین ګڼل کیږي، چې دا ټول د دې څرګندوونکي دي چې د جنین سقط او پرې تېرى د اسلامي فقهې له لیده یو عام عمل نه دی بلکې ډیر خطرناکه دی. [1]

---

[1] جادالحق على جادالحق ، احكام الشريعة الإسلامية فى مسائل طبية عن الأرض النسائية والصحة الانجابنية/ - جامعة الازهر : ص۱۱۴، ۱۱۲.

نو پکاره ده چې د جنين د سقط تعريف او حکمونه دا چې په کوم حالتونو کې حرام او په کوم حالتونو کې جايز دی او دا چې جايز حالتونه يې څه شرطونه او قيودات لري او دا چې که څوک له اړتيا پرته پرې مرتکب شي څه جزاګانې ورته په پام کې نيول شوي دي، تر بحث او کتنې لاندې نيسو:

مخکې له دې چې اصلي موخې ته ولاړ شو، بايد د جنين سقط د طب له ليده تعريف کړو:

**د جنين سقط عبارت دی: د مېندوارۍ او جنين له منځه وړل مخکې له دې چې پکې روح رامنځته او ټول غړي يې د خلقت له پلوه بشپړ شي.**

## لومړی مطلب: دحمل داسقاط معنی

د حمل سقط په لغت کې د جنين د بشپړېدو د مخه د هغه پرځولو (سقوط) ته ويل کيږي. د اسلامي فقهې په اصطلاح کې د جنين سقط د مېندوارۍ دورې تر بشپړېدو وړاندې د جنين غورځولو ته وايي چې فرق نه کوي که جنين ژوندی وي او که مړ، او يا د جنين ځينې غړي ښکاره شوي وي او يا هم نه وي ښکاره شوي دغه غورځول د دوا په واسطه شوي وي او يا د کوم بل سبب له مخې ترسره شوي وي.

## دوهم مطلب: د حمل د اسقاط ډولونه

په لومړي ګام کې د جنين سقط په دوه ډوله دي: لومړی: تلقائی يا خپلسره، دويم: مفتعل يا د غير په واسطه. مفتعل په دوه ډوله دی: لومړی طبي، دويم غيرطبي.

تلقائی (خپلسره): دا ډول سقط دننه په رحم کې د جنين د مړينې له امله رامنځته کيږي او د جنين د مړينې دلايل په لاندې ډول دي:[1]

۱. په جنين کې ارثي او خلقي نيمګړتياوې.

---

[1]جاد الحق علی جا دالحق ، احکام الشريعه الاسلاميه فی مسا يل الاتحاديه ص ۱۱۲-۱۱۳.

۲. د مېندوارئ لپاره د رحم د بيئي او جوف ناسم جوړښت.

۳. له ځينو درملو څخه کار اخيستل او په ځينو مکروبونو باندې د جنين اخته کېدل.

۴. د مور په رحم کې د ځينو مرضونو شتون.

د جنين مفتعل سقط (د غير په واسطه) په دوه ډوله دی، طبي او غيرطبي:

## لومړي: د جنين مفتعل طبي سقط

هغه سقط دی چې د يو ډاکټر له لوري او يا د ځينو اړينو طبي دلايلو له مخې ترسره شي. د بيلګې په توګه د پښتورګي او دماغ او يا نورو غړو د نشتوالي له کبله.

## دوهم : د جنين مفتعل غيرطبي سقط

هغه سقط ته ويل کيږي چې د مور لخوا د ځينو نا خوندي طريقو په کارولو سره صورت مومي، لکه د ځينو مضرو بوټو خوړل، د رحم د جدار سورى کېدل، د جنين د ځينو وژونکو درملو خوړل، په رحم کې د سموم او نور وژونکو توکو دننه کول، چې دا ډول کړنه د خپله مور يا بل وګړي لخوا چې د دې کار د ترسره کولو اهليت نه لري، صورت مومي.

**الف :د جنين  مختلف قسمونه او مرحلې:**

مخکې له دې چې د جنين د سقط حکم په اړه چې په کوم حالتونو کې جايز او په کوم حالتونو کې ناجايز دی، خبرې وکړم، غواړم د جنين مرحلې او دورې لکه څنګه چې په قرانکريم کې ورته اشاره شوې ده، تاسو ته وړاندې کړم:

په دې اړه الله (ج) فرمايي: **(( إِنَّا خَلَقْنَا الْإِنسَانَ مِن نُّطْفَةٍ أَمْشَاجٍ نَّبْتَلِيهِ فَجَعَلْنَاهُ سَمِيعًا بَصِيرًا ))** [1]،

ژباړه: موږ انسان له مختلطې نطفې څخه رامنځته کړ، او هغه آزمايو؛ (د همدې لپاره) هغه مو شنوا او بينا واقع کړ!

**(۱) د امشاج د نطفې مرحله (مخلوطه نطفه):**

د جنين لومړنۍ طبيعي مرحله عبارت دی د ښځې په رحم کې د سړي له اسپرم سره د ښځې د تخمې القاح کېدل او کله کله دغه القاح له رحم بهر هم صورت موندلی شي. د دې لقيحې د تلقيح کېدو وروسته په شپږو ورځو کې د هغه هره خلاء په ۱۶ خلاء ګانو وېشل کيږي او په رحم کې ځای پر ځای کيږي. الله (ج) په دې اړه فرمايي: ((ثُمَّ جَعَلْنَاهُ نُطْفَةً فِي قَرَارٍ مَكِينٍ)).[2]، ژباړه: وروسته بيا هغه مو د نطفې په توګه په ثابته ځای کې واقع کړ.

دغه مرحله د القاح له اجرا څخه په رحم کې تر استقرار پورې شاوخوا اته ورځې وخت نيسي تر څو چې د علقې مرحله پيل شي.

**(۲) د علقې مرحله:**

الله (ج) له دې مرحلې څخه خلق ته تعبير کړی دی او فرمايلي: ((ثُمَّ خَلَقْنَا النُّطْفَةَ عَلَقَةً))[3]،

ژباړه: وروسته بيا مو نطفه د علقې (تړلي وينې) په بڼه واړاوه.

دلته د علقې هدف علقې ته د امشاج نطفې اوښتون دی چې د رحم جدار پورې اړه لري او د خلا ګانو څخه نشات کوي چې د ملقحې بيضې د بېلېدنې (انقسام) له لارې رامنځته کيږي چې لومړی مرحله داسې انسان جوړوي چې په اساسي توګه له يوې دانې (نواة) او سيتوپلازما څخه جوړ شوی وي او دغه مرحله

---

[1]- سوره النساء آيه : 2 .
[2] سورة المؤمنون: 13 آيه .
[3] سورة المؤمنون : 14 آيه

د مميزه غړو څخه تشه ده او په رحم کې د انساجو له لارې له هغو وينو څخه غذا او اکسيجن ترلاسه کوي چې هغه يې احاطه کړې دی. 1

په دې مرحله کې علقه د دوو اوونيو لپاره پاتې کيږي او د ۲۳ تر ۲۴ ورځو وروسته د مضغة مرحله پيليږي.

**(۳) د مضغة مرحله:**

په دې اړه الله (ج) فرمايي: ((فَخَلَقْنَا الْعَلَقَةَ مُضْغَةً)).[2]،

ژباړه: وروسته مو علقه (تړلې وينه) مضغة (څه چې ژوول شوي غوښې ته ورته دی) ته واړاوه.

په دې حالت کې د جنين بڼه داسې ښکاره کيږي لکه چې انسان غوښه ژوولې وي او لږ لږ د جنين غړي ښکاره کيږي او د هوا کيسه له ټولو اړخونو څخه جنين احاطه کوي او د انګور د وړې په بڼه کيسه پاتې کيږي چې په عمودي توګه وده کوي او ورته د نوم پړی (حبل سرى) ويل کيږي او دغه کيسه د همدې پړي په مرسته له مور څخه جنين ته اکسيجن ليږدوي او تغذيه کوي.

د مضغة مرحلې پورې ټولې مخکيني مرحلې شاوخوا څلويښت تر دوه څلويښت ورځو پورې وخت نيسي او له ۴۲ ورځو وروسته بل نشات پيليږي او د جنين وده د انسان په بڼه پيل کيږي چې وروسته بله مرحله پيل کيږي چې ورته د هډوکو د خلق کېدو او پر غوښې د هغه پوښېدو مرحله ويل کيږي.

**(۴) د هډوکي د خلق کېدو او پر غوښې د هغه پوښېدو مرحله:**

الله (ج) د هډوکو د خلق کېد او پر غوښې د هغه پوښېدو د مرحلې په هکله داسې فرمايي:

---

[1] دکتور مختار المهدی، بداية الحياة الإنسانية /: ص 65 .

[2] سورة المؤمنون : 14 آيه

((ثُمَّ خَلَقْنَا النُّطْفَةَ عَلَقَةً فَخَلَقْنَا الْعَلَقَةَ مُضْغَةً فَخَلَقْنَا الْمُضْغَةَ عِظَامًا فَكَسَوْنَا الْعِظَامَ لَحْمًا ثُمَّ أَنشَأْنَاهُ خَلْقًا آخَرَ ۚ فَتَبَارَكَ اللَّهُ أَحْسَنُ الْخَالِقِينَ )).

وروسته مو نطفه د علقي (ترلي ويني) په بڼه، او علقه د مضغه په بڼه (څه چې د ژوولي غوښي ته ورته دی) او مضغه مو د هډوکو په بڼه واړاوه؛ او پر هډوکو مو غوښه وپوښله؛ وروسته مو ورته يو تازه خلقت ورکړ؛ نو خدای (ج) لوی دی چې د ټولو خلقوونکو څخه غوره دی.

د هډوکو د خلق کېدو مرحله د مضغه مرحلې پورې تړلې دی، چې جنين پر ودې او لوېدو باندې پيل کوي تر څو چې په بشپړه توګه او ژوندی وزيږيږي إنشاء الله. په دې مرحله کې هډوکي د څلويښتو ورځو وروسته ښکاره کيږي او د ودې وړ برخو کې نمو او وده پيل کيږي. الله (ج) دا ټول حالتونه داسې بيانوي ((وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ مِن سُلَالَةٍ مِّن طِينٍ)). او موږ انسان د خټې له عصارې څخه رامنځته کړ؛

((ثُمَّ جَعَلْنَاهُ نُطْفَةً فِي قَرَارٍ مَّكِينٍ)) وروسته مو نطفه په يو ډاډمن ځای (رحم) کې واقع کړ؛

((ثُمَّ إِنَّكُم بَعْدَ ذَٰلِكَ لَمَيِّتُونَ))[1]؛ بيا تاسې له هغې وروسته مړ کيږئ؛

((ثُمَّ إِنَّكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ تُبْعَثُونَ))[2]. وروسته بيا تاسې د قيامت په ورځ بېرته ژوندی کيږئ.!

**ب :څه وخت په جنين کې روح رامنځته کيږي؟**

د ويل شوي خبرو په رڼا کې علماء او د طب او اجنه کارپوهان وايي چې د نطفې مرحلې څخه د خلق کېدو وروستي مرحلې پورې او د انسان د بڼې جوړېدل او د غړو رامنځته کېدل له څلويښت تر دوه څلويښتو ورځو پورې صورت مومي چې ورته د مضغه مرحله ويل کيږي او په دې اړه ځينې روايتونه شتون لري چې دغه ادعا ثابتوي چې: د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی چې

[1]سوره المؤمنون، الاية ۱۵.
[2]سوره المؤمنون، الاية ۱۶.

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:" تاسو څخه یو د نطفې په توګه د خپل مور په بطن کې د څلوېښت ورځو لپاره راټولیږي، وروسته بیا د څلوېښتو ورځو لپاره د علقې (ټړلي وینې) په بڼه پاتې کیږي، وروسته بیا د څلوېښتو ورځو لپاره د ژوول شوي غوښې په بڼه بدلون مومي، وروسته یکې روح رامنځته کول کیږي او فرشته استول کیږي او د څلورو شیانو لیکلو ته امر کیږي: "د عمل، رزق، احل او دا چې شقي (بدبخت) دی که نیکبخت". [1]

له یاد روایت څخه څرګندیږي چې د روح نفخ د ۱۲۰ ورځو یعنې ۴ میاشتو وروسته صورت مومي.

امام ابن قیم رحمه الله فرمایي: د جنین په تړاو دوه ډوله حیات شتون لري: د بوټي حیات د روح د نفخ دمخه، په دې معنا چې جنین د القاح وروسته د طب له لیده یو ژوندی موجود دی او د ودې او نمو وړتیا لري او علماء او اطباء د دا شان حیات او د هغه د حقیقت په اړه وینا کولی شي، دوېم انساني حیات دی چې د روح د نفخ وروسته چې د ملک د استولو په واسطه صورت مومي او د ۱۲۰ ورځو یا ۴ میاشتو وروسته رامنځته کیږي. د هغه پر حقیقت باندې یوازې الله (ج) پوهیږي او هر څوک چې د دا شان روح په اړه خبرې او بحث کوي هېڅ پایلې ته نه رسیږي او د وخت د ضایع کولو پرته کومه ګټه نه ترلاسه کوي. په دې اړه الله (ج) فرمایي: ((وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الرُّوحِۖ قُلِ الرُّوحُ مِنْ أَمْرِ رَبِّي وَمَا أُوتِيتُم مِّنَ الْعِلْمِ إِلَّا قَلِيلًا )). 2

او له تاسو څخه د روح په اړه پوښتنه کوي، ووایه: روح زما د ستر څښتن فرمان څخه دی؛ او تاسو ته پدې اړه ترټولو لږه پوهه هم نه ده ورکړل شوې!.

---

[1] صحیح البخاری کتاب القدر: حدیث شمیره ( 6594).
[2] سوره اسراء: 85

## درېیم مطلب: د حمل د اسقاط حکم (د حمل مختلفو مرحلو مختلف حکمونه):

د حمل او اسقاط دوه عام حکمونه لري ١- جایز او مشروع چې انسان دغه د ضرورت له وجې وی لکه دغه جنین د مور ژوند د جدي ګواښ سره مخ کیږي. ٢- حرام او نامشروع سقط هغه چې بغیر د ضرورت وي لکه چې د دی وژل د یوی لوې ګناه سره مخ کوي.

د جنین سقط دوه عام حکمونه لري:

### حرام او مشروع

**الف :د جنین نامشروع او حرام سقط:**

د دې لپاره چې جنین د القاح او علوق وروسته په هره مرحله کې نفس دی او د نفس وژل او له منځه وړل د قرآنکریم له لیده حرام دی، الله (ج) د قرآنکریم د مایده سورې په ٣٢ آیه کې فرمایي: ((مَن قَتَلَ نَفْسًا بِغَيْرِ نَفْسٍ أَوْ فَسَادٍ فِي الْأَرْضِ فَكَأَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيعًا وَمَنْ أَحْيَاهَا فَكَأَنَّمَا أَحْيَا النَّاسَ جَمِيعًا)) [1]

ژباړه: هر څوک چې بل انسان د قتل د ارتکاب یا فساد پرته د ځمکې پرمخ ووژني، داسې ده لکه چې ټول انسانان یې وژلي وي؛ هرڅوک چې یو انسان له مرګ څخه وژغوري، داسې ده لکه چې ټول انسانان یې ژغورلي وي.

د دې څنګ فرمایي: (( وَلَا تَقْتُلُوا النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ))[2].

ژباړه: او څوک مه وژنئ چې الله (ج) وژنه حرام ګڼلې ده، خو که حق وي.

[1] سوره مایده :32.
[2]سوره الاسرء، الایة ٣٣.

**په دې اړه د فقه پوهو رايې او نظرونه:**

**د وخت له پلوه د جنين سقط:**

د وخت له پلوه د جنين سقط د تخلق مخکې او وروسته په درېو برخو کې تر بحث او کتنې لاندې نيول کيږي:

لومړی: د ۴۰ ورځو مخکې.

دويم: د ۴۰ ورځو وروسته او د ۱۲۰ ورځو مخکې.

درېم: د ۱۲۰ ورځو وروسته.

**لومړی: د ۴۰ ورځ مخکې د حمل داسقاطحکم:**

فقه پوهان د ۴۰ ورځ مخکې د جنين د سقط په اړه اختلاف لري، د احناف، حنابله او شوافع علماء سقط جايز ګڼي،[1] خو د ماليکه علماء بيا وايي چې په رحم کې د نطفې په استقرار سره سقط جواز نه لري.[2]

**دوهم: د روح د نفخ وروسته مرحله يعني د ۱۲۰ ورځ وروسته:**

په دې مرحله کې ټول فقهي مذهبونه يو نظر لري چې د جنين سقط حرام دی خو يوازې په هغه حالت کې جواز لري چې د جنين د نه سقط کولو سره د مور مړينه حتمي وي او که د جنين په ژوندی پاتې کېدو سره د مور مړينه موهومي وي بيا هم جواز نه لري. علامه ابن عابدين فرمايي: (اوکه جنين ژوندی وي او د هغه ژوندی پاتې کېدل د مور ژوند لپاره ګواښ وګڼل شي، په دې حالت کې بيا هم سقط جواز

[1] كمال الدين محمد بن عبد الواحد السيواسي المعروف بابن الهمام (المتوفى: 861هـ)، فتح القدير، ج ۲، ص ۴۹۵، الناشر: دار الفكر، الطبعة: بدون طبعة وبدون تاريخ.
2 محمد بن أحمد بن عرفة الدسوقي المالكي (المتوفى: 1230هـ)، حاشية الدسوقي على الشرح الكبير، ج ۲ ، صص ۲۶۶-۲۷۰، الناشر: دار الفكر،الطبعة: بدون طبعة وبدون تاريخ

نه لري ځکه چې د جنين حيات يقيني او د مور مړينه موهومي ده او د موهومي حالت له کبله بايد پر جنايت مرتکب نشو چې هماغه د جنين سقط کول دي). [1]

اوکه د مور مړينه د جنين په ژوندی پاتې کېدو سره يقيني وي، په دې حالت کې جواز لري چې جنين د درلودونکي زيانونو له امله سقط کړل شي او د مور ژوند د جنين ژوند په وړاندې په لومړيتوب کې واقع دی.

**۳: د روح د نفخ مخکې مرحله يعنی د ۱۲۰ ورځ مخکې:**

د احناف، مالکيه، شوافع، حنابله ظاهريه او اباضيه فقه پوهان په دې نظر دي چې د روح د نفخ مخکې د جنين سقط جواز نه لري خو پرته له دې چې د جنين په ژوندی پاتې کېدو سره د مور ژوند په يقيني توګه له ګواښ سره مخ شي. د احناف، شوافع، مالکيه او زيديه ځيني علماء د روح د نفخ مخکې د جنين سقط کول جايز ګڼي په هغه صورت کې چې مورپلار يو نظر ولري. [2]

علامه ابن عابدين شامي د ردالمحتار په کتاب کې وايي: (د جنين سقط د څلورو مياشتو مخکې مباح دی، که څه د مېړه د اجازې پرته هم وي خو دلته د حل او مباح موخه دا نه ده چې جايز وي بلکې مکروه ده، ځکه کله چې محرم د مرغۍ هګۍ د له منځه وړلو لپاره چې ښکار کيږي، مواخذه کيږي، نو ځکه د جنين د سقط لپاره بايد په لومړي طريقې مواخذه شي). 3

---

[1] ابن عابدين، محمد أمين بن عمر بن عبد العزيز عابدين الدمشقي الحنفي (المتوفى: 1252هـــ)، رد المحتار على الدر المختار، ج ۱، ص ۶۰۲. الناشر: دار الفكر-بيروت، الطبعة: الثانية، 1412هـ - 1992م.

[2] محمد بن علي بن محمد بن عبد الله الشوكاني اليمني (المتوفى: 1250هـ)، نيل الاوطار، ج 5 ص 20 .الناشر دار الحديث، مصر، ، الطبعة: الأولى، 1413هـ - 1993م

[3] حاشيه ردالمحتار/ ابن عابدين: ج 2 ص 411، فتح القدير/ ابن همام: ج2 ص 495.

د مالکي ځیني فقهه پوهان لکه خمي او د شافعي ځیني فقه پوهان لکه مروزي د ۴۰ ورځ مخکې د جنین سقط جایز ګڼي خو د ۴۰ ورځ وروسته جواز نه لري. 1

د علماوو دلیل: پرته له بېلو حالتونو په ټولو مراحلو کې د جنین سقط ته د درنښت په ترڅ د هېوکو فقه پوهانو دلیل هغه مبارکه آیات دي چې په روښانه توګه اشاره کوي چې د انسان وژنه او تیری حرام دی.

الله (ج) فرمايي: ((وَلَا تَقْتُلُوا النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ))[2]،

ژباړه: او هغه څوک چې خدای (ج) وینه یې حرام ګڼلې وي، مه وژنئ، خو که حق وي!

## د عذر پرته د جنین سقط کول

کله چې اسلام رامنځته شو د جنین سقط په اوسني شکل شتون نه درلود، بلکې د جاهلیت په وخت کې د صغارت په مهال او د زیږوني وروسته د اولاد وژل موجود و، چې ورته د ژوندي ښخولو وؤد ویل کیږي، چې د شرم او سپکوالي له امله یا د وېرې او بې وزلۍ له امله خپل اولاد واژه او ځینو خپل لورګاني له دې امله وژل چې څوک یې د غلامۍ لپاره تر لاس لاندې ونه نیسي یا یې بندي نه کړي.
الله تعالی د دې شان خلکو څخه د پوښتنې په اړه فرمايي: ((وَإِذَا الْمَوْءُودَةُ سُئِلَتْ (٨) بِأَيِّ ذَنبٍ قُتِلَتْ))[3]

کله چې اسلام راغی د جاهلیت او وحشت دغه دود او رسم یې منع کړ او د اولاد وژنه یې د کبیره ګناهو په ډله کې واقع کړه او وفرمايل: ((وَ لا تَقْتُلُوا أَوْلادَكُمْ خَشْيَةَ إِمْلاقٍ نَحْنُ نَرْزُقُهُمْ وَ إِيَّاكُمْ إِنَّ قَتْلَهُمْ كانَ خِطْأً كَبِيراً))[4]

---

[1] شمس الدين محمد بن أبي العباس أحمد بن حمزة شهاب الدين الرملي (المتوفى: 1004هـــ)، نهاية المحتاج: ج 8 ص 416 ، الناشر: دار الفكر، بيروت، الطبعة: ط أخيرة - 1404هـ/1984م
[2] سوره الاسره، الاية ٣٣.
[3] سوره التكوير، الاية ٨-٩.
[4] سوره الاسراء، الاية ٣١.

ژباړه: خپل اولاد د ورځني خواړه او روزي ورکولو له وېرې مه وژنئ، ځکه چې موږ هغوی او تاسو ته روزي درکوو، او د هغوی وژنه لویه ګناه ده.

له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وشوه چې د خدای (ج) لپاره کومه ګناه لویه ده؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: **(**دا چې خدای (ج) سره چې ته یې پیدا کړی یې، بل شریک وټاکې**)**. وپوښتل شو چې له دې وروسته کومه ګناه لویه ده؟ هغه وفرمایل**:(** دا چې خپل اولاد له دې وېرې چې ورسره ډوډۍ خوري، ووژني**)**. [1]

همدا رنګه اسلام د اولاد له وژنې او د نجونو له ژوندي ښخونې څخه په کلکه مخنیوی کړی دی، خو په وروسته دورو او په اوسني دوره کې د اولاد وژنه په نورو بڼو واوښتو چې د جنین د سقط په توګه په نامشروع لارو صورت مومي او د هر چا لاس ته وسایل او امکانات ورغلل چې په مرسته یې په ډېره اسانۍ سره د جنین سقط ته لاس پورې کوي، چې ځینې علماء د جنین سقط ته خفي وؤد یا په پټه د اولاد ژوندی ښخول وایي.

[1] رواه البخاری شماره حدیث: 6354.

**ب: د جنین جایز او مشروع سقط**

**۱:د عذر له مخې د جنین سقط کول:**

اوکه د جنین سقط کولو ته کلکه شرعي اړتیا ولیدل شي، لکه چې د جنین ژوندی پاتې کېدل د مور ژوند په جدي توګه ګواښ سره مخ کړي، په داسې حالت کې د جنین سقط د اړتیا له مخې یا د ګواښ له منځه وړلو لپاره، څه د روح د نفخ مخکې یا وروسته وي، جواز لري.

د سعودي عربستان د سترو علماوو کمیټې د فتوا په بنا د ۱۴۰ شمیرې د جمادي الثاني په ۱۴۰۷ هـ.ق نېټه کې داسې راغلي دي:

- د جنین سقط په ټولو مرحلو کې جواز نه لري، خو دا چې د شرعي اړتیا له مخې او په ټینګه محدوده کې واقع وي.

- اوکه مېندواري په لومړي مرحله یعني په ۴۰ ورځو کې واقع وي او د هغه د سقط لپاره شرعي مصلحت وشي یا د احتمالي زیان د دفع کولو اړتیا ولیدل شي، په داسې حالتونو کې د جنین سقط جواز لري.

- اوکه د اعتبار وړ طبي کمیسیون داسې پرېکړه وکړي او نظر ورکړي چې د مور په رحم کې د جنین، څه د علقه په بنه څه د مضغه په بنه، ژوندی پاتې کېدنه د مور د مړینې لامل کیږي، لومړی باید په داسې حالتونو کې هڅه وشي چې مور او جنین د سقط پرته د نور مشروع لارو په مرسته وژغورل شي، اوکه د مور ژغورنه یوازې د جنین سقط پورې تړلې وي او بله لاره چاره شتون ونلري نو په دې حالت کې د جنین سقط جواز لري.

- د درېمې مرحلې او د څلور میاشتو بشپړولو وروسته د جنین سقط جواز نه لري، خو دا چې د اعتبار وړ طبي کارپوهانو یوه ډله داسې نظر ورکړي چې له دې مرحلې وروسته د جنین ژوندی پاتې

کېدنه په قطعي توګه د مور د مړیني سبب ګرځي، بیا هم د جنین سقط په دې شرط جواز لري چې د مور ژغورنې او د جنین بقاء لپاره ټول وسایل او امکانات وکارول شي، له دې وروسته که د مور ژوندی پاتې کېدنه د جنین سقط پورې تړلی وي، نو د جنین سقط جواز لري. [1]

**۲:د شرعي اړتیا له مخې د جنین د سقط طبي شرایط:**

۱. دوه اړخیز (د ښځه او مېړه) هوکړه، چې دغه هوکړه باید په لیکلي بڼه وي، او دغه هوکړه باید دواړه اړخونه یا د ښځې مېړه ولیکي او د ناروغ په دوسیه کې ځای پرځای شي.

۲. په هغه صورت کې چې مېندواره ښځه په سقط سره د لا خطرناکه حالت سره مخ کیږي، سقط جواز نه لري.

۳. د دوه عادله طبي کارپوهانو تضمین چې دواړه داسې نظر ورکړي چې د جنین سقط اړینه ده او د جنین په سقط کولو سره د مور روغتیا ته جدي ګواښ نه پیښیږي. [2]

**۳:اقتصادي ستونزې او د تعلیم او ژوندانه فشارونو او تکلیفونو د وېرې له امله د جنین د سقط حکم:**

د څلوېښتو ورځو په مرحله کې د تعلیمي، معیشتي، پالني تکلیفونو او د زیاتو اولادونو شتون یا پر شته اولادونو بسیاینې لپاره د جنین سقط کول جواز نه لري، د سعودي عربستان د سترو علماوو کمیټې د فتوا په بنا په ۱۴۰ شمیره فتوا کې داسې ویل شوي دي: (د څلوېښتو ورځو په مرحله کې یا له هغه وروسته د تعلیمي، معیشتي او پالني تکلیفونو او فشارونو له وېرې یا پر شته اولادونو د بسیاینې له امله د جنین سقط کول جواز نه لري او د حرام عمل ګڼل کیږي).

---

[1] المنظمة الإسلامية للعلوم الطبية: الإنجاب فى ضوء الإسلام، الكويت 1983م ص 351.
[2] دكتوراحمد محمد كنعان، الموسوعة الفقهية الطبيه/: ص 45 طبع دارالنفائس لبنان 2006 م .

**۴:هغه غیرمشروع جنسي اړیکي (زنا) چې د دواړو خواوو په خوښې صورت موندلی وي، په اړه د جنین د سقط حکم:**

اوکه کومه ښځه د غیرمشروع جنسي اړیکي له لارې مېندواره کیږي، سره له دې چې هغه پر کبیره گناه باندې مرتکب شوې ده خو پکاره ده چې د هغه له جنین او ماشوم څخه سمه ساتنه وشي، او د شرعي اړتیا پرته د هغه د جنین سقط په هېڅ صورت جواز نه لري، ځکه چې جنین هېڅ گناه نه لري او د هغه حیات په ټولو دورو او مرحلو کې خوندي او د درناوی وړ دی.

اوکه د جنین سقط چې د غیرمشروع جنسي اړیکې له لارې رامنځته شوی وي جایز وگڼل شي نو فحشاء ته لاره هواریږي او هر څوک پرې مرتکب کیږي، ځکه چې ډاډمن وي چې د هغه سقط جواز لري. له همدې امله د غیرمشروع جنسي اړیکې له کبله د جنین سقط په هېڅ صورت او د شرعي اړتیا پرته جواز نه لري. [1]

**۵:هغه غیرمشروع جنسي اړیکې چې په جبري توگه او د ښځې د خوښې پرته صورت موندلی وي په اړه د جنین د سقط حکم :**

اوکه غیرمشروع اړیکه داسې وي چې له ښځې سره په زوره جنسي عمل ترسره شوی وي، په دې اړه علماء وايي چې له ښځې څخه د مفسدې د دفع کولو لپاره د دغه شان جنین سقط جواز لري په دې شرط چې دغه سقط د روح د نفخ مخکې یعني د ۱۲۰ ورځ مخکې وي. [2]

[1] دکتوراحمد محمد کنعان، الموسوعة الفقهیة الطبیه/: ص ۴6 طبع دارالنفائس لبنان 2006 م .
[2] دکتوراحمد محمد کنعان، الموسوعة الفقهیة الطبیه/: ص ۴6 طبع دارالنفائس لبنان 2006 م .

**۶:د جنين د سقط حکم په هغه صورت کې چې په جنين کې جدي نيمګړتياوې او معلوليتونه شتون ولري**

د اسلامي نړۍ د اسلامي فقهي ناسته په دولسمه دوره کې چې د ۱۹۹۰ زيږديز کال د فبروري له ۱۰ تر ۱۷ نيټې پورې په مکه مکرمه کې منقعد شوې وه، د جنين د سقط او په جنين کې د شته نيمګړتياوو په اړه د فقهي د علماوو او د طبي کارپوهانو په ګډون خبرې اترې وکړې او په پای کې د ټولو په ګډې رايې سره په دې تصويب ورسېدل چې: (کله چې مېندواري ۱۲۰ ورځې ته رسېدلي وي او طب ثابته کړې وي چې پکې جدي نيمګړتيا شتون لري، په دې صورت کې بيا هم سقط جواز نه لري بلکې يوازې هغه وخت جواز لري چې د تکړه طبي کارپوهانو په تشخيص سره دا ثابته شي چې د جنين بقاء د هغه د مور د مړينې سبب ګرځي، څه دا چې په جنين کې نيمګړتيا شتون ولري که ونلري.

که د تکړه طبي کارپوهانو له لوري د ۱۲۰ ورځې مخکې دا ثابته شي چې په جنين کې جدي نيمګړتيا او معلوليت چې د علاج وړ نه وي شتون ولري، او د پرېښودو په صورت کې وزيږيږي نو د هغه کورنۍ به له ګڼ شمير ستونزو سره مخ شي، په دې صورت کې د هغه سقط له ستونزو څخه د ژغورنې په موخه جايز دی. [1]

**۷:د ټابلټ او پيچکاري او... کارولو په مرسته له مېندوارۍ څخه د مخنيوي حکم:**

که څه هم اسلامي شريعت انسانان د نسل زياتېدو ته هڅولي دي، خو په ځينې حالتونو کې ښځه او مېړه يا د هغوی يوه خوا لېوالتيا لري چې د ښځې د کمزورتيا، مرض، د مېندوارۍ فشار، د ماشوم پالنې او تعليم ته د نه رسېدو وېرې، اقتصادي ستونزو او داسې نورو عواملو له امله د بېلابېلو لارو په مرسته

[1] مجمع الفقه الإسلامی لرابطة العالم لإسلامی : دورته الثانية عشرة مكة المكرمة ( 10 – 17 فبراير 1990م ).

له مېندوارۍ ښځه مخنيوی وکړي، چې دا شان مخنيوی د ځانګړي شرايطو په پام کې نيولو سره جواز لري.

يو د نسل تنظيم دی او بل هم د نسل محدودل دی، چې د نسل محدودول د علماوو په اتفاق حرام دی او د نسل تنظيم په هغه صورت کې چې شرعي اړتيا شتون ولري د ځانګړي شرايطو په رعايت سره جواز لري.

د اسلامي فقهې ټولنه په پنځمه دوره کې چې په ١٩٨٨ زيږديز کال کې د کويټ په دولت کې منعقد شوی و، په دې تړاو داسې پايلې ته رسيدلې دي:

لومړی: د عام حکم صادرول چې د مېندواري او زيږونې په برخو کې د دواړو خواوو اختيارات محدودوي، جواز نه لري.

دويم: د ښځې يا سړي عقيم کول په داسې توګه چې ښځه اصلاً مېندواره نه شي، حرام دی، خو په هغه صورت کې چې شرعي اړتيا شتون ولري.

دريم: اوکه شرعي اړتيا شتون ولري، له مېندوارۍ ښځه مخنيوی په لنډمهاله توګه د دواړو خواوو په خوښې د مشروع وسايلو په مرسته او يو بل ته د زيان نه رسولو په شرط صورت مومي، چې دغه مخنيوی د علوق د القاح مخکې ترسره کيږي.

د نسل تنظيم په عمومي توګه او داسې چې په دې برخه کې کمپاين په لاره واچول شي، جواز نه لري، ځکه چې په دې کار سره اسلامي امت کميږي او د اسلام په زيان او د اسلام د دښمنانو په ګټې پرې وځي، خو که دا چې اړتيا وليدل شي د نسل تنظيم په انفرادي توګه جواز لري. [1]

---

[1] الفقه الإسلامی و ادلته:ج 7 ص 5775.

**د جنین پورې اړوند فقهي احکام:**

اوکه څوک پر جنین باندې تېری وکړي او هغه سقط کړي، یو لړ حکمونه او مسوولیتونه هغه ته متوجه کیږي چې په لاندې ډول دي:

**لومړی: دیت او کفاره په هغه صورت کې چې سقط پرته له شدید اړتیا ترسره شوی وي:** اوکه پر ښځې باندې د ګوزار، د جنین وژونکي درملو خوړلو یا د وېرولو له امله جنین مړ او سقط کیږي، په دې صورت کې پر فاعل باندې چې که خپله مور هم وي، دیت اړین ګڼل کیږي او هغه عبارت دی غره ده او غره د دیت د عشر نیمایي جوړوي چې په دینار کې ۵۰ دیناره چې ۲۱۲.۵ ګرامه سره زر یا ۵ اوښان یا د هغه معادل بیه کیږي.

**دلیل:** په صحیح بخاري ومسلم کې راغلي دي چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په دوره کې د هذیل قوم څخه دوه ښځو خپل منځ کې جګړه او لانجه کوله، چې یوې ښځې پر بلې باندې تیږه ګوزاره کړه چې په پایله کې د ښځې په ګېډه کې چې څه و له منځه ولاړل، د دغې پیښې خبر رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ورسېده نو پر عاقلې او د قاتلې ښځې قوم باندې د مقتولې ښځې د دیت او د جنین غره (د عشر نیمایي) فیصله کړه. [1]

**دویم: کفاره:** په هغه صورت کې چې جنین مړ او سقط شي، پر ضارب باندې کفاره مستحب کیږي. [2]

**دریم: د جنین د سقط حکم چې ژوندی سقط شي او بیا مړ شي:** اوکه جنین د ګوزار، د ناوړه درمل په خوړلو ژوندی سقط شي او بیا مړ شي، په دې صورت کې دا کار نږدې عمدي وژنې ته ورته ګڼل کیږي او پر وژونکي او ضارب باندې بشپړ دیت او کفاره هم وضع کیږي.

[1] متفق علیه، نیل الاوطار: ج7 ص 69.

[2] تالیف عثمان بن علي بن محجن البارعي، فخر الدین الزیلعي الحنفي (المتوفی: 743 هـ)، تبیین الحقایق :ج 6 ص 141، الناشر: المطبعة الکبری الأمیریة - بولاق، القاهرالطبعة: الأولی، 1313 هـ
بدایع الصنایع:ج 7 ص 326.

**ځلورم: د مطلقه ښځې د عدت انتهاء:** یعني که ځوک جنین سقط کړي، له دې کار سره که ښځه په عدت کې طلاق وي د هغه عدت سر ته رسیږي.

# دريیم څپرکی

## د نسل تنظيم په نړئ کې

### لومړی مبحث: د نړی نفوس

د نفوسو ډېروالی د ننئ زماني له انقلابي واقيعتونو څخه شميرل کيږي، په کال 1850 م کې د نړئ د نفوســو شــمير 1/171 ميليارد کســه اټکل شــوی وو د دريمي ميلادي زريزي په پيل کې د نړئ د نفوسو شمير شپږ ميليارد کسو ته ورسېدو. په اټکل شوي توګه د شلمي پيړئ په دوهمه نيمايي کې په هر ديارلس کلونو کې د نړئ د نفوسو د شمير په ډېروالي کې يو ميليارد کسه زياتوالی راځي.

په اکثريت ډول دنفوسو دا زياتوالی د نړئ په هغو سېمو کې راځي چې د مخکينيو خلکو د معاش او اړتياوو د پوره کول وړتيا نلري. سره لدي چې په وروستيو دوو لسيزو کې د نسل د تنظيم او کورنيو کنترول په موخه ډېری هلي ځلي ترسره شوي ولي بيا هم داسې وړاندوينه کيږي چې په 2050 م کال کې به د نړئ د نفوسو شمير د 7/6 نه 2/ ميلياردو کسو څخه لوړ شي چې 12/41 په سلو کې به د پرمختلليو او صنعتي هيوادونو کې او نور به د پراختيا په حال کې هيوادونو کې پاتي شي. دا بې ساري پديده په ظاهري ډول اسانه ښکاري ولې مونږ يو نا معلوم لوري ته رهبري کوي.[1]

د نفوسو دا تېز زياتوالی د نړئ په ټولو برخو کې دټولو مهمو اړخونو له لوري په اقتصادي، ټولنيز او کلتوري برخو کې د پاملرني او تمرکز وړ موضـوع باندي تبديل شـوی. او د نفوسـو کمي او کيفي ځانګړتياوو ته ته په کتني سره د هر هيواد پراختيا د هغه هيواد له نفوسو سره مستقيم تړاو لري. هغه

[1] Urdal, H. (2012). A clash of generation? Youth bulge

داسي چې په ننئ نړئ کې په داخلي او بهرني سياستونو کې د نفوسو ونډه ستر رول لري او اقتصادي او ټولنيز پراختيايي پلانونه په ډيريو برخو کې نفوسو شمير او کيفيت په کتو سره تطبيق کيږي.

په نړئ کې د خلکو لپاره د مسکن نشتون، د انرژي سرچينو ته نه لاسرسی، د فقر پراختيا او اوسيدني د چاپيريال ککړتيا عمده عوامل د نفوسو ډيروالی بلل کيږي او دا ستونزه مخ په زياتيدو ده. د جميعت پيژندونکو عمومي دندي دادي چې په يوه ټولنه کې د زيږون کچه، د مرگ کچه، د مهاجرت کچه، د واده کولو کچه او ... کچې تحليل او تجزيه کې چې دهيواد اقتصادي او ټولنيزي پراختيا ته څومره زمنيه برابروي. په نفوسو کې د سن، جنس، تحصيل او د اگاهي کچې معلومول يوه بله مهمه پروسه دی. چې عموماً ټولي پراختيايي پروگرامونه همدي کچې ته په کتو سره عملي کيږي. د نفوسو د ډيروالي مخالفين هم شته داسي چې دا پديده د بشر منځ کې د بمونو د پټاو په ډول ارزوي او همدا راز د نفوسو د ډيروالي موافقين هم شته چې دا مسأله مثبته ارزوي او د نسل د ډيروالي پيغامونه ورکوي.

**اول مطلب: د نفوسو ويش او وده**

چين او هند ډوازيني هيوادونه دي چې تر يو ميليارد ډېر نفوس لري، چې په ټوليز ډول د نړئ دريمه برخه تشکيلوي. [1]

**جمعيت:** د نړئ ټول شمير کسانو ته چې د ځمکې په سر د زمان په يوه واحد کې ژوند کوي جمعيت ويل کيږي. د آمريکا د سرشميرني اداري د راپور په بنسټ د 2012 م کال د نوامبر په مياشت کې د نړئ ټول نفوس 7 ميلياړده او 46 ميليونه کسه اټکل شوی وو. په کال 1350 م کې چې کله د وبا

[1] Urdal, H. (2012). A clash of generation? Youth bulge.

ناروغي له آمله د نړۍ د نفوسو د مرګ کچه لوړه وه د نړۍ د نفوسو شمیر 370 میلیونه آټکل شوی وو له هغه را وروسته د نړۍ نفوسو شمیر په بې ساري ډول نمو وکړه داسې چې اوسني شمیر په ډول را څرګند شو. 1950 م کال په لسیزه کې د یو لنډ وخت لپاره د نفوسو د نمو سطحې ته چارواکي متوجه کړل بیا په لوړ وخت لپاره په 1960 او 1970 م لیسیزو کې په کلني ډول د نفوسو د نمو سطحه 1.8 سلني ته جګه شوه، کوم کچه چې دبشریت په تاریخ کې بې ساري وه. په کال 1963 م کې د نفوسو د سطحه 2.3 سلني ته ورسېدو.

د نړۍ د نفوسو دا تیزي نمو دولتونه او کورنۍ پلانونو او سیاستونو ته مجبور کړل ددې هڅو په نتیجو کې په 2011 م کال کې د نفوسو د نمو سطحه 1.1 سلني ته را ټیټ شو. په 2011 م کال کې په تقریبي ډول 134 میلیون کسه دنیا ته راغلي او 50 میلیونه کسه مړي شوي. وړاندوینه کیږي چې په راتلونکي کلونو کې به د پیدایښت کچه به همدې حالت کې ثابته پاتې شي. مګر د مړینې کچه به تر کال 2040 پورې په کلني ډول 80 میلونو کسو ته ورسیږي.[1]

د 2006 م کال سرشمیرنه:

1. چین: یو میلیارد و 320 میلیونه کسه (تقریباً 22٪ د ټولي نړۍ نفوس)
2. هند: یو میلیارد و 320 میلیونه کسه (تقریباً 17٪ د تولي نړۍ نفوس)
3. آمریکا: 300 میلیون کسه (په حدود د 6.4٪ د ټولي نړۍ نفوس)
4. آندونیزیا: 225 میلیون کسه (په حدود 5.3٪)
5. برازیل: 186 میلیونه کسه (په حدود 8.2٪ )

[1] UN population division. (2013). world population prospect; the 2012 revision. New York.

6. پاکستان: 165 میلیونه کسه (په حدود 5.2٪ )

7. بنګلدیش: 147 میلیونه کسه (په حدود 3.2٪)

8. روسیه: 143 میلیونه کسه (په حدود 1.2٪ )

9. نایجریا: 135 میلیونه کسه (1.2٪)

10. جاپان: 128 میلیونه کسه (په حدود 0.2٪ د ټولي نړئ د نفوسو تشکیلوي).

11. همدارنګه په ترتیب مکسیکو، ویتنام، فیلپین، المان او نور هیوادونه راځي.

## دویم مطلب: د نسل تنظیم په په پرمخ تللو هیوادونو کې

د نفوسو تغیرات په لویو وچو کې

اروپا: تر ټولو لږه وده کې دی (0/2-) اوس محال 11/5 په سلو کې د نړئ نفوس لري او تر 2025 به 9/1 په سلو کې چې اټکل کیږي دا شمیر به په کال 2050 پوري 7/2 په سلو کې ورسیږي. [1]

آفریقا: تر ټولو ډېره وده کې قرار لري. که چیرته لنډ وخت کې د رشد دا کچه را ټیټه نشي هېله کیږي چې تر کال 2050 پوري به د نړئ 20 سلنه نفوس ولري پداسې حال کې چې 14 په سلو کې یې اوسنی ګراف دی.

آسیا: د نړئ تر ټولو ډېر تعداد وګړي په آسیا کې اوسي. (60 سلنه خلک په اسیا کې اوسي) چې ېوازي چین یې 34 سلنه د نړئ نفوس ځان کې ځای کړي. او 28 سلنه وګړي د نړئ په سطحه په هند کې اوسي تر 2050 کاله پوري به د آسیا 60 سلنه رول 58 سلني ته را ټیټ شي او هند به خپل ځای له

[1] UNFPA. (2012). towards realizing the full potential of adolescents and youth. New York.

چین سـره تبادله کړي. چین 26 په سـلو کې (1/39میلیارد) او هند 30 په سـلو کې (69/ 1میلیارد) د آسیا لویې وچې نفوس به په ځان کې ځای کړي.

آمریکا او اقیانوسـیه: ددې دوو لویو وچو ډیرى نفوس د مهاجرینو څخه تشـکیل شـوى خصـوصـاً د اروپایانو مهاجرت او بعد له اروپا نه تر ټولو کم دجمیعت رشد د زیږون په واسطه لري. زمونږ هیواد کې دقیقه سر شمیرنه نده ترسره شوي په تقریبي ډول له 30 نه تر 36 میلیونه نفوس افغانستان لري.

د نړئ د وکړو شمیر په تېر کې او دراتلونکي کلونو وړاندوینه (ارقام په میلیون).[1]

| سیمه | ۱۷۵۰ | ۱۸۰۰ | ۱۸۵۰ | ۱۹۰۰ | ۱۹۵۰ | ۱۹۹۹ | ۲۰۵۰ | ۲۱۵۰ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| نړئ | ۷۹۱ | ۹۷۸ | ۱۲۶۲ | ۱۶۵۰ | ۲۵۲۱ | ۵۹۷۸ | ۸۹۰۹ | ۹۷۴۶ |
| آفریقا | ۱۰۶ | ۱۰۷ | ۱۱۱ | ۱۳۳ | ۲۲۱ | ۷۶۷ | ۱۷۶۶ | ۲۳۰۸ |
| آسیا | ۵۰۲ | ۶۳۵ | ۸۰۹ | ۹۴۷ | ۱۴۰۲ | ۳۶۳۴ | ۵۲۶۸ | ۵۵۶۱ |
| اروپا | ۱۶۳ | ۲۰۳ | ۲۷۶ | ۴۰۸ | ۵۴۷ | ۷۲۹ | ۶۲۸ | ۵۱۷ |
| لاتینه آمریکا | ۱۶ | ۲۴ | ۳۸ | ۷۴ | ۱۶۷ | ۵۱۱ | ۸۰۹ | ۹۱۲ |
| شمالي آمریکا | ۲ | ۷ | ۲۶ | ۸۲ | ۱۷۲ | ۳۰۷ | ۳۹۲ | ۳۹۸ |
| اقیانوسیه | ۲ | ۲ | ۲ | ۶ | ۱۳ | ۳۰ | ۴۶ | ۵۱ |

1-3. جدول د نړئ د نفوسو وړاندوینه.

[1] اطلس گیتاشناسی ۸۷ ـ ۸۸

| د نړۍ په لويو وچو کې د نفوسو ويش په تېرو کلونو کې او دراتلونکي کلونو لپاره آټکل.[1] | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| **آسيا** | ۵/۶۳ | ۹/۶۴ | ۱/۶۴ | ۴/۵۷ | ۶/۵۵ | ۸/۶۰ | ۱/۵۹ | ۱/۵۷ |
| **اروپا** | ۶/۲۰ | ۸/۲۰ | ۹/۲۱ | ۷/۲۴ | ۷/۲۱ | ۲/۱۲ | ۰/۷ | ۳/۵ |
| **لاتينه آمريکا** | ۰/۲ | ۵/۲ | ۰/۳ | ۵/۴ | ۶/۶ | ۵/۸ | ۱/۹ | ۴/۹ |
| **آمريکا** | ۳/۰ | ۷/۰ | ۱/۲ | ۰/۵ | ۸/۶ | ۱/۵ | ۴/۴ | ۱/۴ |
| **اقيانوسيه** | ۳/۰ | ۲/۰ | ۲/۰ | ۴/۰ | ۵/۰ | ۵/۰ | ۵/۰ | ۵/۰ |

3-2. جدول د نړۍ د نفوسو وېش په لويو وچو کې.

## دويم مبحث: د نسل تنظيم په اسلامي هيوادونو کې

### لومړی مطلب: په اسلامي هېوادونو کې د نسل د تنظيم احصايه

د اسلامي هېوادونو ډېر شمير علماء د رايو په اکثريت سره توافق ته رسېدلي، چې له اقتصادي پلوه د کورنۍ تنظيم او د اولادونو د شـــمير مخنيوی د افرادو لپاره جايز دی، چې په دې اړه د نړۍ په اســلامي هېوادونو کې علماوو د دې موضــوع په اړه خپلې فتواګانې هم صــادرې کړي، چې د همدغو فتواګانو په رڼا کې اســلامي هېوادونه د کورنيو د تنظيم په اړه پرېکړې کړي او د اســلامي نظرياتو په چوکاټ کې دغه لاره تعقيبوي. دلته به د بېلګې په ډول د هغو هېوادونو نومونه ذکر کړو چې په کې تر ۵۰سلنه زيات مسلمان وګړي ژوند کوي او د کورنۍ د تنظيم لپاره خپل پلانونه لري:

[1] اطلس گیتاشناسی ۸۷ ـ ۸۸

3-1. جدول

| شمیره | اسلامي هېوادونه | د هغو ښځو شمیر (له ۱۵-۴۹ کلنۍ پورې) چې د کورنۍ د تنظیم لپاره له بېلابېلو میتودونو څخه استفاده کوي |
|---|---|---|
| ۱ | آلبانیا | ۶۹،۳٪ |
| ۲ | آذربایجان | ۵۱،۱٪ |
| ۳ | اردن | ۵۹٪ |
| ۴ | ازبکستان | ۶۶،۸٪ |
| ۵ | افغانستان | ۲۳٪ |
| ۶ | الجزایر | ۶۱،۴٪ |
| ۷ | عربي متحده امارات | ۳۵،۳٪ |
| ۸ | اندونیزیا | ۶۱،۴٪ |
| ۹ | ایران | ۷۸،۹٪ |
| ۱۰ | بحرین | ۷۰،۲٪ |
| ۱۱ | بنګله دېش | ۵۵،۸٪ |
| ۱۲ | بورنډي | ۵۲،۳٪ |
| ۱۳ | تاجکستان | ۳۸،۲٪ |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۴ | ترکمنستان | ۶۴،۳٪ |
| ۱۵ | ترکیه | ۷۳،۰٪ |
| ۱۶ | تونس | ۶۲،۰٪ |
| ۱۷ | پاکستان | ۲۹،۶٪ |
| ۱۸ | سودان | ۸،۰٪ |
| ۱۹ | سوریه | ۵۸،۳٪ |
| ۲۰ | سنیگال | ۱۲،۵٪ |
| ۲۱ | سومالیا | ۱۴،۶٪ |
| ۲۲ | عراق | ۴۹،۸٪ |
| ۲۳ | سعودي عربستان | ۲۴،۸٪ |
| ۲۴ | عمان | ۳۴،۱٪ |
| ۲۵ | قرغزستان | ۴۷،۸٪ |
| ۲۶ | قزاقستان | ۵۰،۷٪ |
| ۲۷ | قطر | ۴۹٪ |
| ۲۸ | کویت | ۵۸،۴٪ |

| | | |
|---|---|---|
| ۲۹ | گامبیا | ۱۷،۵٪ |
| ۳۰ | لایبیریا | ۱۱،۴٪ |
| ۳۱ | لبنان | ۶۰٪ |
| ۳۲ | لیبیا | ۵۴،۵٪ |
| ۳۳ | مالی | ۸،۲٪ |
| ۳۴ | مالیزیا | ۶۴،۴٪ |
| ۳۵ | مراکش (المغرب) | ۶۵،۰٪ |
| ۳۶ | مصر | ۶۰،۳٪ |
| ۳۷ | موریتانیا | ۹،۳٪ |
| ۳۸ | نایجیریا | ۱۴،۷٪ |
| ۳۹ | یمن | ۲۷،۷٪ |

اوس به هغو هېوادونو ته اشاره وکړو چې اسلامي علماوو په کې په انفرادي توګه او یا هم د هېواد په کچه سیمینارونو کې د کورنۍ د تنظیم په اړه خپلې فتواګانې صادرې کړې دي:

## دوهم مطلب: په اسلامي هیوادونو کې د نسل د تنظیم په اړوند د علماوو فتواګاني

### ۱. مصر

شـــیخ جادالحق علي د الازهر پوهنتون یو پخوانی امام چې په ۱۹۷۸-۱۹۸۸میلادي کلونو کې یې خپله فتوا صادره کړې، وایي چې د حضرت پیغمبر(ص) په اړه بېلابېل روایتونه شته او زیاتوي چې په

ډېرو روايتونو کې د کورنۍ تنظيم ته اشـــاره شـــوې، په دې معنی چې د لنډ مهال لپاره د مېرمنو د اميدوارۍ د مخنيوي روايتونه په کې شته. د يادونې وړ ده چې هغه مهال به يې د حمل او يا اميدوارۍ مخنيوي ته عزل ويل، چې ډېرو صـــحابه کرامو هم له عزل او يا هم د اميدوارۍ د مخنيوي له ميتود څخه استفاده کوله او رسول الله هم په دې کار خبر و، خو سره له دې يې هم د هغوی دا کار تحريم نه کړ او نه يې هم ورته د منع کېدلو توصيه وکړه.[1]

نو له پورتنيو څرګندونو څخه جوتېږي چې په اوســنيو عصــري ميتودونو د اميدوارۍ مخنيوی يو مشروع عمل دی، خو په دې شرط چې د عقامت او يا شنډتوب لامل ونه ګرځي. د دې ترڅنګ شيخ احمد ابراهيم او همکار يې مصطفی السعيد په ۱۹۳۶ميلادي کال کې هغه مهال چې د خپلې دوکتورا (د کورنۍ د حقوقو پراختيا) دفاع يې کوله، دوو ټکو ته يې اشاره وکړه:

۱) د اميدوارۍ يا حمل د مخنيوي اجازه ورکول ۲) د شــنډتوب يا عقيم کولو پر غيرمشــروعيت باندې ټينګار.

**۲. سعودي عربستان**

د عربســتان يو نامتو شــيخ ســعيد په ۱۹۶۸ميلادي کال کې په (دايرة المعارف فقه الســنة) نومي کنفرانس کې د ولادتونو ترمنځ د واټن مراعاتولو په اړه فتوا ورکړه او زياته يې کړه چې که چېرې يوه کورنۍ ډېر اولادونه ولري او په دې توګه يې سمه پالنه نه شي کولای، نو په دې صورت کې ښځه او مېړه کولای شي د لا زياتو ستونزو د مخنيوي په موخه د اولاد مخه ونيسي. پر دې سربېره، که چېرې ښځه د پرله پسې زېږونونو له امله کمزورې او مريضــه شــوې وي، نو په دې صــورت کې هم اجازه ورکړل شــوې ترڅو د اولاد له زېږولو څخه ډډه وکړي. نوموړی شــيخ زياتوي چې د اولاد د مخنيوي لپاره له اوسنيو عصري ميتودونو څخه په مؤقت ډول بايد کار واخيستل شي او دا کار هم بايد د اړتيا په

[1] Islamic republic of Afghanistan. (2010). Afghanistan national development strategy plan mind 2010- mid 2013, volume l. Kabul; ministry of finance Department of policy

صورت کې ترسره شي او نیت باید دا نه وي چې د اولاد مخنیوی د رزق او روزۍ د کموالي په موخه ترسره شي، ځکه رزاق الله دی او نیت باید دا وي چې د اولاد مخنیوی د مریضۍ او یا هم نورو شرعي عذرونو له مخې ترسره کیږي.[1]

### ۳. ترکیه

په ترکیې کې د ډاکټر حسین عطایی په نوم عالم چې په یو اسلامي پوهنتون کې استاد دی، په ۱۹۷۴میلادي کال کې یې د کورنۍ د تنظیم د مشروعیت په اړه یو شمیر څیړنې ترسره کړې، چې د خپلو څیړنو پایله یې داسې وښوده:

اسلام کیفیت ته پر کمیت باندې ترجیح ورکوي، ځکه اوس مهال اسلامي نړۍ د افرادو د کمبود له امله نه ځوریږي، بلکې د اسلامي نړۍ ټوله ستونزه او اندېښنه د افرادو د استعدادونو او کاري انرژۍ په اړه ده.

### ۴. مالیزیا

د دې هېواد د فتوا ملي شورا په ۱۹۸۱میلادي کال کې یوه فتوا صادره کړه چې په هغې کې د اولاد د مخنیوي لپاره لاندېني شرایط په پام کې نیول شوي وو:

- په هغه صورت کې چې ښځه ناروغه او یا ډېره ضعیفه وي؛
- په هغه صورت کې چې مېړه او یا هم مېرمن یې یوه داسې ارثي ناروغي ولري چې اولاد ته یې انتقال حتمي وي؛
- په هغه صورت کې چې یوې مېرمنې ډېر اولادونه زیږولي وي؛

[1] UNFPA. (2012). towards realizing the full potential of adolescents and youth. New York.

- په هغه صــورت کې چې مېړه او مېرمن د یوشــمېر دلایلو پر بنســټ د اولاد د مخنیوي په اړه پرېکړه وکړي، د بېلګې په توګه روغتیایي، تعلیمي او داسې نورې ستونزې.

د دې ترڅنګ، د مالیزیا د فتوا ملي شورا په ۱۹۸۱میلادي کال کې یو بل حکم هم صادر کړ چې هغه په دې ډول دی:

د نارینه او یا هم مېرمنې شـــنډول یو حرام عمل دی، دا ځکه چې شـــنډول په دایمي توګه د حمل او زېږون مخه نیسي، چې دا یو نامشروع عمل ګڼل کیږي، البته په ا ستثنایي حالتونو کې دغه عمل هم د اړتیا پر بنسټ ترسره کېدای شي، د مثال په ډول که چېرې یوه مېرمن د ځینو روغتیایي دلایلو له امله ونه کولای شــي د زېږون د مخنیوي لپاره هغه میتودونه پر ځان باندې تطبیق کړي چې د زېږون مخه نیســي او یا هم په عمومي ډول زېږون د مېرمنې ژوند ته خطر پېښــوي، نو په داســې یو حالت کې په دایمي توګه د ښځې شنډول یو جایز عمل دی.

**۵. د داکار سیمینار**

په ۱۹۸۲میلادي کال کې د کورنۍ د تنظیم په اړه د نظریاتو او افکارو د تبادلې په موخه د سینیګال په پلازمېنه داکار ښـار کې یو اسـلامي سـیمینار جوړ شـو، چې په کې تر ۲۰۰ زیاتو نامتو اسـلامي علماوو او همدارنګه د سـینیګال لوړرتبه چارواکو او رهبرانو ګډون کړی و، په دې سـیمینار کې یې لاندېنۍ موضوعات تصویب او ومنل:[1]

- په اســـلام کې کورنۍ د ټولنې واحد ګڼل کیږي، چې کورنۍ د واده کولو په پایله کې رامنځته کیږي، نو له همدې امله د هر مســلمان نارینه او مســلمانې ښــځې لپاره واده یو پاک او مقدس تړون دی او باید هر مسلمان ورته په جدي توګه پاملرنه وکړي، ځکه د واده په نه شتون سره اسلامي وګړي د کمیت او کیفیت له مخې له زوال سره مخ کیږي؛

[1] Simon, J. (1977). The economics of population growth

- د اســـلام له نظره د کورنۍ تنظیم او د اولادونو د زیږون ترمنځ د فاصـــلې مراعاتول یو منل شوی او ګټور اصل دی؛
- د کورنۍ تنظیم او د اولادونو ترمنځ د وقفې مراعاتول ډېر ګټور اړخونه لري، د مثال په توګه که چېرې د اولادونو ترمنځ لازمه واقفه مراعات شـي، نو په دې صـورت کې د هغوی حقوقو ته لازمه پاملرنه کېدای شـــي او د دې ترڅنګ د هغوی تغذیې او په پایله کې یې د ناروغیو په وړاندې معافیت هم لوړېږي، چې د همدې ټولو لاملونو په پام کې نیولو ســــره دغه کار له اسلامي اړخه ډېر ګټور او د قدر وړ دی؛

په نوموړي کنفرانس کې داسې پرېکړه وشوه چې د زیږون مخنیوی باید په لاندېنیو شرایطو او حالاتو کې په پام کې ونیول شي:

- کله چې مېرمن نه شي کولای د امیدوارۍ دوره په روغتیا کې تېره کړي؛
- کله چې مېرمن داسې ناروغۍ ولري چې اولاد ته یې د انتقال وېره موجوده وي؛
- کله چې د اولاد مور او پلار د هغه د ســاتلو په اړه وېره ولري او په دې ډاډه وي چې د تغذیې او نورو اړتیاوو د پوره کولو توان یې نه لري؛[1]
- کله چې مېرمن په دې باوري او ډاډه وي چې خپل اولاد ته شــــیدې نه شــــي ورکولای او له اقتصادي پلوه دا توان هم نه لري چې یوې بلې مېرمنې ته پیسې ورکړي، ترڅو اولاد یې ورته د روزنې لپاره وسپاري.[2]

[1] Simon, J. (1977). The economics of population growth.
[2] UNFPA country office for Afghanistan. (2012). Population situation analysis. Kabul

په هرحال، په دې سـيمينار کې د ګډونوالو ترمنځ يوشـمير اختلافات هم موجود وو، د مثال په ډول يوشمير ګډونوالو د کورنۍ د تنظيم پروګرام يو ګټور کار وباله، خو د دې ترڅنګ يې څرګنده کړه چې په ملي کچه دغه پروګرام بايد پر ټولو وګړو باندې تطبيق نه شي. يوشمير نورو ګډونوالو بيا وويل چې دولت د وګړو د هوساينې په برخه کې يو ستر مسؤليت لري، ځکه نو بايد دا کار په ملي کچه پر ټولو باندې تطبيق کړي. خو په عام ډول د سيمينار ټولو ګډونوالو په ګډه ومنله چې دغه پروګرام بايد د ټولو اسلامي اړخونو په پام کې نيولو سره تطبيق او د هېواد ټولو برخو ته وغځول شي.

**۶. اردن**

په اردن کې شـــيخ ډاکټر عبدالعزيز الکايات په ۱۹۸۵ميلادي کال کې په خپل يوه اثر کې چې «په اسلام کې همکاره ټولنه» نومېږي او د کورنۍ د تنظيم په اړه ليکل شوی، ويل شوي چې په اسلام کې د مېرمنې د انتخاب ترڅنګ د اولادونو په زېږولو کې هم انتخاب د مېړه او ښـځې حق دی او دا کار د دې لپاره ارزښـــت لري چې په اســـلام کې کيفيت تر کميت غوره دی او له بلې خوا د کورنۍ تنظيم د ماشومانو پر فزيکي، تعليمي، جسمي معنوي او نورو اړخونو باندې مثبته اغېزه لري.

**۷. ايران**

په ايران کې هم د نورو اسلامي هېوادونو په څېر د کورنۍ د تنظيم په اړه فتواګانې صادرې شوي. په دغه هېواد کې دوه ډوله فتواګانې صادرې شوي، چې يو ډول د اهل سنت او جماعت په مسلمانانو او بل ډول يې د اهل تشـــيع په ډله پورې اړه لري. اوس نو کله چې په ايران کې د کورنۍ د تنظيم په اړه فتواګانې دوو ډلو ته راجع شوې، نو مجبوره يو چې هم د اهل سنت او هم د اهل تشيع فتواګانې راواخلو او په لاندې ډول يې تشريح کړو:[1]

[1] Urdal, H. (2012). A clash of generation? Youth bulge

**الف) د اهل سنت او جماعت فتوا:**

د دې ډلې په وينا د زېږون مخنيوی او د کورنۍ د تنظيم مسئله د اسلام په مقاصدو او اهدافو کې نه شــاملېږي، ځکه نو نه شــو کولای چې د کورنۍ د تنظيم او زېږون موضــوع په يو عام او کلي قانون باندې بدله کړو او بيا يې په ټولنه کې تطبيق کړو، دا ځکه که چېرې دغه ډول قانون تطبيق شي، نو دا به د اولادونو په اړه د کورنيو په شخصي چارو کې ښکاره لاسوهنه او همداراز به د هغوی د شخصي صلاحيت د سلب په معنی وي، بلکې برعکس؛ دا انتخاب او ټاکنه بايد يوازې په کورنيو پورې محدوده وي. د يادونې وړ ده چې د کورنۍ د تنظيم او زېږون په اړه د اهل سنت او جماعت فتوا ځينې ځانګړې مادې تصويب کړي چې په لاندې ډول دي:

- کـه چېرې يوه کورنۍ وغواړي چې د ځينو ملحوظـاتو لـه املـه د اولاد لـه زېږون څخـه مخنيوی وکړي، نو دا کار که موقتي وي او دايمي (شنډتوب يا عقامت)، په هېڅ صورت سره جايز نه ګڼل کيږي، البته ملحوظات چې مخکې ياد شول، کېدای شي په دې ډول وي: د اداري کار او يا دندې له امله د اولاد مخنيوی، د دې لپاره چې د مېرمنې پر ظاهري ښکلا باندې بده اغېزه رامنځته نه شي، د دې لپاره چې مېرمنه په تجارت بوخته وي او د شـتمنۍ د لاسـته راوړلو لپاره د اولاد روزنې ته وخت ونه لري او يا دا چې له مسـؤليت څخه د تېښـتې په موخه د اولاد مخه ونيول شــي او دې ته ورته نورې چارې. نو که چېرې دغه ډول ملحوظات موجود وي، په دې صـــــورت کې د اولاد مخنيوی يو نامشروع عمل دی.
- خو که چېرې د اولاد مخنيوی په دې نيت کيږي چې د پرله پسې زېږونونو ترمنځ لازمه زماني فاصله مراعات شي او په دې توګه مېرمن وکولای شي د خپل اولاد روزنې، تغذيې او روغتيا ته خورا ښـه پاملرنه وکولای شـي، نو په دې صـورت کې د اولاد مخنيوی د ځينو عصـري او مروجو ميتودونو په وسيله جايز ګڼل کيږي، د مثال په ډول له ټابلېټونو، قرصونو او يا هم هغه

وسايلو څخه استفاده چې د زېږون د مخنيوي لپاره د ډاکټرانو تر لازمو مشورو وروسته بازار ته عرضـــه شـــوي دي. د يادونې وړ ده چې په دې کار کې بايد د زوجينو (مېړه او مېرمنې) رضايت موجود وي او دواړه پرې توافق ته رسېدلي وي.

- په دايمي ډول د نارينه او يا مېرمنې شنډول (عقامت) په هېڅ صورت کې جايز نه دی. البته يو اسـتثنايي حالت موجود دی چې په هغه حالت کې مېرمن کولای شـــي په دايمي ډول ځان شـنډ کړي، هغه داسې کله چې يو مسلمان متخصص ډاکټر د ښځې تر لومړي زېږون وروسـته دا تشخيص کړي، چې په دوهم ځل زېږون سره به د مېرمنې د بدن غړي ته زيان ورسېږي، يا به د مرګ له خطر سره مخ شي او يا به هم داسې ناروغي ورته پېښه شي چې د درملنې وړ نه وي، نو په دې صورت کې ښځې ته جايزه ده چې ځان د تل لپاره له زېږون څخه خلاص کړي او دا کار د دې لپاره جايز دی چې د مور يا مېرمنې ژوند ته خطر پېښ نه شـــي او دا کار هم بايد د زوجينو په رضايت ترسره شي، يعني د مېرمنې د مېړه رضايت هم بايد واخيستل شي.
- يوه مېرمن کولای شي په موقتي ډول يوازې په لاندېنيو حالاتو کې له طبي وسايلو څخه په ګټې اخيستنې د زېږون مخه ونيسي:

الف) په هغه صورت کې چې مېرمن ډېره ضعيفه وي او د اميدوارۍ دوره ورته د زغملو وړ نه وي او د ډاکټرانو تر تشـــخيص وروســـته په ډاګه شـــوې وي چې زېږون ورته ډېر ګواښ پېښولای شي.

ب) کله چې ډاکټران په دې ســلا شــوي وي چې د مېرمنې لپاره زېږون ســتر ګواښ رامنځته کوي.

او پورتني حالتونه، چې مېرمنې ته په کې د زېږون د مخنيوي اجازه ورکول شوې، په هغه صورت کې جايز دي چې له طبي وسايلو او يا داروګانو څخه ګټه اخيستنه جانبي عوارض ونه لري او دا کار هم بايد د مېړه او مېرمنې دواړه په ګډه مشوره او سلا ترسره شي.

**ب) د اهل تشيع فتوا:**

د اهل تشيع د فتوا مهمه برخه د امام خميني ويناوې جوړوي. د دې پوښتنې په ځواب کې چې آيا د کورنۍ د تنظيم په برخه کې د زېږون مخنيوی جايز دی او که نه، امام خميني ځواب ورکړی چې که چېرې د مېړه او مېرمنې ترمنځ توافق موجود وي او دوی دواړه په دې سلا شوي وي چې د زېږون مخه ونيسي، نو په دې صورت کې که چېرې له روغتيايي پلوه د مېرمنې روغتيا ته ګواښ متوجه نه وي، نو په دې صورت کې د زېږون مخنيوی شرعاً جايز دی.

د دې ترڅنګ د اهل تشيع يو بل ديني عالم ارواښاد آيت الله حاجي شيخ بهاء الدين محلاتی په ۱۳۴۳هـ کال کې د کورنۍ د تنظيم د مسئلې په اړه داسې وايي:

د اولاد د مخنيوي لارې چارې او ميتودونه، په هغه صورت کې چې دايمي عقامت يا شنډتوب رامنځته نه کړي، جواز لري.

**۹. ګامبيا**

پر ۱۹۷۹ميلادي کال د ګامبيا هېواد په بنجول نومې سيمه کې يو اسلامي کنفرانس جوړ شو، دغه کنفرانس ته د «اسلام او د کورنۍ تنظيم» نوم ورکړل شوی و، البته په ياد کنفرانس کې يوازې هغه مسايل وڅېړل شول چې تر افريقا محدود وو او د دې لويې وچې له تولنيزو او اقتصادي چارو سره يې مستقيمه اړيکه درلوده. په کنفرانس کې تر ډېرو خبرو اترو وروسته څرګنده شوه چې د کورنۍ تنظيم په افريقا کې يوه نوې موضوع نه ده، بلکې دې موضوع ته پېړۍ پېړۍ مخکې هم اشاره شوې، د مثال په ډول قرآن اولاد ته د شيدو ورکولو لپاره د دوو کلونو موده ټاکلې ده. په کنفرانس کې ټول ګډونوال

په دې سلا وو چې افریقا له پیړیو پیړیو راهیسې د اسلام په رڼا کې خپلې چارې پر مخ وړي، ځکه نو د افریقایي دودونو او اسلامي قوانینو ترمنځ اختلاف نه شته او د کورنۍ د تنظیم موضوع هم همداسې یوه مسئله ده چې هم اسلامي قوانین ورسره ستونزه نه لري او نه هم د خلکو په منځ کې په دې اړه کومه ستونزه او حساسیت موجود دی. اسلام یو مترقي او پرمختللی دین دی چې تل د کورنۍ او ټولنې ښېگڼه غواړي.

لنډه دا چې په کنفرانس کې ټینګار وشو چې اسلامي قوانین د مور د سلامتیا په موخه د اولادونو د زېږون په منځ کې لازمه وقفه ستایي او په دې توګه مینډې دې کار ته هڅوي. هغه دلایل چې د کورنۍ د تنظیم په اړه په کنفرانس کې وړاندې شول، ډېره برخه یې د قرآن او احادیثو پر بنسټ ولاړ وو، ځکه نو د کنفرانس په پایله کې پرېکړه وشوه چې د کورنۍ د تنظیم موضوع باید په ولسونو کې عامه شي او کورنیو ته په دې اړه د اسلامي زده کړو زمینه هم برابره شي، ترڅو دغه کار په ټولنه کې ترویج او په دې توګه د یوې سالمې کورنۍ او پایله کې د ټولنې بنسټ کېښېنودل شي.

**۱۰. کویت**

د اسلامي فقهي مجمع، چې په دغه هېواد کې مهمې اسلامي پرېکړې او فتواګانې صادروي، په ۱۹۸۸ میلادي کال کې یې د کورنۍ د تنظیم په اړه لاندېنۍ پرېکړې صادرې کړې:

- د کورنۍ تنظیم او یا هم د لنډې مودې لپاره د اولاد مخنیوی هېڅ ډول شرعي مانع نه لري، البته په هغه صورت کې چې دغه کار د زوجینو او یا هم مېړه او مېرمنې په موافقه ترسره شي. خو له بلې خوا، د یو داسې قانون وضع کول چې هغه په ټولنه کې عام شي او په دې توګه د مېړه او مېرمنې آزادي سلب کړي، نو دا ډول قانون شرعي جواز نه لري.
- په نارینه او ښځه کې د جنسي قوې له منځه وړل یو غیرمجاز عمل دی، خو په هغه صورت کې چې اړتیا یې ډېره شدیده وي.

## ۱۱. د رباط کنفرانس

دغه کنفرانس پر ۱۹۷۱میلادي کال په رباط کې جوړ شـــو چې موضـــوع يې د کورنۍ تنظيم او د زېږون اړوند موضـــوع وه. په دې کنفرانس کې يوشـــمير ديني علماوو، ســـاينس پوهانو، د اســـلامي پوهنتونونو استادانو ګډون کړی و، چې دغه ګډونوال د اسلامي نړۍ له بېلابېلو هېوادونو څخه راغلي وو، د مثال په ډول له منځني ختيځ، آسيايي او افريقايي هېوادونو څخه ګڼ شمير اسلامي علماوو پر دې موضوع باندې په تفصيل سره بحث وکړ. په دې کنفرانس کې پرېکړه داسې وشوه چې په اسلام کې د کورنۍ لپاره دا جواز موجود دی چې د خپلو اولادونو د روزنې په اړه مهمې پرېکړې وکړي، مثلاْ يوه کورنۍ کولای شـــي د اولادونو د زېږون په اړه داســـې پرېکړه وکړي چې هم د مېړه او هم مېرمنې دواړو په ګټه وي او د دې کار لپاره له مشـروع او مهمو ميتودونو څخه بايد ګټه واخيستل شـي. د دې ترڅنګ، د عقامت او يا شـنډتوب د موضـــوع په اړه ګډونوالو د الازهر پوهنتون د مصـــوبو فتواګانو پيروي لازمه وګڼله چې په کې له شنډوونکو وسايلو څخه ګټه اخيستنه غيرمشروع بلل شوې ده.

## ۱۲. سوماليا

په ۱۹۹۰میلادي کال کې يو بل اسـلامي کنفرانس چې د سـوماليا په پلازمېنه موګاديشـو کې د الازهر پوهنتون په همکارۍ جوړ شو، د کورنۍ د تنظيم په اړه يې لاندېنۍ پرېکړې صادرې کړې:

- صحابه کرامو، هغه مهال چې قرآن کريم د نزول په حالت کې و، له عزل څخه يې ګټه اخيسته؛
- نو که چېرې دا موضـــوع د تحريم وړ وای، د اســـلام ســـتر پيغمبر به هغه مهال لا دا کار منع کړی وای؛
- د يو بل روايت له مخې، حضرت محمد(ص) د عزل د موضوع په اړه خبر و، خو دا موضـوع يې منع نه کړه.

په کنفرانس کې هغه وســـایل او میتودونه هم مشـــروع وګڼل شـــول، چې په موقتي ډول د حمل او یا امیدوارۍ مخه نیسي.

**۱۳. هندوستان**

که څه هم د هندوستان د نفوس یوه لویه برخه غیرمسلمانان جوړوي، خو له دې سره په کې مسلمانان یو لوی اکثریت دی، چې دیوبند دارالعلوم هم په همدې هېواد کې فعالیت کوي او دا د اســـلامي نړۍ له سترو علمي مرکزونو څخه شمیرل کیږي. نو د نورو اسلامي مرکزونو او دارالعلومو ترڅنګ، دیوبند هم د کورنۍ د تنظیم او زیږون په اړه خپله فتوا صـــادره کړې. په دې فتوا کې ویل شـــوي چې هغه وسایل چې په دایمي ډول د زیږون مخه نیسي او یا هم د شنډتوب او عقامت لامل ګرځي، حرامې دي، خو له دغو وسایلو څخه ګټه اخیستل یوازې په هغه صورت کې جواز لري،
چې د یوې مېرمنې لپاره زیږون یو ډېر جدي ګواښ رامنځته کوي او یا یې هم پر اولاد باندې منفي اغېزه کوي.

## درېیم مبحث: د افغانستان د وګړو څرنګوالی

د افغانســتان دیموګرافیک[1] وضـیعت د موجودو شـواهدو او ارزونو او د راتلونکي بدلونونو په اړه د سناریوګانو په واسطه تر څیړنې لاندې نیول کیږي. په هغو شرایطو کې چې د وګړو نوي سرشمیرنه په ملي کچه نه وي تر سره شوې، د وګړو د وضعې څیړل او د راتلونکي سناریو د امیدوارۍ کچې، د ماشوم او میندو د مړینې کچې او کډوالو اړوند شرایطو په اساس سرته رسیږي. اطلاعاتي سرچینې د وګړو بیلابیل اټکل وړاندي کوي: د احصـایې مرکزی ادارې د هیواد ټول وګړي دملګرو ملتونو ادارې څخه اټکل کړي دي. د نوؤ معلوماتو را ټولول کولای شي چې ددي و ضیعت په روښانولو کې مرسته وکړي. د نوؤ معلوماتو را ټولولو پوري به د ملګرو ملتونو له اټکلونو څخه ګټه واخیســتل شـــی. ځکه

[1] د نفوسو سرشمیرنه د جنس او عمر له نظره

چې دا ټکونه دبيلابيلو عمرونو لرونکو و ګړو د شــاخصــونو په پام کې نيولو ســره تر ســره کيږي، وړاندي شــوي دي. په داســي کې نه ده ځکه چې د زيږون يا اميدواري او د ماشــوم او ميندو د مړينې کچه او کدوالي د بدلون وړانديزونه کيږي. پدي برخه کې، افغانستان نه د وګړو د باالقوه ګټو د سمون او اغيزمنو پايلو لپاره يې د حل لارې چارې وړاندې کيږي. د امکان تر بريده به هڅې و شـــي تر څو هغه بالقوه ننګونې چې د ديموګرافيک امتياز فرصـــتونه او ګټې محدودي وي، و پيژندل شـــي.[1] د افغانستان مدني قانون 2،416 مادي لري چې له 56 مادي نه شروع بيا تر 267 مادو پوري د کورنۍ په اړه دي اوس د افغانستان دولت پلان لري چې د کورنيو او نسل د تنظيم په اړه مستقل قانون تصويب کړي ددي قانون مسـوده د ښـځو چارو وزارت له لوري چمتو شـوي اوس د عدليي وزارت له لاري د کابينې او پارلمان تصـويب ته اسـتول کيږي. دا قانون 210 مادي لري، نوموړی قانون د ښـځو چارو وزارت، د ستري محکمي، د ښځو دحقوقو شبکه، د بشر د حقوقو خپلواک کميسيون، د مدافع وکيلانو ټولنه، د بشر د حقوقو نړيوال مرکز او ديموکراسي افغانستان له خوانه چمتو شوی.

## لومړی مطلب: په افغانستان کې د وګړو اوسنی وضيعت او بدلونونه

په افغانســتان کې د زيږون يا اميدواري کچه ډيره لوړه ده. د ملګرو ملتونو د وګړو اداری د ۲۰۱۳ کال د اټلکونو په اســـاس د زيږون ټوليزه کچه د ۱۹۷۵او ۷،۷ مليونه ماشــومان دي چې دا شــميره د ۱۹۹۰ او ۱۹۹۵ کلونو تر منځ په تدريجي ډول ۷،۹ مليونو ته لوړه شوه خو ورپسي دا شميره راټيټه شـوه او په ۲۰۰۵ کال کې ۶،۳ مليونه ماشـومانو ته ورسـيده. په اوسـني حال کې د اميدوارۍ ټولييزه شـميره د ۵،۱ او ۶،۰ ماشـومان د هرې ښـځې په وړاندي اټکل شـوي دي په افغانسـتان کې زيږون له ځينو ځانګړتياوو لکه په لومړي زيږون کي د عمر ټيټوالی، د اميدواری تر منځ لنډ واټن او پرله پســي

[1] UNFPA country office for Afghanistan. (2012). Population situation analysis. Kabul

زيږونونه سره څرګند شوی دي. دا دري لاملونه ميندې او نوې زيږيدونکي ماشومان ډير د مړنې له خطر سره مخامخ کوي، سربيره پردي، په لومړي زيږون کې د مور د عمر کموالی دواړه ماشوم او مور د مړينې لامل ګرځي، دا هغه مسله ده چې ډيره د ځوانو نجونو پر پاليسۍ اړه نيسي. پياوړي شواهد شتون لري چې ښيي ډير مثبت بدلونونه د رامنځته کيدو په حال کې دي. د اميدواری کچې د اميدواری کچې په اړه کره سرويګاني چې په دې وروستيو کې تر سره شوي دي، قطعي پايلې نه وړاندې کوي. له دې کبله سروې ګاني دا ښيي چې د اميدواری کچه مخ په کميدو ده. پداسې حال کې چې ډير احتمال ددې شواهدو پر اساس کولای شو چې دا سې نتيجه واخلو چې د افغانستان په او سني حال کې په تدريجي ډول د زيږون د کچې را ټيټيدل لومړني پراوونه تجربه کوي. دا بهيرونه په ټولنيزو ډلو او دهيواد بيلابيلو جغرافيايي سيمو کې يو شانته نه دی. ښاري سيمې او ډيري هغه ولسوالی چې د روغتيايي خدمتونو او ښوونې او روزنې ته لاس رسی لری. دا رقم پکې ټيټ دی. له دې کبله، هغه وګړي چې د زده کړو کچه يې لوړه ده پدې برخه کې د پام وړ پرمختګ کړی دی.

## دوهم مطلب: په افغانستان کې د نفوسو ځانګړتياوې او وړاندې ويل شوې بدلونونه

په افغانستان کې دې ته په پام سره چې په تير وخت کې او اوس مهال د زيږون کچه لوړه ده، د وګړو د جوړښت ډيره برخه ځوانان جوړوي. د دوو وروستيو لسيزو په ترڅ کې د افغانستان کابو نيم نفوس د ۱۵ کلونو ټيټ عمر جوړوي او تر دوؤ برخو ډيری يې له ۲۵ کلونو ټيټ عمر جوړوي. هغه وګړي چې ۶۵ کاله او له دې لوړ عمر لري؛ د ځوانانو په نسبت ډير ټيټ حد له ۳٪ څخه کم کې قرار لري. يو بل باندې د اتکا نسبت ( له ۱۵کلونو ټيټ عمر وګړي جمع ۶۵ کلونو وګړو سره او له دې څخه لوړ د هرو هغو ۱۰۰ وګړو په وړاندې چې دکار په عمر کې قرار لري؛ موجود دي. دا امر ددې څرګندونه کوي چې د کار په عمر وګړو ته ډيره اړتيا شته او له بلې خوا پدې وګړو د فشار کچه هم

لوړه ده. [1]دا موضوع هم هغه باالقوه ګټې څرګندوي چې د زیږون د کچې ټیټوالی او د وګړو د عمر په جوړښت کې بدلون رامنځته کولای شي او پایله کې یي لکه څنګه چې مخکې ذکر شول، په هیواد کېد وګړو کره شمیر د سر شمیرنې نه تر سره کولو له امله شتون نه لري خو په قطعی ډول ار قامو کې بدلون دا نسبتونه تر اغیزې لاندې نشي راوستلای.

پدې خاطر، د نفوسو کره شتون نشي کولای دا څیړنې تر اغیزې لاندې راولي. د کمیت له پلوه د یوه ښه لرلید وړاندې کولو لپاره د افغانستان د وګړو اټکلي شمیره چې مخکې ورته اشاره وشوه. د وګړو هغه ارقام چې د ملګرو ملتونو لخوا ګټه ترې اخیستل او څرګند شوي دی، له هغو ارقامو څخه لوړ دي چې د احصایي مرکزي اداره یي کاروي. خو د نسبي ارقامو له امله په ټولییز رقم کې بدلون نشي رامنځته کیدای. د دې څخه موخه داده چې د افغانستان د وګړو د پراختیا ظرفیت امکان نندارې ته وړاندې کړي. دا پوټانسیال د امیدوارۍ د کچې لوړولو او د ځوانانو د عمر په ترکیب کې د ښکیلتې حد دی او ددې امکان شته چې د زیږون د کچې ټیټوالي په صورت کې هم دنفوسو شمیره لوړه شي. د وګړو په ټولییزه توګه شمیره کې بدلون د زیږون د اټکلي شمیره او د وګړو د عمر په جوړښت کې توپیر په وړاندې یو غبرګون ګڼل کیږي چې. د مړینې کچه او کډوال د وګړو پدې جریانونو اغیزه کولای شي خود مخکې ذکر شوؤ دوؤ عواملو په نسبت یي اغیزه په نسبت بې اغیزه پردې اټکلونو کمه ده.[2]

په پنځو راتلونکو کلونو کې، کابو څلور ملیون وګړي به د کار په عمر وګړو کې نفوسو ته ورزیات شي، په داسې حال کې چې ۴۰۰ زره کسان د تقاعد عمر ته په رسیدو سره له دې شمیرې

[1] Islamic republic of Afghanistan. (2010). Afghanistan national development strategy plan mind 2010- mid 2013, volume l. Kabul; ministry of finance Department of policy.

[2] Ministry of public health. (2009). National child and Adolescent health strategy, 2009-2013. Kabul.

ځخه کمیږي، وړاندوینې دا ښــــيي چې تر ۲۰۵۰ کال پورې به د کار په عمر کې د وګړو کچه لوړه شي. یعنې کله چې دا شمیره ۴،۹ ملیونه وګړو ته ورسیږي، بیا به په کراره توګه مخ په را ټیټیدو شي.

تر ۲۰۵۰ کاپورې، د هغو وګړو شمیر چې د کار له عمر ځخه یې عمر ډیریږي، په ۵ کلونو کې له یوه ملیون ځخه زیاته شـــمیره جوړوي. په دې معنا چې په راتلونکو ۴۰ کلو کې به د کار په عمر د وګړو شمیر په پرله پسې توګه هر ۵ کلونو کې له درې ملیونو لوړ شي. [1]

دې لپاره چې د وګړو دا بدلونونه له نورو هیوادونو سره پرتله کړو، د وګړو کلنې وده په ځینو ټاکلو هیوادونو کې وړاندې شـوې ده. د افغانسـتان او نورو هیوادونو ترمنځ بدلونونه شـتون لري. په ۱۹۵۰ کال کې د افغانستان وده له نورو هیوادونو ځخه کمه وه چې له مخې یې دا ځرګندیږي چې په افغانستان کې د زیږون کچه نسبت نورو هیوادونو ته لوړه ده. د افغانستان نفوس د ۱۹۷۵ کال پورې د زیږون د کچې زیاتوالي، د مړینې کچې په راټیټیدو او د روغتیایي وضـعي په سـمون سـره وده کولای شـي. د ۱۹۷۵ او ۱۹۹۵ کلونو تر منځ د نفوســو وده نامنظمه وه او د پام وړ بدلونونه له لاندې مواردو ســره ځرګندوي: د هیواد دننه او بهر ته کډوالی ټیټه کچه د ۱۹۷۵ او ۱۹۹۵کلونو ترمنځ ډیره ټیټه وه. په ۲۰۰۰ کال کې د افغانستان د نفوسو وده له ډیرې لوړې کچې سره مخ په ټیټیدو شوه. سره له دې چې د نفوسو دا د توقع وړ کمښت د ارزښت وړ دی، خو ددې امکان هم شته چې د نفوسو وده د ۲۰۶۰ کال پورې د نورو هیوادو په پرتله لوړه پاته شي. موږ کولای شو خپل تحلیل د نوؤ ځوانانو پالیسیو د موخو وړاندې کړو او داسې یې وګڼو چې د وګوړو ډیری دا بیلګې یو ډول نه یو ډول د نفوسو جوړښت سره تړاو لري. دا بیلګې کولای شو د نفوسو هغه هرمونه (pyramids) شتون لري چې په نفوسو کې د توقع وړ بدلونونه د وګړو د ۵ کلنو ګروپونو په تفکیک سره وړاندې کوي، البته ددې مسلې په پام کې

[1] Simon, J. (1977). The economics of population growth.

Simon, J. (1977). The economics of population growth.

نیولو سره چې د زېږون کچه د متعادل کمښت له جریان څخه نفوسو هرمونه به تر ۲۰۱۰ کال پورې غښتلې شي، ډېر ځوان نفوس او د زېږون لوړه کچه به هم ولري. د افغانستان د نفوسو منځنی حد تر ۲۰۱۰ کال پورې ۱۶،۵ کاله اټکل شوی دي چې د نړۍ په ټولو هیوادونو کې د عمر د جوړښت اووم ځوان حد جوړوي. همدارنګه افغانســـتان د هغو هیوادونو په منځ کې راځي چې 0-14کلونو وګړو ترمنځ تر ټولو لوړ نسبت لري.

د وګړو په هرم کې دا څرګندیږي چې د ۶۴-۱۵ کلونو وګړو ګروپونه د ۲۰۱۵ کال څخه وروسته په تدریجي ډول لوړیږي. وړاندوینه چې د زیږون کچه به په تدریجي ډول څه نا څه را ټیټه شــي. ددې ترڅنګ، توقع کیږي چې د ۲۰۵۰ کال پورې د افغانستان دنفوسو هرم له غوره پایو څخه مثلثي حالت ته بدلون و مومي. دا بدلون په ۳۵-۴۰ کلونو کې رامنځته کیداشـــــي. ددې دورې په ترڅ کې د کار په عمر لرونکو وګړو نفوس به راټیټ شي او له ۶۵ کلونو څخه لوړ عمر لرونکي وګړي به په کم توپیر سره له ۳څخه ۵ فیصدو پورې لوړ شي. ددې احتمال شته چې تر ۲۰۵۰ کال پورې، د وړاندوینه شوې ده چې دا زیاتوالی به د ۲۰۷۵ کال پورې ادامه و مومي یعني تر هغه وخته چې د ۶۵ کلونو څخه د لوړ له نفوس څخه لوړ شي. [1]

ددې لپاره چې د زیږون په کچه کې د بدلونونو پایلې او اغیزه یې یو بل باندې اتکا باندې درک کړو، هغه سناریو ګانې چې د ریږون کچې لوړوالی، منځنی حد، ټیټ حد او ثابتوالی څرګندوي، د دې ســـناریوګانې پایلې څرګندې دي: د ۱۹۵۰ کال څخه تر ۲۰۰۰ کال پورې د زیږون د کچې لوړیدل، د اتکا ټولییز نسـبت له ۸۰ اړوند کســانو در هرو نفرو ۱۰۰ نفرو په په وړاندې چې د کار په عمر کې قرار لري او کابو ۱۱۰ اړوند کسـان د ۱۰۰ هغو کسـانو په وړاندې چې د کار په عمر کې قرار لري،

---

[1] مخکینی، 21.

لوړ شوی دی. د اړوند او د هیواد اقتصادی وضیعت د فشار لاندې دی لکه څنګه چې د تیرې لسیزې په ترڅ کې د افغانستان وضیعت په همدې ډول وؤ.

د زیږون منځنې کچې په سناریو کې به یو شانته بیلګې ولري خو یو بل باندې د اتکا تولیز نسبت له۴۰فیصدو نه را ټیټیږي او پخپل تر ټولو کم حد کې پاته کیږي چې ورپسې ځان ته صعودي بڼه غوره کوي. د زیږون د لوړ حد په فرضـي سـناریو کې، د زیږون تولیزه کچه له ۵،۲۵ څخه په ۲۰۱۵ کال کې ۳،۰۳ ته تر ۲۰۳۰-۲۰۳۵ کال پورې راټیټیږي او تر ۲۰۵۰ کال پورې به ۲،۳۶ ته ورسیږي. په دې حال کې یو بل باندې د اتکا نسبت کابو ۵۰ فیصدو ته ورسیږي.

د پورته ذکر شوو دریو فرضیو په اساس د اتکا د نسبتونو تحلیل یوه مهمه بیلګه څرګندوي: د تحلیل پایلې دا ښیي چې لوړ حد ته دیموګرافیک امتیاز د اغیزو رسیدل ددې سبب کیږي چې د زیږون په کچه کې چټک کمښت رامنځته کړي او د کار په عمر کې د وګړو شمیر نسبت هغو کسانو ته چې عمر یې ټیټ لري. لوړ وي: په هغو شــرایطو کې چې د زیږون کچه ټیټه وي، د وګړو د نفوســو دوه ثلثه به د کار په عمر کې قرار لري، په داسې حال کې که چیرې د زیږون کچه لوړه وي، د وګړو د نفوسو کچه به له یو پر دوو سره برابره وي. هر څومره چې یو بل باندې د اتکا نسبت ټیټ وي، د کورنیو او ټولنې ظرفیت به د اقتصادي پیاوړتیا او سیما په برخه کې لوړ حد ته ورسیږي. که چیرې د ماشومانو د اتکا او د لوړ عمر وګړو د اتکا نسبت بدلونونه په جلا توګه وړاندې کړو، به مهمه بیلګه پیاوړې کوي.

د ماشـومانو د اتکا کچې له راټیټیدو وروسـته، د لوړ عمر درلودونکو وګړو د اتکا نسـبت به د څو لســیزو لپاره په یوه ټیټ حد کې پرته له توپیره پاتې شــي.د دیموګرافیک امتیاز ګټې له دې واټن څخه ســـرچینه اخلي: د ماشـــومانو د اتکا کچه راټیټیږي خو دلوړ عمر لرونکو د اتکا حد په څو کلونو کې راټیټیږي. په زړ ښت کې د اتکا حد، ۵۰-۴۰ کال وروسته له هغه وخته چې د وګړو نسبتونه د کار له

عمر څخه په لوړیدو پیل کوي. د دي امکان شته چې دا حد لوړ شي چې ورپسي به دا زیاتوالی مخ په ځټکیدو شـــي. د وخت د دي واټن پای ته رســولو څخه وروســته، هر څومره چې د زیږون کچه ټیټه را شي، هغومره د لوړ عمر لرونکو وګړو اتکا په ځټکتیا سره را ټیټیږي. د لوړ عمر لرونکو وګړو د اتکا نسبت به په ځټکتیا سره لوړ شي.[1]

شنه کرښه چې د زیږون د ټیټې کچې سناریو ته اشاره کوي، په ځټکتیا سره لوړیږي او خپل لوړ حد ته رســیږي. دا پدي معنا ده چې د وخت د تیریدو په ترڅ کې د اتکا د لوړ حد شـاهدان و اوسـو، د دیموګرافیک امتیاز باالقوه ګټې خپل لوړ حد ته رســـیږي او څه موده وروســـته د لوړ عمر لرونکي و ګړو شمیر په ځټکې سره لوړیږي او د تقاعد امتیازاتو او ټولنیزو چارو د تامین تقاضاوي به هم لوړي شي. خو دا وضیعت خواشینونکی نه دي: له هغو فرصتونو څخه سمه ګټه اخیستل چې د دیموګرافیک امتیاز زمینه برابروي، موږ ســره مرســته کوي تر څو و کولای شـو چې د ټولو وګړو د ژوند ســمون لپاره د اړتیا وړ منابع برابرې کړو او په راتلونکي کې وګړو ته د تقاعد غوره خدمتونه وړاندي کړو. له دي کبله باید له یاده ونه ایستل شي چې د ټولنه باید د پالیسیو د ټاکلو تر څنګ، داسي اړین پروګرام رامنځته کړي چې د انتقال په دوره کې د دیموګرافیک امتیاز باالقونه ګټوته تحقق ورکوي.

موږ په دي پوهیږو چې دا امر ســـــربیره پردې چې مهارتونه، تجربې او پوهه لوړوي، د کار او عوایدو په لوړولو کې هم اغیزه کولای شـــــي. له دي کبله بل هغه مهم لامل چې د دیموګرافیک امتیاز اغیزې لوړوي، د هغو وګړو د نفوسو نسبتونو څخه عبارت دي چې عمر یې له ۱۵-۲۹ پوري وي. د رڼیو کرښو د فیصدئ د جمعي حاصل په هره دوره کې له ۱۰۰ فیصدو هغو وګړو سره برابر دي چې د کار په عمر کې قرار لري. د هغو کارکوونکو کچه چې مهارتونه او وړتیاوي یې یو شانته دي، تنخوا

[1] UNFPA. (2010). the case for investing in young people as part of a national strategy. New York.

يي لږڅه د ودي له تجربو څخه لوړه او مخ په زياتيدو دي. په عمومي ډول، د کار کوونکو وړتياوي به د ځلورمې او پنځمې لسـيزې تر پايه خپل لوړ حد ته ورسـيږي چې پر عايدو باندي به يي هم اغيزه ولري.

په ورته وخت کې، د وګړو د عمر په جوړښـت کې بدلون سـره، د ژوند او د کورنيو جوړښـت او دسـمپاحالت په ټولنو کې بدلون مومي. اقتصـاد پوهان او وکړي پيژندونکي د دويم ديموګرافيک امتياز مفهوم داسي څرګندوي چې پکې وګړي د ژوند په پنځمې دوري کې کله چې د تقاعد عمر ته ر سيږي، د خپلې تقاعد دورې لپاره پلان جوړوي او سپما او پانګونې ته ډيره مخه کوي. د پانګونې په شـرايطو کې، د عمر له مخې د وګړو په کارې وړتيا کې دا شـان بدلون د پام وړ اغيزې لري. د ديموګرافيک امتياز په لومړنې پړاو کې د هغو وګړو شمير زياتيږي چې په نسبتاً ټيټ عمر کې قرار لري. ور پسي کله چې نور وګړي د زيږون کچې راټيټيدو څخه وروسـته نړی ته راځي، د کار عمر ته رسـيږي، د هغو وګړو شـمير کميږي چې له دوي څخه په عمر کې ټيټ دي او د ۴۹-۳۰ عمرونو وګړو کچه لوړيږي. ور پسـي، د وګړو هغه ګروپونه چې ۶۴-۵۰ کاله عمرونه لري، په دي دوره کې دويم ديموګرافيک امتياز هم څرګنديږي او د سپما او پانګونې کچه هم لوړيږي. دا امر ددې لامل کيږي چې د اقتصـادي پراختيا او د توليد په کچه کې د پام وړ زياتوالی رامنځته شـي. د ځينو مطالعاتو پايلې دا ښـيي چې دويم ديموګرافيک امتياز نسـبت د لومړي ديموګرافيک امتياز ته پر اقتصـادي پياوړتيا ډيرې اغيزې لري. يعني هغه وخت چې د کار په عمر کې د وګړو توليېز ار قام په لوړه کچه زياتوالی و مومي.[1]

[1] UN population division. (2013). world population prospect; the 2012 revision. New York.

## درېيم مطلب: هغه څرګندونې چې د نوؤ ځوانانو د پالیسیو لپاره دیموګرافیک بدلونونه په برخه کې بدلونونه په بر کې نیسي

پورته تحلیلونه په څرګنده توګه دا ښيي چې د افغانستان له یوه دیموګرافیک بهیر سره مخ دی چې له مخې یې د ځوانو وګړو شمیر په تیرو لسیزو کې د زیږون لوړې کچې په نتیجه کې مخ په زیاتیدو دی. دا مسـله د ځوانانو د شـمیر زیاتوالی په نامه یادیږي د ځوانانو زیاتوالی د ټولنې د ګټورتیا په ظرفیت پوري تړلې دي چې پکې فرصتونه شامل دي او په وروستیو برخو کې به تر بحث لاندې و نیول شي. په ورته وخت کې، داسـي شـواهد شـتون لري چې له مخې یې د زیږون کچه مخ په راټیټیدو ښـیي. دا بهیر د وګړو په هغو ګروپونو کې چې د زده کړو کچه یې لوړه وي او په ښـاري سـیمو کې اوسـیږي، ډیر پرمختګونه لري. پر ځوانانو باندې ټولیزي پانګونې په هرو شـرایطو کې چې وي، کولای شـي ټولنې ته اغیزه منې تمام شي. پر ځوانانو پانګونه ددې سبب کیږي چې موږ په راتلونکې کې یوه سالمه ټولنه ولرو چې پکې د بې وزلې کچه ټیټه وي ټولنیزه او اقتصادي وضعه یې ښه وي.[1]

په داسـي دیموګرافیکې شـرایطو کې یوه ټولنه کولای شـي چې له دیموګرافیک امتیاز څخه برخمنه شـي. په افغانسـتان کې موجودې پالیسـی باید د مثبتو بدلونونو په رامنځته کولو او ددې بدلونو د ګټو په زیاتوالی کې خپله اغیزه منتیا لوړه کړي. دا ګټې د وګړو په ځینو ګروپونو کې ددې لامل کیږي چې د زیږون کچه ټیټه او د واده کولو عمر کچه لوړه شـي. په ورته وخت کې په ښـارونو کې اوسـیدنه په چټکې سره مخ په زیاتیدو ده. د ښاري وګړو د نفوسو وده کابو ۴،۵ فیصدو ته رسیدلې ده.

1 Islamic republic of Afghanistan. (2011), Ministry of public health strategic plan 2011-2015. Kabul.

لکه څنګه چې په علمي پروګرام کې د نفوســو او پراختیا نړیوال کنفرانس کې ذکر شــو، د داســې پالیســیو جوړول چې له مخې وګړي په پخصــوص ځوانان او نجونې پیاوړې کیږې، حقوق يې تامین کيږې، د زيږون اړوند مراقبتونو ته يې لاسرســی زیاتیږي او د ښـځو او نجونو د پوهې کچې لوړل د بشري پراختیا لپاره ډیر زیات ګټور ثابت کیدای شي.[1]

## څلورم مطلب: په افغانستان کې ملاحظات او هغه مداخلات چې لومړيتوب ورکړل شوی دی

لکه څنګه چې د تیري لسیزې په ترڅ کې د احصایوي معلوماتو سمون په برخه کې مهمې پانګونې شوې دي لا هم زموږ پوهه د افغانستان د وګړو ټولنیزو او اقتصادي چارو په اړه بشپړه نده. هغه تحلیل چې مخکې وړاندي شــو د احصــایوي لومړنیو معلوماتو په بنســټ دي او لازمه ده چې د کره تحلیلونو پراختیا لپاره دا معلومات لا غښــتلي شــي. د ځوانانو په اړه د پالیســیو جوړولو په موخه د معلوماتو برابرول یو له هغو اســاســي عناصــرو څخه د افغانســتان ملی پراختیا ســتراتیژي يي د پوهې کچې د لوړولو لپاره څرګندوي ترڅو له مخې يي دولت و کولای شــي چې د ولایتونو او ولســوالی د ځانګړو حالتونو د څېړنې په موخه په ملي کچه بیلا بیل پروګرامونه په لاره واچوي. د قومي ګروپونو، ولایتونو او ولسوالیو د شرایطو څیړلو لپاره د یموګرافیک معلومات اړین دي. د پالیسی جوړونې ستراتیژګانې چې له مخې يي نجونو او هلکانو ته د پوهې لوړیدو فرصــتونه برابریږي، باید ځیني لاندي اســاســي موضوعګاني په بر کي ونیسي.

[1] مخکینی 29.

- د نوو ځوانانو وړتیا لوړول او ورته ددې زمینه برابرول چې مهارتونه یې لوړ شـــــي ترڅو و کولای شـــي چې انتقادي تفکر او موجودیت وضـــعیت په اړه مذاکرات ولري او خپل افکار په آزاد ډول څرګند کړی شي.
- د روغتیا، جنسي او د زیږون په اړه معلوماتو ته لاسرسی او د پوهې او نورو خدماتو د زمینو برابرول.
- ځوانانو ته د کار موندنې او ژوند پرمخ بیولو فرصتونه برابرول.
- د ځوانانو پخصوص د نجونو له حقوقو ملاتړ او ورته د ودې لازمو فرصتونو برابرول.
- د هیواد پراختیایي پروګرام کې په اړه اخیزه توګه و نډي اخیستنې ته د ځوانانو هڅول.
- د ځوانانو د حقوقو په رسمیت پیژندل په داسې ډول چې دوي ته په منصفانه توګه د ښوونې او روزنې خدمتونه او مهارتونو فرصتونه برابر شي او هغو ګروپونو باندې ډیر تمرکز وشي چې له اقتصادي او ټولنیز پلوه له محرومیت سره مخ دي.
- د زیږون یا امیدواری د کچې را ټیټول پخصوص هغه زیږون چې له ۱۸ کلنې څخه ټیټ عمر کې سرته رسیږي.
- د ښوونې او روزنې سیستم د ښوونیزو ساعاتو اوږدیدل او د اړوند پراختیا له پروسې سره د مرستې لپاره د پانګونې سمون.
- دا خدمتونه سـربیره پردې چې د زیږون یا امیدواری کچه راټیټولو کې مرســته او همکاري او همدارنګه د ښځو اوماشومانو دخوارو او روغتیا حالت ته سمون ور کول.
- دا خدمتونه سـربیره پردي چې د زیږون یا امیدواری کچه راټیټه وي، پر نورو داتکا غوره حد هم روښانوي او د یموګرافیک امتیاز باالقوه اغیزې زیاتوي.

- شواهد دا ښيي چې پر نجونو پانګونه هغه غښتلی لامل دی چې کولای شي يو نسل نه بل نسل ته د بې وزلی له ليږد څخه مخنيوی وکړي.

د اپرمختګونه له اړوند موخو سره سمون لري او دا ښيي چې د نورو پرمختګونو امکان هم شتون لري خو لاهم د نورو ګامونو اوچتولو ته اړتياشته دی. جنسي روغتيايي او زيږون او اړوند حقونه يې هغه موضوع ده چې د ځوانانو د ژوند ستره برخه جوړوي او په بيلابيلو برخو کې د ودې پرمختګ تر اغيزې لاندې راولي. د جنسي روغتيا او زيږون په برخه کې د خدماتو وړاندي کول د ټولنې لپاره يوه اړينه اړتيا ده.[1]

د ماشوم او نوو ځوانانو د روغتيا ملی ستراتيژی د زيږون يا اميدواری ترمنځ د واټن رامنځته کولو په اړه ځانګړې لارې چارې وړاندې کوي چې نه يوازې ځوا نان بلکې په په کورينو کې پريکړه کوونکي او سيمه ايېز مشران په بر کې نيسي او د نوؤ ځوانانو کړنو او زيږون روغتيا په اړه معلوماتو ته د دوی لاســرســي باندې هم اغيزه کوي. د واده د عمر لوړوالی او د زيږون د کچې راټيټول، پخصوص هغو ګروپونو ترمنځ چې عمر يي کم دا ښيي چې يادو لارو چارو ښې اغيزې درلودلې دي. له دې کبله دې لارو چارو ته بايد پراختيا ور کړل شي او ډير ټينګار بايد ورباندې وشي.

د ماشـومانو او نوؤ ځوانانو د روغتيا ملي سـتراتيژي په ښـوونيزو سـيسـتم کې د جنســي روغتيا او زيږون په اړه زده کړې د ښــوونکو د ارتباطي مشــورو او مشــوره ورکولو ګټې او هڅه کوي چې د ښوونځيو په زده کړه ييز نصاب کې د صحي زده کړو څو مضمونونه شامل کړي.

[1] Bruce j. and Bongaarts, J (2008). The new population challenge, in Laurie Mazur A pivotal Moment; population, justice, and the environmental challenge. Chapter 20. En L.M. Washington; island press.

سربيره پردې چې په دې برخه کې پرمختګونه شوي دي خو د جنسي روغتيا او زېږون په اړه زده کړو او صـــحي خدماتو کچه ډېره ټيټه ده. د عامې روغتياوزارت د ماشـــوم او نوۍ ځوانانو د روغتيا رياســت د cope خدماتي لارو چارو څخه ګټه اخلې تر څو هغو کړنو ته ســمون ورکړي چې په دې برخه کې سر ته رسيږي.

د افغان کورنيو د لاربنـــووني ټولنې په نوبنـــت ســـره د ځوانانو د پاليســـی يوه برخه و ګڼل شـــي. همدارنګه، ځوانو متشبثينو ته د پور ورکونې پروګرامونو د تطبيق امکان هم بايد په پام کې ونيول شي، وضع شوي دي قوانين او معيارونه بايد معرفي او تطبيق شي تر څو ماشومان کار ته مخه نه کړي او له هغو ځوانانو سره چې د کار په عمر کې قرار لري، مناسب چلند وشي.

لکه څنګه چې پورته ذکر شو، پاليسي بايد نجونو ته ځانګړې پاملرنه وکړي، په افغانستان کې ټولنيز او اقتصادي محروميتونه لا هم نجونې تر اغيزو لاندي راوستلي دي. دا دوه پړاويز محروميتونه ډېري نجونې تر اغيزي لاندي راولي او د دوي د پرمختګ مخه نيسي. پر نجونو د پانګونې ارزښت د پوهنې په سيستم کې څوګونې ګټې لري.

په واده او اميدواری کې د ځنډ لامل کيږي، د زيږون کچه ټيټوي او د ديموګرافيکو فرصتونو زمينه برابروي، هغه ښځې چې لوړي زده کړي کوي پر ډېرو ماشومانو د دوي د امنيت تامينولو ډېره اتکا نه کوي. دا امر کيدای شـــي د ښـــځې او خاوند تر منځ د عمر توپير او نه همغږي قدرت کم کړي او په پريکړه کولو کې د ښځو ونډه زياته کړي.دا ګټې به راتلونکې نسل ته هم وليږدول شي، ځکه هغه کسان چې وروسته وادونه کوي او ډير واک لري، ددي احتمال شته چې په خپلو ماشومانو کې داسي پانګونه وکړي چې د روغتيايي او پوهنې وضعې سمون لامل شي.

له دي کبله، د نوؤ ځوانانو پالیســیګانې او پروګرامونه باید له نجونو ســره مرســته وکړي تر څو نجونې لږ تر لږه د بلوغ تر دورې پورې په ښــوونځیو کې زده کړې وکړي، له وخت څخه مخکې وادونه او امیدوارۍ لپاره ټولنیز او اقتصــادي بدیلونه وړاندي کړي، په ماشــومتوب کې واده کولو ته د پای ټکی کیږدي، له واده شــوؤ نجونو ملاتړ وکړی او همدارنګه د هغو ځوانو نجونو اړتیاوؤ ته رسیدګې وکړي چې د لومړي ځل لپاره میندې شوي دي.

## پنځم مطلب: په افغانستان کې هغه پالیسۍ چې ملي پوښښ لري او له ځانګړو شرایطو سره سمون خوري

د نوؤ ځوانانو د پالیسیو او ستراتیژیو د پراختیا لپاره د پوهې کچې سمون باید د اجرایوي پلان یوه اړینه برخه و ګڼل شي. په او سني حال کې د پوهنې پیاوړتیا د افغانستان د ملي پراختیا ستراتیژي یوه مهمه برخه ده او دا ایجابوي چې د افغانستان دولت اړوند پروګرامونه په ملي کچه په لاره وا چوي چې د بیلابیلو ولایتونو او ولســوالیو ځانګړو شــرایطو ته پاملرنه ولري. ولایتونو او ولســوالیو شــرایطو ته رســیدګې، ټولنیز، اقتصــادي او دیموګرافیکي ســرویګانو بنســټیز ارزښــت روښــانه شــي ځکه چې دا ســـرویګانې د ولایتونو په کچه معلومات تولیدوي. ددې معلوماتو په تفکیک ســـره کیدای شـــي پراخ تحلیلونه سرته ورسیږي.

د ځوانانو پالیســګانې د ملي پراختیا دســتراتیژۍ هغه اړخونه تر پوښــښ لاندي راولي چې د ملي پراختیا پر پالیسیو راڅرخي: په دا سي حال کې چې پراختیایي پالیسي باید ملي پوښښ ولري، د هیواد شــرایط دا ایجابوي چې په یادو پالیســیو کې کې تعدیلات رامنځته شــي ترڅو د ولایتونو او ولســوالیو ځانګړو شرایطو سره سمې پلي شي. دې ته په پام سره چې د هیواد د وګړو د وضیعت په اړه معلومات نیمګړي دي، اړ تیا ده چې بشپړ او پراخ معلومات راټول شي. دا معلومات باید په ښه توګه د ولایتونو

او ولسواليو موجود وضيعت څرګند کړي تر څو د پالیسي جوړوني او پروګرامونو طرح او ارزوني پوهه لوړه شي. د پوهنې د بنسټ غښتلي کول هغو لارو چارو ته ویل کیږي چې په مرسته یې د بیلابیلو ولایتونو، ولسواليو او قومونو په اړه معلومات راټولیږي.[1]

د ملي پراختیا ستراتیژی او د ځوانانو او نوؤ ځوانانو پالیسي ګانې د پوهنې د بنسټ پیاوړي کولو یو اړین امر ګڼي. له دې کبله، د نوؤ ځوانانو په اړه دا لارې چارې له یو لړ تعدیلاتو سره یو ځای سرته رسیږي. له بلې خوا، په حاضر حال کې چې د وګړو په هغو سیمو کې چې د زیږون یا امیدوارۍ کچه ژر راټیټه شوې ده، یو بل باندې د اتکا نسبتونه به پر هغو ګروپونو متمرکز وي چې د کار په عمر کې قرار لري. دا امر به ددې سبب شي چې د دیموګرافیک امتیاز اغیزه د وګړو په دې ګروپونو کې لوړه شي. دا بیلګې په ډیرو هغو هیوادونو کې چې د وګړو یا نفوسو انتقالی بهیر یې تجربه کړی دي، هم تر سترګو شوي دي.

د وګړو په ځینو برخو کې بدلونونه رامنځته کیږي او په تدریجې ډول نورو برخو ته پراخیږي تر څو ټول نفوس ته ورسیږي. دا سناریو او پالیسي کولای شي تناوبي بڼه ولري او تطبیق یې باید له هغو سیمو پیل شي چې د زیږون کچه پکې په چټکې سره را ټیټه شوې ده.[2]

دا امر موږ سره مرسته کوي تر څو د وګړو ځینو انتقالي ګټو ته پدې ګروپونو کې تحقق ورکړو او د وګړو پدې سیمو کې د انتقالي بهیر د چټکتیا په موخه لازم شرایط برابر کړو. ور پسې به ددې بهیر پراختیا د وګړو نورو سیمو ته و غځیږي. ښایي دا بهیرونه نورو سیمو ته په چټکتیا او منظم ډول و

[1] UNFPA. (2007). Framework for action on adolescent and young people. New York.

[2] Islamic republic of Afghanistan. (2010). Afghanistan national development strategy plan mind 2010- mid 2013, volume l. Kabul; ministry of finance Department of policy.

غځيږي ځکه چې تر هغه وخت پوري به ددې پاليسی تطبيق لپاره مناسب شرايط برابر شي. د معلوماتو خپرول کولای شي د بدلونونو دې بهير ته چټکتيا وروبخي له دي کبله په دي برخه کې بايد ژر تر ژر اقدام وشـــي. سـربيره پردې، په لومړنيو ډلو کي د پراختيا پاليســي د تطبيق په ترڅ کې هغه تجربې تر لاسه کيږي چې له مخې يي راتلونکو کړنو او پروګرامونو ته سمون وررکولای شو تر څو غوره پايلې ترلاسه شي.

د داسي لارو چارو ټاکل کولای شي چې د پاليسي په تطبيق کې د واټن مخه ونيسي او دا ټکی ځکه ډير مهم دی چې د وګړو د عمر په جوړښت کې بدلون د ټولنې ټولو برخو ته پراخيږي او د پاليسيو په تطبيق کې د واټن رامنځته کيدل ددې ســـبب کيږي چې د ديموګرافيک امتياز ټول اړخونه تحقق و نه مومې. د اجرايوي ستراتيژيو د تناوب يوه ګټه دا ده چې په هغو سيمو کې چې زيربنا، بشري سرچينې او امنيت شتون لري، کار په چټکتيا سره پر مخ ځي.[1]

کله چې نورو سـيمو ته د پرو ګرامونو د پراختيدو شـرايط برابريږي، هغه وخت به موږ تجربه تر لاسه کړې وي. په ډيرو مواردو کې ښايي د لوړو پروګرامونو تطبيق لپاره د اړ تيا وړ مالي او بشري منابع شـتون ونلري خو ددي امکان به وي چې اړوند پروګرامونه پکې پلې شــي. پداســي شـرايطو کې ښــايي د کار د پرمختګ جريان په تدريجي او يو ډول سـرته ورســيږي. پدې موده کې کولای شــو د پروګرامونو د پراختيا غوښتنه وکړو او پر نوؤ ځوانانو متمرکزې پانګونې ته په سمه توګه لومړيتوب ورکړو. دا امر موږ سـره مرسـته کوي ترڅو د بوديجه کچه لوړه او د ملي او سـيمه ييزو پروګرامونو لپاره تخنيکي معلومات راټول کړو.[2]

---

[1] Kelley, A, and Schmidt, (1995).

[2] مخکينی 19.

## شپږم مطلب: د افغانستان د بعضو سیمو د بدلونونو ځینې نمونې

ددې لپاره چې د وګړو د بیلابیلو ســــکتورونو بدلونو نه څرګند شـــي، د ټولنیزو، اقتصـــادي او دیموګرافیکو ســــرویګانو له مخې د هغو وګړو په اړه چې عمر یې ۱۰-۲۴ کاله دی په کابل، بامیان، دایکندي او غور ولایتونو کې سروې تر سره شوه او همدارنګه ددې ګروپونو فیصدي په ملی کچه د خطرونو او زیانونو ملی سروې له مخې تجزیه او تحلیل شوه.

د نوؤ ځوانانو ګروپونو د نفوســو مقایســوي تحلیل دا ښــیي چې بیلابیل ولایتونه د وګړو د عمر جوړښت د بدلون په مختلف پړاو کې قرار لري د ۱۵-۲۴ کلونو ګروپ په فیصدۍ کې بدلون ته نسبت نورو ګروپونو ته ډیر په زړه پوري دي ځکه چې پدې ګروپ کې هغه وګړي شــــامل دي چې نوي د کار ســـاحې ته راغلي دي. د ۱۵-۲۴ کلونو ګروپ په کابل کې ډیر تمرکز لري. بامیان، دایکندي او غور پدې مورد کې دویم مقام لري. دا څلور ولایتونه، سربیره پردې چې د ۱۵-۲۴ عمر لرونکو وګړو تر منځ ډیر نفوس لري، د عمر په جوړښت کې د بدلون له نظره هم نسبت نورو ولایتونو ته لوړ پړاو کې قرار لري.[1]

د عمر ددې ګروپ فیصدي په ټولو ولایتونو کې له ٪۲۰ لوړه ده. پداسي حال کې چې دا حد دهیواد په کچه د خطرونو او زیانونو ســـروې له مخې ۱۸،۹ فیصـــدســـره برابر دی. دا ضـــروري بدلونونه اجرایوي ســـتراتیژیو ته تناوبي بڼه ورکول ښــیي او دا ایجابوي چې د پالیســـي او اړوند پروګرامونه د سیمې د جغرافیایي ځانګړتیاوو یا ټولنیزو ګروپونو په اساس سرته رسیږي.

ســربیره پردې، ددې امکان هم شــته چې په کابل کې د ۲۰-۲۴ کلونو ګروپ کې هغه کډوال شــامل وي چې د بیلابیلو عواملو له امله لکه دندو یا امنیتي ستونزو له امله کابل کې میشت شوي وي. په هر

[1] Knowles, J, and Behrman, j, (2003).

صورت، په ولایتونو کې ددې نمونو نه مطابقت دا ایجابوي چې د ځانګړو شرایطو پالیسی ته له هرې یوي سیمي سره تطابق ورکړل شي.[1]

## اووم مطلب: په افغانستان کې د خطرونو او ملي زيانونو ارزونه

افغانستان د وګړو پيژندیې له پلوه لا هم په هغه پړاو کې قرار لري چې د زيږون کچه پکې لوړه ده. د ميندو او ماشومانو د مړينې معلومات شتون نلري، نو د وګړو د شاخصونو د حدود او جريانونو ټاکل يو ســـتونزمن کار دی. د زيږون د کچې بدلون د يوه ټاکلي مســـير په لور په حرکت کې نده او کافي معلومات هم زموږ په اختيار کې نشته چې د ديمو ګرافيک امتياز په اړه سناريو څرګنده او موده پيش بيني کړو.

زموږ په موخه بايد د مساوات او بشر حقونو د رعايتولو په برخه کې دا وي چې ځينې مهم مسايل لکه ښـوونه او روزنه او د جنســي روغتيا او زيږون د خدمتونو فرصــتونه له هغو ځوانانو، ښــځو او کورنيو سره پرته له دې چې د دوي د او سيدو ځای په نظر کې ونيول شي، شريک کړو. له دې کبله اړينه ده چې دې خدمتونو ته د ټولو و ګړو لاسرسی لوړ شي. که چيرې دا خدمتونه په ځينو برخو کې د شته خنډونو، د زيربنا کمښت يا نا امني له امله وروسته تر سره شي نو ددې امکان شته چې د ټولنې ځينې برخې د وګړو انتقالي پروسه له نورو ژر وپيمايي.[2]

دا موضـوع ګاڼي بايد د سياســي ملاتړ او مدني ټولنو همکاريو راجلبولو په موخه څرګندې شــي. دا پروسه کولای شو داسې خلاصه کړو:

---

[1] Urdal, H. (2012). A clash of generation? Youth bulge

[2] UNFPA. (2012). towards realizing the full potential of adolescents and youth. New York.

- پداسي حال کې چې پر نوؤ ځوانانو متمرکزې پالیسی باید ملی پوښښ ولري او ځیني د پام وړ مداخلات باید په ښـاري سـیمو او ټاکلو ولسـوالیو کې په پرمختللی ډول سـرته ورسـیږي ترڅو ګټې یې نورو ته څرګندې شي.
- مداخلات او پروګرامونه پر د څو سکتورونو په کچه سرته رسیږي او موضوعګانې د لاندې مواردو په ګډون په بر کې و نیسي: پوهه، د عوایدو تر لاسه کولو مهارتونه، جنسي روغتیا او امیدواري، له مخدره تو کو څخه له ګټې اخیســـتنې او له ناســـمو کړنو مخنیوي، کارمندنو او داسي نور. همدا راز د سکتورونو تر منځ باید لا ډیره همغږي شتون ولري او دا هغږي باید د غوښتنو او د مرستندویه پیاوړتیا له لارې شونې وي.
- د ښـاري ژوند د پراختیا ګټې، که چیري پروګرامونه پر دغو درې موضـوعګانو و څرخي نو دیو بل د پیاوړتیا سبب کیږي او له ډیرې چټکتیا او دلا غوره پایلو تر لاسه کولو په موخه ګټه تري واخیستل شي.
- پر ځوانانو د پانګونې ګټې، د هغې ستراتیژي یوې برخې په توګه چې د بې وزلې کچه راټیټوي او د نوؤ ځوانانو د ځانګړو پالیسیو منفردو پایلو څخه د استفادې مخنیوی کوي.
- د سیمه ییز حکومت په جوړ ښت کې دې ځوانانو ځانګړو پالیسیو اجزاوې شاملې کړای شي. پدې کار سره کولای شو چې مداخلي او د بدلون پروګرامونه له ځانګړو سیمه ییزو شرایطو سره سم پیدا کړو. دا امر زموږ سره د پالیسی د پوښښ په پراخولو کې مرسته کوي کوي.

دا ټولې هڅې حقوقو ته د تحقق ورکولو په موخه سرته رسیږي او د وګړو په ژوند کې د سمون په رامنځته کولو کې د پام وړ مرســـته کوي. دا پرو ګرامونه په ټیټ عمر کې د امیدواری او دمیندو او

ماشـــومانو د مړينې کچې په راټيټولو کې مرســـته کوي او همدارنګه  د زيږون کچه هم راټيټوي او د نفوسو په شمير کې د زياتوالي او د پراختيا پروسې ټينګښت کې مرسته کوي.[1]

[1] Bruce j. and Bongaarts, J (2008). The new population challenge, in Laurie Mazur A pivotal Moment; population, justice, and the environmental challenge. Chapter 20. En L.M. Washington; island press.

# ځلورم څپرکی

## د نسل د تنظیم موخې

په هر ملک او ټولنه کې د نســـل د تنظیم د موخو په اړوند د کار پوهانو له نظره بېلابېل نظرونه شتون لري، زموږ په ټولنه کې هم لاندې ټکي دنسل د تنظیم د موخو او سترو اهدافو په توګه د يادنې وړ دي.

1. د پرله پسی زيږون له کبله د ميندو او ماشومانو د مړينې کمښت.
2. د هغه ماشوم صحت ته پاملرنه چې شيدې خوری.
3. د هغو ميندو صحت ته پاملرنه چې شيدې ور کوي.
4. د جنين د سقط کمښت او هغو عواملو چې ترينه پيدا کيږي.
5. د ماشومانو لازمي روزنې او پالنې ته پاملرنه.
6. جامعی ته قوی نسل وړاندی شی اوسالمه ټولنه ولرو.
7. دالله په زمکه داسلامی امت قوة زيات شی اودالله نظام حاکم کړی.
8. په نتيجه کی به دنړی دیر مختګ او امنيت سبب شی.

## لومړی مبحث: ځانګړی او فامیلی موخي

لکه څرنګه چي د نسل تنظیم د نسل تنظیم مختلف اهداف لري چي زندګي په هره مرحله کي او په هر ځای کي یو مهم او ځانګړې موخې لري چي دغه موخي ددې محبث په جریان کي تفصـــیل ســـره واضح کیږي.

### لومړی مطلب:  د ماشوم روغتیا ته پاملرنه

روغتیا دانســـان په زندګی یو اهم رکن دی چه کله انســـان روغ او صـــحت مند وی نو هغه ټول حقوق او وجایب سه دالله حق وی یا دبنده وی اواهمدارنګه الله (ج )چه کوم مقا صدو لپاره انسـان پیدا کړي هغه  په ښه تو ګه په  ځاي کولی شي نوهر سه له مخي  دروغتیا مفهوم او اقسام با ید څرګند شی

**الف) د روغتیا عمومي مفهوم:**

روغتیا عبارت ده له بدني، عقلي، ټولنیز، روحي او نفســـي بشـــپړه ســـوکاله حالت څخه. روغتیا یوازې د جســـمي او بدني ناروغیو نشـــتوالي ته نه ویل کیږي، بلکې روغتیا د بدن ښـــکاره او پټو ټولو اړخونو او عمومي سوکالي ته ویل کیږي.

**ب) بدني او جسمي روغتیا:**

بدني او جســـمي روغتیا هغه ده چي له ښـــکاره ناروغیو څخه د انســـان جســـم، غړي او حواس په ســـلامت وي. دا ډول روغتیا هغه وخت تر لاســـه کیږي چې یو انســـان د ژوندانه له روغتیایي کړووړو څخه پیروي وکړي.

**ج) عقلي او نفسي روغتیا:**

عقلي او نفسي روغتيا هغه ده چې يو انسان فکري سلامتيا ولري، مثبت او خيريه چارو باندې ښه تصـرف ولري، اسـلامي ثقافت او کلتور ته اهتمام ولري او په حسـنه اخلاقو او عاطفي باندې متصـف ووسي.

**د) روحي روغتيا:**

روحي روغتيا يعنې الله (ج) ته نږدېوالى، د ضمير راحت، د زړه ډاډمنتوب، له نفس څخه رضايت او باطني هدوء او نرمښت څخه وي. داسې چې يو انسان راضي او ډاډه کيږي، ضمير او وجدان يې خوشاله کيږي، روغتيا او عافيت تر لاسه کوي او د ژوند هدف تحقق مومي او هغه درک کوي.

**هـ) انجابي روغتيا (د اميندواري او جنسي اړيکو روغتيا):**

انجابي روغتيا يعنې د تناسـلي جهاز او په هغه پورې اړوند د ټولو دندو او عملياتو څخه بشـپړه بدني، عقلي، ټولنيز او روحي سوکالي ته ويل کيږي.

انجابي روغتيا يوازې له ظاهري ناروغۍ او عقامت څخه سـلامتي نه ده، بلکې انجابي روغتيا اهتمام لري تر څو انسان په مرضيه او مامون ډول له جنسي حيات او زناشويي څخه په تمتع او خوند اخيستو سره قدرت ومومي.

همداشـان، انجابي روغتيا دا هم کېداى شـي چې ښـځه او ميړه په خپله رضـا او رغبت د اسـلامي شريعت په رڼا کې د خپلې کورنۍ او نسل په تنظيم باندې اقدام وکړي.[1]

**ز) د روغتيايي ژوندانه د اسلوبو عناصر او مکونات:**

د روغتيايي ژوندانه عناصر او مکونات عبارت دي له:

- سالم او پاک چاپيريال او بيئه

---

[1] دليل قضايا الصحة الإنجابية للمراهقين والشباب من منظور اسلامى/مركز الدولى الإسلامى للدراسات و البحوث السكانية- جامعة الأزهر قاهرة 2012م .

- شخصي د کور او عمومي پاکوالی
- سالمه تغذیه
- د وزن کنټرول
- له دخانیات، مخدرات او مسکراتو څخه لري والی
- د اصاباتي پیښو مخنیوی او پر هغو کنټرول
- په لومړۍ پړاو کې د ناروغی کشف او تشخیص او له الکترونیکي، کیمیایي او نورو توکو سره مامون او سهي تعامل.

له عنف او زورزیاتي څخه لري والی اسلام د جسمي روغتیا په برخه کې یوازې په ډوډۍ، څښلو او کالیو باندې اکتفاء نه ده کړي، بلکې دې ته یي هم پام کړی تر څو جسم له ټولو ناروغیو څخه خالي واوسي، د وقایې او وقایوي طب په برخه کې یي سهي کړنلاره وضع کړې ده تر څو د هغه له لارې د جسمي روغتیا لوړوپوړیو ته پرې ورسیږو. سربیره پر دې، اسلامي شریعت موږ پر یو شمیر اوامرو او نواهیو باندې مکلف کړي یو، د بېلګې په توګه، طهارات، عبادات، له محرماتو څخه اجتنبات، چې د دې چارو رعایتول داسې حکمت لري چې هغه د انسان په جسمي روغتیا کې مهم رول ادا کوي.

په اسلام کې د وقایوي طب یوه بله بېلګه دا ده چې اودس فرض کړل شوی دی او د لمانځه له شرطونو څخه ګڼل کیږي، چې د الله تعالی د فرض په ځای کېدو سربیره، اعصابو ته ارامتیا وربښي او د غضب اور خاموشوي، جسم ته نشاط ورکوي او د بدن نظافت پرې حاصلیږي او د جراثیمو لارې لکه غوږ، سترګې، پزه، لاسونه او پښې پاکي ساتي او همداشان هغه څوک چې تل اودس کوي هغوی له جلدي ناروغیو څخه هم په امان کې وي.

همداشان اسلام د جسم د روغتیا او د نظافت او نشاطت د ساتنې د رعایت په خاطر په ځینو حالاتو کې واجب او په ځینو حالاتو کې سنت ګرځولی دی، ځکه چې د غسل په تر سره کولو سره قاذورات او

ګرد او غبار چې پر جسم باندې کيني، لري کيږي او د جسم مسامات خلاصيږي او هغه ترشحات چې د خولو له کبله رامنځته شوي وي، لري کيږي او په پايله کې جسم نشيط او صحت مند کيږي.[1]

همداشان، د جنابت غسل واجب ده تر څو هغه ترشحات چې د خولو له کبله رامنځته کيږي، پاک شي او د مساماتو اسندادونه خلاص او د جسم نشاط تر لاسه شي، خو که چيرته د جنابت غسل تر سره نشي، نو انسان کسل او تنبل وي او په روحي او جسمي ناروغيو باندې اخته کيږي.

دوهم :ماشومان په زياترو ټولنو په ځانګړې توګه د مسلمانانو په منځ کې له لوړ ارزښت او مقام څخه برخمن دي. چې په دې اړه کولای شو له ديني، اقتصادي، ټولنيزو، اورواني او د ماشومانو د ژوند د دوام د اړوندو مسايلو له ارزښتونو څخه يادونه وکړوپه خا صه توګه دما شوم صحت ته پا ملرنه ځکه که ماشوم صحت مند وي دالله په زمکه داسلامی امت دقوت سبب ګرځي که ماشوم صحت مند نه وي نو هغه ستري دندي سرته نشي رسولي چه الله انسان مکلف ګرځولي دخپل ځان دين اوټولني په وړاندي او دما شوم صحت لپاره په ړومبني مر حله کي دمو ر شيدی ګټل کيژي ځکه چيد مور شيدې د ماشوم د صحت لپاره پوره خواړه دي، ماشوم له هر راز رنځونو او ستونزو څخه ژغوري، ماشوم ته د شيدو ور کولو موده قرآن پوره دوه کاله ښودلې ده، لکه څرنګه چې فرمايي: ((وَالْوَالِدَاتُ يُرْضِعْنَ أَوْلَادَهُنَّ حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ)).[2] .

ژباړه. مور ګانې بايد خپلو بچوته دوه بشپړ کلونه شيدې ور کړي.نو دقران څخه معلومه شوه چه ما شوم ته پوره د وه کا له شيدي ور کول شي په دې موده کې حمل د ماشوم صحت ته تاوان رسوي، او د هغه د شيدو په حق کې کمښت را منځ ته کيږي.

---

[1] مخکینی اثر، ۲۳۱.
[2]- البقره / 233.

## دوهم مطلب:  کورنۍ مصلحت ته پاملرنه

په ټولو تشـــريعي احکامو کې اصـــل مصـــلحت او اطاعت دی، لکه څرنګه چې عزالدين بن عبد السلام وايي: «الشريعة كلها مصلحة اما جلب المنفعة واما دفع المضرة». شريعت ټول مصلحت دی، يا د منفعت د لاســـته راو ړلو په چوکاټ کې ياهم د ضـــــرر د مخنوي په چوکاټ کې، نو که چېرې د ماشوم، ميندو، کورنۍ او ټولنې مصلحت د کورنۍ په تنظيم او زيږون ترمنځ په فاصله کې نغښتی وي، په دې صـورت کې د کورنۍ تنظيم د شـريعت په مقتضـای باندې عمل دی، نه خلاف د شـريعت، ځکه چې کله هم له صريح نص سره ټکر نه رامنځ ته کيږي.

۱. د ښځې سره د اولاد د زيږون مصلحت

د ښځې روغتيا ته په پاملرني سره، لازمه ده چې هر نارينه د اولاد زيږون په اړوند له خپلې ښځې سره مصلحت او مشوره وکړي، ځکه چې د اميندوارۍ څخه مخکې بايد ځينی مهم او اساسی مسايل په نظر کې ولرې، لکه د ښځې جسمی روغتيا، د ښځې فکری او دماغي تياري او د اميندوارۍ پر مهال د اټکل شــوو ناروغيو او خطرونو شــتون. ځکه کله چې ښــځه فکری او دماغی تياري له اميندوارۍ او زيږون په اړوند ونه لري او يا هم د جســـمی ناروغيو ســـره مخ وی، په دی صـــورت کې ښـــځه او راتلونکي ماشوم د ډېرو خطرناکو ستونځو او ناروغيو حتی د زيږون پر مهال د مور يا ماشوم د مړينی له خطر سره مخ کوی، ځکه نو د اميندوارۍ څخه مخکې لومړي له ښځې سره مصلحت لازم او اړين دی.

۲. د کورنۍ شرايطو اړوند مسايل

په کورنۍ کې د نســـل  تنظيم او له هغه ســـره تړلي مســـايل لکه  زيږون، تربيه، روغتيا، تعليم، تحصيل او نور يو له با ارزښته او د کورنۍ بنسټيز مسايل ګڼل کيږي، چې  د دی ټولو مسئلو په اړوند پريکړه کول ناسـم عمل دی، فلهذا د دی مسـايلو په اړوند پريکړه د د کورنۍ مصـلحت او مشـورى په

اســـاس لازم او پرځای ګڼل کیږی. ځکه نو لازمه او اړینه ده چې د نســـل د تنظیم مســـئله د موجودو شـــرایطو په نظر کې نیولو ســـره په نظر کې ونیول شـــی، ځکه چې د امیندواري په دوران کې میندی لازمو خوړو، طبی معایناتو، ارام او اســتراحت ته جدی اړتیا لری، د دی تر څنګ میندی د امیندواری او زیږون پر مهال د غیر اټکل شوو ستونزو او ناروغیو له خطر سره مخ وی، علاوه پر دی اقتصادی حالت، او د خاوند مسافری او نور ټول مسایل د نسل د تنظیم سره مستقیمه اړیکه لری، ځکه نو په دی ټولو موضوعاتو کې د کورنۍ مصلحت یو اساسی شرط دی، د مصلحت پر بنأ د نسل د تنظیم موضوع د دی سبب ګرځي تر څو د ولادت ترمنځ واټن، د مور او ماشوم روغتیایی حالت، د ماشومانو تربیه، تعلیم او تحصیل او د کورنۍ نور مسؤلیتونه په نیک او احسن ډول تر سره شی، ځکه نو په نتیجه کې ویلای شو چې د فامیلی موخو په برخه کې د نسل د تنظیم په اړوند د خاوند او میرمنی مصلحت یو له اړینو او اساسی مسایلو څخه دی.

## دوهم مبحث: ملي موخي

